انجینیر امین اللّه (امین)

# پښتو د
# کانکور لپاره

ترتیب کوونکی : انجینیر امین الله (امین)




شماره تماس: ۰۷۴۹۵۶۷۶۵۹

# د پـښـتـو او پـښـتـنـو پـيـزنـدنـه

پښتانه يو لرغونی آريايي توکم ( قوم ) او پښتو لرغونی آريايي ژبه ده. پښتون ولس لرغونی تاريخی پس منظر لری او د آريايي توکم دغه قبيله له نن څه لږ و ډير 3400 کاله وړاندی د آريايانو په مذهبی سرودونو ( رګويدا ) او بيا وروسته د 1000 ق م شاو خواکی په ( اوستا ) کی ياده شوی ده.

سربيره پر دی يونانی تاريخ پوهانو، لکه هيرودوټ هم د پښتون قوم او دهغوی د ټاټوبی ( پکتيکا ) يادونه کوی. هغسی چی 3400 کاله وړاندی د پښتون ولس شتون جوت دی، ژبه به يی خامخا موجوده وه، نو د پښتو ژبی لرغونتياهم 3400 کاله وړاندی زمانی ته رسيږی.

يو شمير کسانو دپښتنو په اړه د هغوی د «سامی» توکم نظريه وړکړې وه او دوی يی له آره (بنی اسرائيل) ګڼلی وو، خو دغه نظريه يوازی يوه افسانوي اوله حقيقته کرې نظريه وه.

دنړی پوهانو د خپلو څيړنو په رڼاکی دا موضوع پوده څيرلې ده، پښتو يې هندو آريايي يا ايندو – جرمن ژبو په کتار کی يوه پخوانی ژبه ګڼلی ده. پښتانه يی هم د آريايي توکم مربوط ولس ګڼلی دی.

د ارکيالوژيکی (لرغونپوهنيزی) پلټنی او څيړنی ښودلی دی چی افغانستان دلړ غونو آريايي قومونو زانګو دی.

رابرټ ليچ او رودولف هورنل پښتو دهندو اروپايي يا هندو اريايي ژبو په ختيځه ياې هندی څانګې پوری اړونده ګڼلی وه.

شپلي ډيور او ماکس ميولر پښتو دهندو اروپايي يا هندو اريايي ژبو په لويديځه څانګې پوری اړونده ګڼلی وه.

نوميالی ختيځ پوه جيمزډارمستټر په دی نظر دی چي پښتو له زند يا اوستا سره نږدی اړيکی لری.

جرمنی ژبپوه سبيستيان ها ينه په دی نظر دی چی پښتو دجوړښت او دلغاتو د پانګی دواړو په برخه کی له بلی هری ژبی څخه زيات له اوستا سره نږدی ده.

پوهاند عبدالحی حبيبی (د پښتو ادبياتو تاريخ) په لومړی ټوک کی له اوستا (زند) او سنسکريت (ريګويدا) سره يی د پښتو ژبی هر اړخيزه پرتله کړی ده او دی پايلی ته رسيدلی دی چی پښتو ژبه له اصلی اروپايي ژبی څخه را جلا شوی ژبه ده چی له اوستا او سنسکريت سره اړيکی لړيږ

انتولوجی (انتوګرافی): د بشر د توکم او نژاد په باب علمی څيړنو ته ويل کيږی.

ارکيالوجی (ارکيالوژی – لرغونپوهنه): د نړی د لرغونی تاريخ په باب، دلرغونو انسانانو، لرغونو تمدنونو او لرغونو موجوداتو په اړه څيړنی کوی.

د ارکيالوجی د علم غرض: د ولسونو د لرغونی تاريخ او لرغونو نښو نښانو په باب څيړنی ده.

تهيه و ترتيب:		استاد انجينير امين الله (امين)

# ادبیات

د ادب کلمه له (هذب) نه اخیستل شوی چې (هذب) د بې عیبه معنالری همدارنګه (هذب) د مغی ونې لپاره استعمالیده چې څانګې او ښاخونه به يې پرې شول او صاف به شوه.

د ادب کلمه په تهذیب هم معنا شوی ادب په اصطلاح کی هغه پوهه او ریاضیت دی چې انسان ته فضلیت و رپه برخه کوی او په خپله وینا او بیان کی له تیروتنی څخه ساتی.

په اوسنی څیړنو کی ادب یو ژبنی هنر دی چې واقعیتونه په انځورونو کی وړاندی کوی، ادب واقعیتونه مخامخ او نیغ په نیغه نه بیانوی بلکې په ښکلی او احساس پاروونکی شکل یی وړاندی کوی.

ادبیات دوی مهمی برخی لری: تخلیقی ادبیات او تحقیقی ادبیات

**تخلیقی یا هنری ادبیات:** هغو ادبی اثارو ته ویل کیږی لکه شعر او هنری نثر.

**تحقیقی ادبیات:** د ادبی آثارو د ماهیت، منشاء، تکامل او څرنګوالی په باره کی څیړنی ته ویل کیږی.

**ادبی ژانرونه:** ژانر (GENRE) فرانسوی کلمه ده چې د نوع یا ډول معنا لری. ادبی آثار د شکل او جوړښت له مخی د یوه یا بل ژانر په ډله کی راځی.

په اروپا کی پخوا دغه ژانرونه منل شوی وو:

اپیک، لیریک او ډراماتیک

**اپیک:** حماسی ته وایی، په نظم او نثر دواړو کی راتلای شی، په اپیک کی پخوا دوه ژانرونه ډیر مشهور وو لکه تراژیدی او کمیدی، د اپیک ځینی نامتو نمو نی دادی: د هومر ایلیاد او اودیسی، د هند مها بهاراته د فردوسی شاهنامه، د پښتو آدم خان درخانی او مومن خان اوشیرینو.

**لیریک:** لاتینی کلمه ده، لایرد موسیقی یو ډول تاریزه آله وه چې سندری به ورسره ویل کیدې، لیریک د غنایی اشعارو لپاره کارول کیږی چې دغه اشعار د تخیل، هیجان او ترنم څرګندی نښی له ځان سره لری.

# د ادبپوهنی څانګی

ادبپوهنه دری څانګی لری: ادبی تیوری، ادبی کره کتنه او ادبی تاریخ

**1 – ادبی تیوری:** د ادبی آثارو پرمنشاء، ماهیت، تکامل، ارزښت او د ارزونی پر میتور او لارو بحث کوی، د ادب تیوری د ادبپوهنی د نورو څانګو لپاره اصول او لاری چاری برابروی.

**2 – ادبی کره کتنه:** پرادبی اثارو قضاوت کوی د ادبی آثارو ښه او بد ښکلی او بد رنګه اړخونه رابرسیره کوی. په ادبی کره کتنه کی باید له شخصی مینی، کینی، توهین او سپکاوی نه ډډه وشی او له علمی قضاوت او علمی ژبی څخه کار واخیستل شی.

**3 – ادبی تاریخ:** هغه پوهنه ده چې د هنری ادبیاتو د پیدایښت او ودی جریان له تاریخی شرایطو سره د ارتباط په لړ کی څیړی.

**تهیه و ترتیب:** **استاد انجینیر امین الله (امین)**



انجینیر امین الله (امین)

# پـښتو ادبـی دوری

پښتو ادبی دوری د پوهانو لخوا په دری دورو ویشل شوی دی: لرغونی دوره، منځنی (کلاسیک) دوره، اوسنی دوره

## 1- لـرغونـی دوره:

د پښتو ادبیاتو لرغونی دوره له دویمی هجری پیړی څخه پیلیږی او د یوولسمی پیړی تر لومړیو کلونو پوری دوام کوی. د دی دوری آثار د پښتو په دریو مرکزونو (غور، د کسی غر او ملتان) کی رامنځته شوی دی.

**لـومړی مـرکز (غور):** د غور له پاچاهی کورنیو څخه یوه دغور سوری شاهی کورنی وه چی په تاریخونو کی دشنسبانیانو په نامه مشهوره وه.

د دی کورنی یو مشرنیکه شنسب (شین اسپ) نویمده چی د پلار نوم یی خرنګ ؤ، شنسب د حضرت علی (رض) په زمانه کی مسلمان شوی او دغور پاچا منل شوی ؤ.

دشنسب زوی امیر پولاد ؤ د امیر پولاد د پاچاهی مرکز د غور په مندیش کی ؤ د امیر پولاد تر مړینی وروسته دهغه زوی امیر کروړ دغور په مندیش کی په 139 هـ کی پاچا شو،

امیر کروړ د خپلی پاچاهی په دوران کی دوه مرکزونه درلودل چی یو یی مندیش او بل یی زمیندار و امیر کروړ یو عادل پاچا و په پښتو یی شعرونه هم ویلی دی په 154 هـ کی د پوشنج په جګړو کی مړ شو او پر ځای یی دده زوی امیر ناصر پاچا شو.

امیر کروړ چی د خپلو سوبو په پایله کی کوم شعر ویلی دی هغه پټی خزانی تر موږ رارسولی دی.

زه یم زمری پر دی نړی له ما اتل نشته    پر هند و سند و پر تخار او پر کابل نشته

بل په زابل نشته له ما اتل نشته    غشی د من می ځی بریښنا پر میر څمنو باندی

په ژوبله یو نم یرغالم پر تښتیدونو باندی    پر ماتیدونو باندی له ما اتل نشته

د امیر کروړ سوری دغه ویاړنه د پښتو تر ټولو پخوانی شعر دی چی د اسلامی عصر په دویمه هجری پیړی کی ویل شوی دی، د شکلی جوړښت له مخی لرغونو اریایی سندرو ته نږدیوالی لری.

پر دی شعر د نورو ژبو تاثیرات نه لیدل کیږی او د پښتو سوچه کلمات یی استعمال کړی دی.

**دویـم مـرکز (د کسی غر):** د کسی غر د سلیمان د غرو لمنی دی هغه آثارچی د دکسی غرپه لمنو کی ایجاد شوی له دریمی هجری پیړی نه پیل او تر پنځمی پیړی پوری رسیږی.

په دغه مرکز کی نوماند شخصیت شیخ بیټنی دی چی د ژوند زمانه یی د دریمی هجری پیړی شاوخوا ټاکل کیدای شی، همدارنګه په دریمه او څلورمه هجری پیړی کی دوه نور شاعران (شیخ اسماعیل) او (خرښبون) دی چی په پټه خزانه او تذکره الاولیا کی یی د شعر نمونی راغلی دی، کله چی خرښبون خپل کور او کلی پریږدی او راونیږی نو شیخ اسماعیل یی په جدایی کی دا پارکی وایی.

که یون دی یون دی مخکی بیلتون دی له کسی غره څخه ځی خرښبون دی

که وروره وروره خرښبونه وروره    تا چی بیلتون کړی زما ویر ته ګوره

**تهیه و ترتیب:**    **استاد انجینیر امین الله (امین)**

خرښبون يې پځواب کې داناره له خولې باسي:

| | |
|---|---|
| بیلتانه ناره مې وسوه په کور باندې | نه پوهیږم چې به څه وي پیښ په وړاندې |
| له خپلوانو به بیلږم په سرو سترګو | دواړه سترګې مې په وینو دي ژړاندې |

**دريم مرکز (ملتان)**: پښتانه د اسلام په دوو لومړ نیو پیړیو کې د سلیمان د غرو له لمنو څخه کوچیدلي او د سند او پنجاب لور ته تللي دي.

د پنجاب په غربي برخو ملتان کې له دغو پښتنو څخه شیخ حمید لودي د 370 هـ په شاوخوا کې له ملتان نه نیولې تر لغمان پورې سیمو حکمران ؤ، همدغه سړی د څلورمې هجري پیړۍ په دویمه نیمایي کې د لودیانو د حکمرانۍ بنسټ کیښود.

د شیخ حمید پسې د ده زوی نصر او بیایې لمسی داود د ملتان دلودي کورنۍ حکمرانان وو.

د ملتان په لودي کورنۍ کې دوه تنه شاعران تیر شوي چې یو دشیخ حمید زوی نصر لودي او بل یې وراره شیخ رضي دی.

په دریمه هجري پیړۍ کې په پښتنو کې د نثر لیکل او ژباړه پیل شوه. ابو محمد هاشم سرواني (223 – 297 هـ) د بست په سروان کې زیږیدلی او بیا (294 هـ) کال عراق ته تللی او په بغداد کې یې دخپل استاد ابن خلاد سره ډیر عمر تیر کړی دی. هغه یو عربي شعریې په پښتو ژباړلی چې داسې پیلیږي:

| | |
|---|---|
| ژبه هم ښه وینا کاندې چې يې وینه | دخاوند په لاس کې زر او درهمونه |

دا په پښتو کې د ژباړې پیل دی.

په پنځمه هجري پیړۍ کې په پښتو ادب کې قصیده (بوللّه) را منځته شوه چې لومړنۍ قصیده ویونکی شیخ اسعد سوري دی چې د امیر محمد سوري هم مهاله و.

بل قصیده ویونکی شاعر ښکارندوی غوري دی چې په غزني او بست کې اوسیدلی او د سلطان شهاب الدین غوري معاصر و.

په شپږمه هجري پیړۍ کې د مینې او محبت سندرې ویل شوي دي چې یوه نمونه یې دشیخ تمین کاکړ یوه عشقي سندره ده.

په (612 هـ) کې سلیمان ماکو تذکره الاولیا کتاب پنوم نثري کتاب لیکلی په دې کتاب کې د اولیاوو او ځینو پښتنو شاعرانو غرشین او قطب الدین بختیار کاکي احوال راکوي.

د اوومې هجري پیړۍ په دریمه لسیزه کې عرفاني افکار پښتو ادب ته لاره پیداکوي او شیخ متي دخپلو اشعارو کتاب چې (دخدای مینه) نومیږي بشپړوي.

د اوومې هجري پیړۍ په دویمه لسیزه کې (612 هـ) د مقاومت حماسي موضوع په پښتو شعرکې پیلیږي چې په دغه وخت کې موږ د بابا هوتک یوه سندره لرو، بابا هوتک د بارو زوی په (661 هـ) د کلات په اتغر کې زیږیدلی دخپل قوم مشرؤ په (740 هـ) کال وفات شوی دی.

د اتمې هجري پیړۍ په دویمه نیمایي کې غزل او مثنوي په پښتو ادب کې را څرګند یږي چې د اکبر زمیندار له خوا ویل شوي دي.

**تهيه و ترتيب: استاد انجينير امين الله (امين)**

په نهمه هجری پیړی کی په پښتو شاعری کی رباعی پیلیږی چی د لومړنیو رباعیو ویونکی خلیل خان نیازی او سلطان بهلول لودی دی، سلطان بهلول (850 – 894 هـ) په ډهلی کی افغان پاچا ؤ په دربار کی به یی شاعران او عالمان پالل پخپله هم شاعرؤ، خلیل خان نیازی د ده درار شاعرؤ.

د همدی نهمی هجری پیړی په جریان کی پښتو ادب ته (ساقی نامه) هم راعله ساقی نامه دخمریه اشعارو یو ډول دی چی د ساقی، جام ، ګل، مل او صراحی صفتونه پکی بیانیږی دا ډول اشعار د مثنوی په قالب کی ویل کیدل. د پښتو لومړنی ساقی نامه زرغون خان نورزی ویلی ده. زرغون خان د نورزاد له نورزو څخه دی په (912 هـ) د ده پښتو دیوان بشپړ شوی دی اوپه (921 هـ) په دیراوت کی وفات شوی دی.

د پښتو ادب په لرغونی دوره کی یو شمیر میرمنی شاعرانی هم تیری شوی دی لکه زرغونه کاکړه، میرمن رابعه، میرمن نیکبخته .....

په دغه دوره کی حکایتی اثار د دوست محمد کاکړ یو حکایتی اثر چی (غرغښت نامه) نومیږی او په (926 هـ) کال یی په ژوب کی نظم کړی معلوم دی. د غرغښت نامی حکایات په پښتو مثنوی نظم شوی ؤ.

په لسمه هجری پیړی کی په پښتو شعر کی عرفانی مضامین پراختیا مومی دغه وخت په هندوستان کی دری شاعران پیژنو چی دری واړه صوفیان، عابدات، او زاهدان وو دا شاعران ، شیخ عیسی مشوانی، شیخ علی سرور لودی، شیخ بوشتان بریخ دی.
شیخ عیسی مشوانی دشیرشاه سوری معاصر و.

د یوولسمی پیړی په لومړیو کی په کندهار کی شیخ محمد صالح الکوزی یو عارف شاعر تیر شوی.

## پښتو ادبیاتو دویمه (منځنی یا کلاسیکه) تاریخی دوره:

دپښتو ادبیاتو دویمه دوره چی د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنی او کلاسیکه دوره هم ورته ویلای شو، د لسمی هجری پیری له د لومړی ادبی دوری په پرتله د دی دوری یوه ستره ځانګړنه دا ده چی موږ یی بشپړ او مکمل ادبی او فرهنګی اثار په لاس کی لرو.
په دی دوره کی له ګاونډیانو ژبو سره د پښتو ادبیاتو تړون هم پراختیا مومی.

د پښتو ادبیاتو دویمه دوره له روښانی غورځنګه پیل او همداسی پسی په اخوند درویزه او د ده پر پیروانو، بیا د خوشحال خټک، رحمان بابا، هوتکیانو او د احمد شاهی پیر تر نورو فکری او فرهنګی بهیرونو رارسیږی.

## د روښانیانو پړاو:

د روښانیانو او اخوند درویزه دواړو په اثارو کی عرفان (تصوف) او د عرفانی لارو د بنسټو نو په خپلولو سره ځان الهی ذات ته نژدی کول، د نفس تزکیه د دی ډلو له خوا په لیکل شوو، ژباړل شوو او پنځیدلو اثارو کی لیدل کیږی. د اهدافو همدا ورته والی موږ دی ته اړ باسی چی د دغو دواړو ډلو اثار په یوه پړاو کی وڅیړو او د دویمی ادبی دوری د لومړی پړاو نوم پری کښیږدو. ځانګړی لار غوره کړی ده.

مقصود المؤمنین، صراط التوحید، فخرالطالبین، حالنامه، د پښتو رسم الخط د بایزید روښان نور اثار دی چی په همدی دوره کی لیکل شوی دی.
د دی پړاو په منثورو اثارو کی پر نورو سربیره د علی محمد مخلص او ارزانی روښانی رسالی د یادولو وړ دی.

د دی پړاو په اشعارو کی غزلی، قصیدی، رباعی، مثنوی، قطعی، مربع او مخمس اشعار پیدا کیږی. په دی شعرونو کی مربع او مخمس داسی شعری انواع دی چی په لومړی ادبی دوره کی یی ځرک نشو ایستلای. د دی پړاو زیاتره لیکوال او شاعران له څو ژبو لکه پارسی، پښتو، عربی او هندی سره اشنا دی، په دغو لیکوالو کی ځینو پر پښتو سربیره په هندی، پارسی او عربی ژبو هم اثار لیکلی دی چی له نورو فرهنګونو سره دپښتو لیکوالو تړاو ځنی ځرګند یږی.

تهیه و ترتیب: استاد انجنیر امین الله (امین)



انجنیر امین الله (امین)

ارزانی خویشکی، واصل روښانی، خواجه محمد، کریمداد بنګښ، علی محمد مخلص، دولت لوانی، قادر داد، اخوند درویزه، محمد حلیم، عبدالسلام، اخوند احمد، بابو جان، شیخ محمد سعید او په لسګونو نور د دی پراو شاعران او لیکوالان بلل کیږی.

## خوشحال خان ختک او د ده لارویانو پړاو:

خوشحال ختک پښتو ژبی او ادب ته په نظم او نثر کی هغه خه ورکړی چی تر ده د مخه او وروسته یی ښایی ساری ډیر لږ وګورو.

خوشحال خان د خپل هنر او خپلی ژبی د لفظی او معنوی بدایتوب لپاره د ګاونډیو ژبو له ادبی زمینو څخه پوره ګټه واخیسته، پښتو شعریی د شکل او شعری ژانرونو له پلوه بډای کړ او په موضوعی لحاظ یی داسی څه پری نه ښودل چی شعر یی پکی نه وی ویلی.

ده دفارسی ژبی ټول قالبونه لکه: (مثنوی، قصیده، رباعی، مخمس او نور) لفظی او معنوی صنایع په پښتو ادب کی راوستل. د مضمون له پلوه د ده په اثارو کی ډیر زیاد نوښتونه لیدل کیږی چی د هغه وخت په شرایطو کی ساری نه لری.

په دی پړاو کی د پښتو ادب ځینی اړخونه د پښتو له تولنیز ژوند څخه رنګ اخلی. د پښتو غزل د ختیځ غزل له پیژندنی سره سم تولی هنری ښیګی خپلی کړی او پښتو بوللی هم دغوری دوری د بوللو رنګ او خواند ومومند.

د ختیځ ادب داستانونو هم پښتو ادب ته لارپیدا کړه، د پارسی او عربی ځینی اثار په پښتو وژباړل شول.

دا عصر یوازی د نظم د نهضت عصر نه دی، بلکی دنثر لمن هم په دی دوره کی پراختیا موندلی ده او د پیر روښان د مسجع نثر له خصوصیاتو څخه را اوښتی دی.

د افکارو ژورتیا، دتخیل رنګینی او دقابونو تنوع د منځنی ادبی دوری غوره ځانګړنی ګڼل کیږی. خوشحال تر دری سوو زیات اثار درلودل.

د زمانی له تاراکه دهغه د راپاته شوو اثارو په ډله کی د شعرونو له کلیاتو، فراقنامی، دستار نامی، بازنامی (منثور او منظومه) ځانګړی سبک را منځته کړ.

د ده د کورنی یو شمی نورو شاعرانو د دغه سبک پیروی کړی ده.
اشراف خان هجری، عبدالقادر ختک، سکندر خاان ختک، صدر خان ختک، ګوهر خان ختک، بی بی حلیمه ختک، افضل خان ختک، قلندر، اشراف خلیل او یو شمیر نور د خوشحال خان ختک د سبک پیروان دی.

## د رحمان بابا پړاو:

په یوو لسمه پیړی کی د راپورته شوو شاعرانو په ډله کی یوهم عبدالرحمان مومند و چی پښتانه له ډیری مینی او زیاتی عقیدی ورته (بابا) وای او په پښتنی ولسونو کی د رحمان بابا په نامه مشهور دی.

رحمان بابا د یو ځانګړی سبک خاوند دی. د ده سبک د خپلو ځانګړتیاوو له مخی په ولسی او فرهنګی حلقو کی ډیر شهرت او محبوبیت و موند او د دولسمی، دیارلسمی او څوارلسمی پیړی شاعران په ده پسی روان شول.

د رحمان بابا سبک پیچلتیا نه لری، د دی پړاو شاعران زیاتره عالمان وو. د خپلی سیمی د ژبو له ادبیاتو سره یی اشنایی در لوده، له خپلی مورنی ژبی پرته یی په فارسی او هندی هم شاعری کوله.

د حمان بابا د سبک په پیروانو کی د یونس خیبری، میهن خلیل، معزالله مومند، اخوند گدا، حافظ الپوری، نجیب سر بندی، عبدالعظیم سواتی، میا نعیم متی زی او یو شمیر نورو نومونه یا دولای شو.

### د هوتکیانو پړاو:

په کندهار کی د پښتو د ملی دولت جوړید ل او په شاهی دربار کی د پښتو د ودی د زمینی را منځته کیدل د دویمی دوری په را وروسته پړاو کی تاکلی دریځ لری.

د پښتو او فارسی ژبو یو شمیر اثار دغه مهال منځته را غلی دی چی د ځینو هغو په ایجاد او تالیف کی هوتکی پاچاهانو لاس درلودلی دی.
د میرویس نیکه مور، نازوانا، زوی، شاه حسین او لور، زینبه د پښتو ژبی شاعران وو، ریدی خان، حافظ نور محمد، داود هوتک، د پټی خزانی لیکوال محمد هوتک، یار محمد هوتک، ملا محمد یونس توخی، بابوجان، ملا نور محمد غلجی او په لسګونو نور د دی دوری و تلی شاعران او لیکوال دی.

(پټه خزانه) د دی مهال یو ارزښتمن کتاب دی.

په دی پړاو کی د پښتو د لیکلی ادب ځینی موضوعات له فولکلور څخه اخستل شوی دی. لکه د (شها او ګلان) نکل او یا د (اوبش او سوی) کیسه چی د پښتو د ولسی شعر په قالب کی یی نظم کړی دی.

د یوولسمی پیری په پیل او د دولسمی پیری په لومړیو کی په هند کی د پارسی ژبی یو شمیر اوسیدونکو شاعرانو هغه نوی شعر ته لار و موندله چی دلسمی هجری پیری په پیل کی را منځته شوی وه.

دی سبک د هندی سبک په نامه شهرت و موند.

دی سبک د یوولسمی پیری په شاوخواکی پښتو نخوا او د افغانستان سیمو ته هم لاره و موندله، همد غه مهال هندی سبک پښتو ادب ته لاره پیدا کړه چی په پښتو شاعری کی دهندی سبک بنسټ ایښودونکی حمید مومند دی.
حمید د شعر ویلو ډیره ښه وړتیا درلوده او د تازه مضمون په پیدا کولو ښه ماهرو. خوا هنریی بیا دا وچی د هندی سبک بنسټونه یی په اعتدالی بڼه خپل کړی وو. د ده شاعری د پښتو ژبی لفظی او معنوی ځانګړتیاوی نه دی بایللی.

حسین، قلندر، خانګل خلیل، کامګار خټک، دوست محمد، علی خان مامنزی، حمدالله کاکا خیل، سلیم، محمدی صاحب زاده، بیدل هشنغزی، کاظم خان شیدا، محمد بیاض، نور محمد نوری افغان او یو شمیر تور په پښتو ادب کی د هندی سبک پیروان دی چی نژدی هر یو یی د دیوان خاوند شاعر بللی شی.

### د پښتو ادبیاتو د دویمی دوری وروستی پړاو:

د دی پړاو مخکښ احمدشاه بابا چی د پښتو او فارسی ژبو شاعران او لیکوال یی روزلی دی. خپله هم شاعر و، په پښتو ژبه تری د شعرونو یو دیوان پاتی دی، د کورنی له غړو څخه یی تیمورشاه او شاه شجاع په پښتو شاعری کړی دی.

په دربار کی یی وکیل الدوله، عبدالله جان پوپلزی هم د پښتو ژبی شاعر و.
پیر محمد کاکړ د احمدشاه بابا د دربار یو بل شاعر و، دی. پیر محمد کاکړ د (معرفت الافغانی) په نامه د پښتو ژبی یو ګرامر هم لیکلی دی چی د پښتو نثر ښی نمونی پکی خوندی دی.
شمس الدین کاکړ د هغه د سبک له پیروانو له ډلی څخه و.

حافظ گل محمد مرغزی د احمدشاهی دوران یو بل شاعر و، نوموړی له احمدشاه بابا سره په لشکری سفرونو کی ملګری و. مرغزی احمد شاعی شاهنامه لیکلی ده، په شاهنامه کی د احمد شاه بابا د (16) کلونو ځینی پیښی بیان شوی دی.

په دی پیر کی یو شمیر نور شاعران هم تیر شوی چی حبیب الله، ملا علم اپریدی، ابوالقاسم او یو شمیر نوریی د پښتو دیوانونو خاوندان وو.

## د پښتو ادب معاصره دوره:

د پښتو ادب تاریخ د دریمی یا معاصری دوری د پلامی په هکله بیلابیل نظرونه لرو: ځینی د دی ادبی دوری پیل هند ته د انګریزانو د راتګ وخت ګڼی او ځینی نور زموږ پر هیواد باندی د انګریزانو لومړنی یرغل (1839 میلادی) د پښتو د معاصر ادب پیلامه بللی ده.
ځینو څیړونکو د نولسمی میلادی پیری په اویایمو کلونو کی د پښتو د هنری – ادبی نثر پیدایښت د پښتو د معاصری ادبی دوری پیلامه بولی. همدارنګه ځینو څیړونکو د پښتو د معاصر ادب د ودی او پرمختیا لو مړنی پړاو د امیر حبیب الله خان په عصر کی سراج الاخبار را منځته کیدل بولی.
خو د پښتو ادب زیاتره څیړونکی په دی خبره یوه خوله دی، چی د پښتو د معاصر ادب د را منځته کیدو لپاره د نولسمی پیری په اویا یمو کلونو کی لاری چاری او شرایط برابر شوی دی.

دا و خت زموږ په هیواد کی د امیر شیر علی خان دویمی پلا واکمنی سره برابر ده. امیر شیر علی خان چی په 1286 هجری قمری ( 1869 میلادی) کال د هند امبالی له کنفرانس څخه راوګرځید، همدغه مهال امیر شیر علی خان خپلی ملی ژبی پښتو ته ځانګړی پاملرنه و کړه او په دی لړ کی چی هغه کوم لومړی ګام پورته کړ، هغه د هیواد د ملکی ادارو نومونه، عسکری رتبی، اصطلاحات او قوماندی په پښتو ژبه اړول وو. د امیر شیر علی خان د فرمان له مخی د عسکری قواعدو کتاب قاضی عبدالقادر په پښتو وژباړه او چاپ شو.
د واک پر سرکورنیو جګړو او بهرنیو یرغلونه دا بهیریو څه تکنی کړ او بیا د حبیب الله د واکمنی پر مهال ډیر ګرندی پیل او پرمخ لاړ ادبی څیړونکو د پښتو ادب معاصره دوره، چی د نولسمی میلادی پیری د اویایمی لسیزی څخه پیل او تر ننه رارسیری په دی لاندی بیلوبیلو پړاوونو ویشلی ده:

## لومړی پړاو (1870 – 1901 میلادی):

د پښتو د معاصری ادبی دوری لومړی پړاو په زمانی لحاظ د نولسمی عیسوی پیری له اویا یمو کلونو څخه پیل او د شلمی پیری تر پیلامی یا د امیر حبیب الله خان د واکمن کیدو تر وخته رارسیری.
په دغه پړاو کی د پښتو د معاصر ادب د رامنځته کیدو دلارو چارو د پیلامی او ادامی په اړوند د تولو ادبی هلو ځلو تاریخی بهیر شامل دی.
دغه ادبی پړاو له هغه وخت او مهال سره سمون خوری چی پښتون ولس له نوی عصری ژوند سره آشنا او له نویو عصری مشکلاتو او ربړو سره لاس په ګریوان شوی دی.

د دغه پړاو په نومیالیو لیکوالو او شاعرانو کی د نور محمد نوری افغانی (د غنچه روه لیکوال)، ملا فیض محمد اخونزاد (د روضه المجاهدین ناظم) ملا عبدالباقی کندهاری (د تبین الواجبات ناظم) مولوی احمد (د آدم خان درخانی، ګنج پښتو لیکوال) میا حسیب ګل کاکا خیل (د نقش نګین ناول ژباړن)، میا محمد یوسف کاکاخیل (د توبه النصوح ناول ژباړن) قاضی میر احمد شاه رضوانی (د بهارستان افغانی لیکوال او مدون) او نورو نومونه د بیلګی په توګه یادولی شو.

## دویم پړاو:

د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره) لیکوال کاندید اکادمیسن محمد صدیق روهی دی پړاوته د روښانتیا پړاو ویلی دی. موږ د دغه پړاو د پښتو ادبیاتو د ودی او پرمختیا د بهیر څرنګوالی په دوو برخو کی مطالعه کوو:

## الف – په سراجیه عصر کې د پښتو ادب وده او پرمختیا (1901 – 1919 میلادی) :

امیر عبدالرحمان خان په 1901 میلادی کال و مړ او پر ځای یې زوی حبیب الله خان د واک پر ګدی کښیناست. نو موړی چې د پلار پر خلاف د نرم طبیعت خاوند او د سوکاله ژوند پلوی و، واک ته درسیدو په لومړیو کې یې هغو کسانو ته چې د ده د پلار د واکمنی پر مهال د هغه د استبدادی چار چلند له مخې له هیواد نه بهر او د ننه په هیواد کې له یوی سیمی نه بلی ته کوچیدلی او فرار شوی وو، د عفوی اعلان وکړ.
له دی امله زیات شمیر نومیالی شخصیتونه، لکه محمود طرزی، غلام محی الدین افغان او نور له هیواد او خلکو سره د ژوری مینی په احساس او ملی روحیه له نویو مترقی افکارو سره یو ځای خپل هیواد ته د خدمت په هیله کابل ته راغلل.

هغوی ته په ټولنیزو، سیاسی او دولتی چارو کې د خدمت اوسیاسی فرهنګی هلو ځلو موقع په لاس ورغله او د غسی په هیواد کې د روښانفکری د زړی زرغون او د هراړخیزی ټولنیزی پرمختیا لپاره لاری چاری برابری شوی. سراج الاخبار جریده رامنځته او په کې پښتو ته ځای ورکړل شو،

همدارنګه په (1903 م) کال کې د حبیبی نوی عصری ښوونځی تاسیس او پښتو په کې د یو مضمون په توګه تدریس کیدله. د دی دوری نومیالی لیکوال: عبدالهادی داوی، غلام محی الدین افغان، مولوی صالح محمد انوری.

## ب – په امانی عصر کې د پښتو ادب وده او پراختیا:

په امانی دوره (1298 – 1307 ش) کې د پښتو ژبی د ودی او پرمختیا لپاره حکومت لازمه، پاملرنه وکړه. سربیره پر دی چې په معارف کې یې د تدریس او په مطبوعاتو کې د خپریدو ونده زیاته شوه، د هیواد لومړنی اساسی قانون هم په پښتو ولیکل شو. امان الله خان دا احساس کړی وه، چې د یوملت ژوند بې د ملی ژبی له درلودلو نا ممکن دی، نو هڅه یې و کړه چې پښتو ژبی ته په رسمی توګه ملی حیثیت ورکړی.

د همدی هڅو په لړ کې یې د پوهنی وزارت په چوکاټ کې د پښتو ژبی د پالنی او روزنی یو مرکز جوړ کړ، دی مرکز ته یې (مرکه د پښتو) نوم کیښود.
په همدغه وخت کې په پښتو نخوا کې د خان عبدالغفار خان په مشری د (انجمن اصلاح الافاغنه) په نوم یو مرکز جوړ شو، چې په خپل وخت کې یې د پښتو ادب په دوره کې د یادونی وړ ونده در لوده.

په همد غه وختونو کې په پښتو نخوا کې د پښتو دهنری نثر د ودی او پرمختیا لپاره لاری چاری برابری او ډیر نومیالی لیکوال رامنځته شول، لکه: سید راحت زاخیلی، حمزه شینواری، عبدالاکبر خان اکبر، ماستر عبدالکریم او نور.

## دریم پړاو:

له کورنی اړودړ نه وروسته د پښتو ادب وده او پرمختیا:
په هیواد کې د کورنی اړودوړ (1307 – 1308 لمریز) نه راوروسته د محمد نادر خان د واکمنی په مهال (1310 لمریز) په کابل کې (ادبی انجمن) او په (1311 لمریز) کال په کندهار کې د (پښتو ادبی انجمن) جوړ شو. کابل ادبی انجمن د (کابل) په نامه او کندهار ادبی انجمن د (پښتو) په نامه مجله خپروله.

وروسته دا دواړه انجمنونه یو ځای شول او په 1316 لمریز کال ورڅخه (پښتو ټولنه) جوړه شوه.

د غی علمی ادبی ټولنی د پښتو ژبی په وده او پرمختیا او د لیکوالو په روزنه کې ډیره ارزښتمنه ونده درلوده. ددی دوری په نومیالیو ادبیاتو کې د عبدالحی حبیبی، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت، عبدالرحمان پژواک، عبدالرووف بینوا، صدیق الله ریښتین، عبدالشکور رشاد، برهان الدین کشککی، محمد موسی شفیق، سیلاب ساپی، محمد جان فنا، جیلانی جلالی او نورو نومونه د بیلګی په توګه یادولی شو
د روانی لمریزی پیړی په دریمه لسیزه (1324 لمریز کال) کې د ویښ زلمیانو د سیاسی ډلی او وروسته دشاه محمود

خان د صدارت د دوری دموکراسی اوبیا وریسی د 1343 لمریز کال د نوی اساسی قانون په رڼا کی را منځته شوی دموکراسی آزادو مطبوعاتو ته لاره برابره کړه، چې د پښتو ژبې د ادبیاتو د ایجاد او ودی پربهیر یې ډیره ارزښتمنه اغیزه لرلی ده.

وروسته بیا د محمد داوود خان جمهوری نظام رامنځته کیدل (1352 لمریز) او بیا د وروستیو پیښو دی هری یوی د پښتو ادب په پرمختیایی بهیر د کتنی وړ اغیزی لرلی دی. زیات لیکوالان او شاعران رامنځته شوی او د منثور او منظوم ادب د بیلابیلو ډولونه په لیکلو کی یی پوره او کره تجربی کړی دی.
اوس د پښتو ادب پر مختیایی بهیر په لازم ګرندیتوب سره پرمخ روان دی.

پښتو چاپی او غږیزو رسنیو کی په ملی او نړیواله پراخه کچه خپرونی لری. په افغانستان، پښتو نخوا او د نړی په نورو هیوادونو کی زیاتی دولتی او آزادی فرهنګی اداری د پښتو ژبی د ودی او پرمختیا لپاره کار کوی. زیات شمیر لیکوال او شاعران په خپلو ادبی او فرهنګی فعالیتونو بوخت، پښتو ژبه او ادب د پرمختیا په حال کی دی.

## پښتو ولسي ادبيات

ولسی ادبیات د یو ملت د فولکلوری میراثونو یوه ډیره مهمه برخه ده.
پښتو ولسی ادبیات زموږ د غرونو، رغونو، کیږدیو، کورونو، جونګړو، کلیو، دیرواو حجرو د غږونو، هیلو او ارمانونو انګازه ده، له همدی کبله ولسی ادبیات د یوملت د هیلو او ارمانونو د رازونو ساتونکی ګڼل شوی دی.

ادبیات په دوو عامو څانګو ویشل کیږی:
لیکلی یا تحریری ادبیات او نالیکلی یا ولسی او شفاهی ادبیات

### لیکلی ادبیات:

په لیکلی ادب کی هغه لیکلی او دیوانی ادبیات راځی چې وخت په وخت د ځانګړو لیکوالو یا شاعرانو او ناظمانو په قلم لیکل شوی او په دیوانی او کتابی بڼه تر موږه رارسیدلی دی.

### نالیکلی یا شفاهی ادبیات:

شفاهی یا ولسی ادبیات دهغه ولس غږ دی چې له لیک لوست څخه لیری پاتی شوی دی او دغه سندری چی په حقیقت کی د خلکو سندری دی او د ولس ادبیات دی سینه په سینه په شفاهی بڼه د پښتنو د تارخی ولسی میراث په توګه تر دی دمه رارسیدلی او یوه برخه یی د راټولوونکو او د فولکلور د څیړونکو له خوا راټوله شوی ده.

### ولسی ادبیات په عمومی توګه په دوو برخو ویشل کیږی:

لومړی برخه یی د خلکو سندری (منظوم ادب) او دویمه برخه یی د خلکو روایات، امثال (متلونه) افسانی او نور (منثور ادب) تشکیلوی.

انګریزی مستشرق راورټی ډیر پخوا د پښتو سندرو په باب ویلی وو: (پښتانه که څه هم ورځپانی او خپرونی نه لری مګرهغه ساده او عامیانه اشعار او بدلی چې په عام ډول د پښتنو د هری طبقی له خوا ویل شوی، د دی تاریخ او ورځپانی بلل کیدای شی)

څیړونکو د پښتو د ولسی ادب منظومه برخه هم په دوو برخو ویشلی ده: یوه برخه یی (علمی سندری) او بله برخه یی (ځانګړی یا خاصی سندری) دی.

د علمی سندری ویناوال څرګند نه دی او په ټول ولس پوری اړه لری. پدی سندرو کی بیلا بیلی برخی شاملی دی: د میندو سندری (اللو اللو، پیشو – پیشو مه راځه د غرو پلانکی جان داسی ویده دی لکه ګوډی د رنجو) ، منظوم

چیستانونه، و ماشومانو سندرې، د وړو مشاعرې، کسې، ولویانو سندرې، د اتڼ نارې، بابولالې، لندی یا ټپې، سروکې، منظوم متلونه، د هوتکو نارې، کاکړې (یا د کاکړو غاړې) ساندې او نور..

د ځانګړې یا خاصې سندرې وېناوال څرګند دي او هغه ولسي شاعران دي، په ځانګړو سندرو کې دغه برخې راځي: مقامونه، چاربیتې، بدلې ، بګټۍ، لوبې، کیسې او داستانونه او نور...

د پښتو په ولسي سندرو کې چاربیتې ځانګړی مقام لري. چاربیتې په بیلابیلو تاریخي، حماسي دیني، عشقي او نورو موضوعګانو کې ویل شوي دي. تاریخي او حماسي چاربیتې په دغه لړ کې ځانګړې تاریخي ارزښت لري او په حقیقت کې د تاریخ لپاره ترې مواد برابریږي.

نومیالی فرانسوي ختیځ پوه ډار مستتر وایي چې چاربیته د پښتنو یو لیکلی تاریخ دی، د دوی د جنګونو او غزاګانو تاریخ په چاربیتو کې نغښتی دی.

فرانسوي جیمز ډار مستیتر د افغان انګلیس د جګړو چار بیتي خوندي کړي دي.

همدارنګه یو زیات شمیر ولسي سندرې په (پښتو سندرې)، (تور بریښ)، (ولسي سندرې) او نورو آثارو کې خوندي شوي دي.

د (ډکې غزا) په نوم د افغان – انګلیس د دریمې جګړې یا د خپلواکۍ د جګړې یوه مشهوره چاربیته د ولسي نامتو شاعر لالپوري شریف لخوا ویل شوې ده.

په ملي هنداره نومي فولکلوریک منثور اثرکې د دغو ولسي پښتني نکلونو ځینې بیلګې اروانباد محمد ګل نوري خوندي کړې دي لکه: فتح خان اورابیا، ښادی او بیبو، مرد او نامرد، زبزبانه ښاپیرې، موسی جان او ولي جان (یا موسی خان او ګلمکۍ) مومن خان اوشیرینو، جلات خان او شمایله، ملاعباس او ګلبشره، ظریف خان او مابۍ، خشکیار او شاترینه، قطب خان او نازو، دلی او شهو او آدم خان او درخانۍ.

**فولکلور :** یوه لاتیني کلمه ده چې فولک (خلکو یا ولس) او لور (پیژندنې او پوهنې) څخه جوړه ده. له همدې کبله فولکلور ته ولسي پوهه هم وایي، فولکلور په خپله ځولۍ کې د یو ولس دودونه، رواجونه او عنعنې، انګیرنې او نظرونه، ولسي ادبیات او نور ډیر ولسي میراثونه رانغاړي.

# د پښتو د نثر مخینه (تاریخچه)

نثر یوه عربي کلمه ده، په لغت کې شیندلو او تیتولو ته وایي، اصطلاحا هغه وینا یا معنا داره لیکنه ده، چې له وزن، قافیې او ردیف څخه آزاده وي.
جوته ده چې د ژبې اساس په نثر ایښودل شوی دی، خو د لیکنې اثارو له مخې د نظم تاریخ تر نثر لرغونی دی.
د لیک له پیداکیدو د مخه په حافظه کې د یو شمیر موضوعګانو ساتل د نثر په پرتله په نظم کې اسانه وو.
د آریایي ولس شاعرانو به ټل خپل دیني، تولنیز، جنګي او حماسي اشعار او موضوعګانې په منظوم ډول لیکلې.
د لاس ته راغلو بیلګو له مخې د نظم پیل په 139 هـ کې د امیر کروړ له یو نظم شوی دی. کیدای شي پښتو نظم تر دې هم لرغونی وي.
د پښتو ژبې لومړنی نثر د محمد هاشم سرواني کتاب د (سالو وږمه) دی.
دا کتاب ابوهاشم ابن زید سرواني په دریمه هجري پیړۍ کې د عربي ژبې د فصاحت او بلاغت په باب کښلی، خوله بده مرغه د دغه کتاب کومه نمونه په لاس کې نشته.
له ابو محمد هاشم نه وروسته د پښتو په نثر لیکونکو کې، چې د چا نامه یادولای شو، هغه د بارک خان صابزي ماکو زوی سلیمان ماکو دی.
سلیمان ماکو تر شعر څخه په نثر ښې لیکنې کولای شوې. دی یو ګرځنده سړی و. د خپلې زمانې مشهور اولیاء،

روحانی او ادبی کسانو احوال، وینا او اشعار یی په (تذکره الاولیاء) نومی اثر کی را غونډ کړی.
د پښتو نثر تر لاسه شوی نمونه په اوومی هجری پیړی کی د سلیمان ماکو (تذکره الاولیاء) د کتاب یو څو پانی دی.
تر دی را وروسته په لسمه پیړی کی د پښتو نثر دوه بهیرونه را منځته کیږی.
یو د مسجع نثر را منځته کیدل دی چی د پښتنو ملی، سیاسی تصوفی او ادبی مشر بایزید روښان (926 – 985 هـ ق) یی بنسټ کیښود او خپل کتاب خیرالبیان یی پری و کښو.
بل د پښتو طبیعی او روان نثر، چی د بایزید روښان مرید، ارزانی په خپلو آثارو کی روان نثر لیکلو ته دوام ورکړ او د مسجع نثر لاره یی خپله نه کړه.
تر دوی وروسته د خوشحال بابا نثری لیکنی ته را رسیږو.
له یو لسمی هجری پیړی نه وروسته د پښتو نثر لمن پراخه شوی ده د دی دوری لوی علمبردار او لاربنود خوشحال خان خټک دی.
ددی دوری د پښتو نثر کتابونو کی د خوشحال خان د بیاض پرنثرونو سربیره د هغه (دستار نامه) د عبدالقادر خان خټک (ګلدسته) د افضل خان خټک (تاریخ مرصع) او (عیار دانش) د ګوهر خان خټک ژباړلی سیرت (قلب السیر) او نورو نومونه د یادونی وړ دی. دا کتابونه په ساده او روان پښتو نثر لیکل شوی دی.

وروسته د هوتکو د واکمنی په دوران کی پښتو نثر لیکنی ډیر پرمختک کړی دی. د ملانور محمد غلجی (نافع المسلمین) په مسجع نثر او د محمد هوتک (پټه خزانه) په ساده روان نثر د دی دوری د نثر مشهور کتابونه دی

د احمد شاه بابا د واکمنی په مهال هم پښتو نثر وده او پرمختیا موندلی ده. د پیر محمد کاکړ (معرفت الافغانی) او د خان علوم (د احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرحه) د عبدالله (فتاوای احمد شاهی) په همدغه دوره کی لیکل شوی کتابونه دی.
د پښتو نثر اوسنی دوره چی له (1300 هـ ل) څخه را شروع کیږی او تر اوسه پوری رارسیږی د پښتو نثر د ښه توب، ډیر والی، نوښت او پراختیا له پلوه بدایه دوره ده.
د دی ډول نثری اثارو په لړ کی د بیلګی په تو ګه د نور محمد نوری افغانی (غونچه روه) « 1280 هـ ق تالیف» مولوی احمد د (ګنج پښتو) او (آدم خان درخانی) د قاضی میر احمدشاه رضوانی د (بهارستان افغانی) او (شکرستان افغانی) د میا حسیب ګل کاکا خیل ژباړلی ناول (نقش نګین) د منشی احمد جان د (هغه دغه) او د (قصه خانی ګپ) یا دولی شو.

په افغانستان کی ددی دوری د نثر پاخه لیکونکی:
مولوی عبدالواسع کندهاری، مولوی صالح محمد، عبدالهادی داوی، محمد ګل مومند او نور د یادولو وړ دی. د پښتو د معاصر او اوسنی نثر د سرلارو لیکوالو په ډله کی د پوهاند عبدالشکور رشاد او نورو نومونه هم د یادولو وړ دی.

دوی نه یوازی ډیر اثرونه لیکلی، بلکی د پښتو د ښه او سپیڅلی نثر لپاره یی هم ډیر خدمت کړی دی.

د بیلګی په ډول د خادم له نثری اثارو څخه (خیالی دنیا)، (پښتونولی)، (نوی ژوندون)، د مرحوم الفت له اثارو څخه (بله ډیوه)، (غوره نثرونه) (لوړ خیالونه او ژور فکرونه)، د ارواښاد بینوا (د زړه خواله)، او د پوهاند رښتین له نثری اثارو څخه (هند سفر)، (د فکر پلوشی) او نور یادولای شو.

## د پښتو نثر ډولونه

نثر د لیکنی د طرز له مخی په دریو سترو ډولونو ویشل کیږی.

**1 – ساده یا مرسل نثر:** هغه نثر دی چی لفظی او معنوی صنایع پکی نه وی کاورل شوی.

**2 – فنی نثر:** چی لیکوال ورسره خپل احساسات او عواطف هم ملګری کوی، یا په بله وینا د مطالبو د افادی لپاره له تخیلی خواک څخه هم کار اخلی.

**3 – ساده ولسی نثر:** چې کټ مټ د خلکو په ژبه ، چې څنګه ویل کیږی، هغسی لیکل کیږی.

**ادبپوهانو د پښتو پخوانی نثرونه په دری ډولونو ویشلی دی:**

**الف – متکلف نثرونه:** دا ډول نثرونه د باسواده قشر (لیکوالو) له خوا د عربی او دری ژبو تر اغیز لاندی لیکل شوی دی ددی نثر ډیره غوره تر لاسه شوی بیلګه دی سلیمان ماکو د تذکره الاولیا (612 هـ ق شاوخوا) د کتاب نثر دی.

**ب – مسجع یا قافیه وال نثر:** په دی ډول نثرونو کی لیکوالو وزن لرونکی او مسجع کلمی د شعر د قافیو په څیر کارولی وی، د دی ډول نثر ډیری ښی پخوانی نموني په لسمه هجری پیړی کی لیکل شوی د بایزید روښان (خیرالبیان) اوو د اخوند درویزه (مخزن الاسلام) کتابونه دی.

**ج – ساده او روان نثر:** په دی ډول نثر کی نه د مسج نثر په څیر سجع او نثر لرونکی کلمی لیدل کیږی او نه پکی د متکلفو نثرونو په څیر لفظی کږ کیچ او پیچلتیا ښکاری بلکی لیکوالو یی کوښښ کړی چی د خلکو محاوری ته نږدی نثر ولیکی، د دی ډول نثر ډیره ښه بیلګه د خوشحال خان خټک لیکلی اثر (دستارنامه) «1076 هـ ق تالیف» ده.

## د معنا او محتوا له مخی د نثری آثارو ډولونه

په پښتو ژبه کی د محتوا او موضوع له مخی نثری آثار په عامه توګه ډیر ډولونه لری دلته یی څو مشهور ډولونه در پیژنو او د ځینو یوازی نومونه اخلو.

**حماسی نثری آثار:** چی پخوانی، اوسنی ملی حماسی مسایل، د اتلانو ویاړلی کارنامی پکی بیان یا ځیرل کیږی.

**غنایی نثری آثار:** د مینی، محبت عاطفی او احساساتی مسایل پکی بیانیږی.

**تاریخی نثری آثار:** چی د ټولنی، قوم، ملت او خلکو سیاسی، ټولنیزی او علمی پیښی پکی بیانیږی، لکه د پوهاند حبیبی د افغانستان لنډ تاریخ، د حبیب الله تری (پښتانه) او نور

**دینی نثری آثار:** په دی ډول آثارو د دینی او مذهبی مسایلو په باب لیکنی شاملی دی لکه کابلی تفسیر، سیرت النبی، داستان الفت اسلام او په ټولنه کی دهغه نقش او نور

د ځینو نثری آثارو نومونه ( عرفانی ، اخلاقی، علمی او فلسفی، انتقادی، د بلاغت فنون، د عروضو او قافیی علم، د لغاتو او اصطلاحاتو پیژندنه، ګرامری) آثار او داسی نور.

## د بنی او شکل له مخی د پښتو د اوسنی نثر ډولونه

د بڼی او فورم یا شکل له مخی اوسنی نثر په دوو سترو بر خو بیلیږی، ساده، هنری او ادبی نثرونه.

**1 – ساده نثرونه:** په دی ډول نثرونو کی ټولی علمی، ادبی، سیاسی، ژورنالستیکی، څیر نیز تحلیلی او تشریحی لیکنی او آثار راځی، چی په ساده ژبه د فکر او نظر د څرګندولو او نور ته د پوهی او معلوماتو د لیږدولو ډیره غوره او اغیزناکه لاره ده.

**تهیه و ترتیب:** استاد انجینیر امین الله (امین)

2 – **هنری – ادبی نثر:** د دې ډول نثرونو ډېره مهمه او ساسی ځانګړنه، چې ادبی نثر له ساده نثر څخه بېلوی، هغه (هنری ارزښت) یا ادبی او هنری ارزښت دی.

په دې ډول نثرونو کې لیکوال د بېلابېلو منظر کښنو، انسانی خصوصیاتو، روحیاتو، عاداتو، حالاتو او نور مسایل په الفاظو کې د انځورولو او نوروته د وړاندې کولو لپاره له خپل تخیلي ځواک څخه کاراخلي، د دې نثرونو لوستونکی یا اوریدونکی فکر کوی چه هر څه په خپلو سترګو وینی او ځان ورته په صحنه کې شامل ښکاری.

په پښتو کې د هنريي او ادبی نثر دا لاندې ډولونه لری:

1 – **ادبی ټوټه:** د شکل په لحاظ له لنډو کیسو څخه وړه وی او د مضمون په لحاظ هر ډول مطالب پکې راتلای شی. په ادبی ټوټه کې شاعرانه تخیل کم وی، واقعی پیښې پکې څېړل کیږی او لوبغاړی یې هم واقعی خلک وی.
د معاصر هنری نثر دغه ډول، ځینو ادبپوهانو د (منثور شعر) په نامه هم یاد کری، ځکه اصلا نثر دی، خوشعری کیفیت لری.

د یو حقیقت او واقعیت په اړه په حکایوی بڼه په زړه پوری تشریح او توضیح کوی.

د ادبی توټې غوره بیلګې د پښتو ژبې د معاصر لیکوال او نثر لیکونکی ګل پاچا الفت په غوره نثرونو کې موندلای شو.لکه: دوه جنازې، دوه دهقانان او نور...

2 – **لنډه کیسه:** په لویدیځ ادب کې (SHORT STORY) بلل کیږی لنډه او له داسی عناصرو څخه جوړه وی چې یو له بله سره تړلې او تریو اغیز لاندې وی. موضوع د خپلو حدودو په چوکاټ کې رانغاړی، بې ضرورته خبرې پکې ځای نه لری. د تاثیر او اغیز یووالې پکې یوازینی شرط دی.

3 – **ناول:** ناول د لاتینې ژبې کلمه ده . لغوی معنایې نوی، تازه او عجیبه څیز دی.

په ادبی اصطلاح کې هغې ادبی نثری کیسې یا داستان ته وایې چې له لنډې کیسې څخه لوی اوله رومان څخه لنډ وی.
په لیکنی چوکاټ کې یې طرح، اصلی او فرعی کر کترونه، مکالمې او د کیسې پیل، منځ او پآی لری.

له لنډې کیسې سره یې توپیر په دې کې دی چې هم پکې پیښې په تفصیل سره بیانیږی او هم یې کر کترونه زیات وی.

4 – **رومان:** رومان فرانسوی کلمه ده، په ځینو فرهنګونو کې یې معنا خیالی داستانونه او په ځینو کې د مینې او محبت کیسې راغلې دی. په ادبی اصطلاح کې هغې کیسې ته ویل کیږی چې له ناول څخه اوږده وی.
د جوړښت په لحاظ له ناول سره دومره توپیر نه لری، یوازی د موضوع په انتخاب او د واقعیتونو په څیړلو کې توپیر لری. هغه دا چې په ناول کې همیشه واقعیتونه د علمی اصولو له مخې څیړل کیږی، خو په رومان کې په خیالی ډول، یعنی کوشش کیږی چې خیالی واقعات لوستونکی ته په ربښتینې بڼه وړاندې کړی.

5 – **داستان:** داستان د حماسی ادب یو ځانته فورم دی. د جوړښت په لحاظ تر وړی کیسې لوی او له ناول څخه وړوکی وی. څرنګه چې داستان حکایتی بڼه لری، نو د ناول په تناسب یې تخیلی جنبه زیاته وی. په داستان کې د هنری قهرمان پر ژوند پوره رڼا اچول کیږ او دګډون کوونکو شمیر یې هم د وړی کیسې د ګډون کوونکو په پرتله زیات وی.

6 – **ډرامه:** له یونانی کلمې (ډراو) نه مشتق شوې چې د عمل او کړنې معنای لری. په ادبی اصطلاح کې هغه ادبی اثر ته ویل کیږی چې د ډیالوګ یا خبرو اترو په شکل لیکل شوی وی او دا خبری د لوبغاړو په منځ کې روانی وی.

یا په بله وینا: ډرامه د یوې ژوندۍ کیسې نوم دی، چې ټول احساسات او جذبات یې د حرکت او خوځیدو په واسطه څرګندیږي او په تراژیدي ډرامه کې دهنري اثر پر قهرمان په تراژیدي ډول خبرې کیږي او صحنه داسې تمثیلوي چې لیدونکي غمجن او د تاثر په حالت کې وساتي. په کمیدي کې صحنې په داسې ډول اجرا کیږي چې خلک و خندوي.

د ادبپوهانو پّ نظر ډراماییي وحدتونه (د وخت، ځای او د عمل وحدت) د ډرامې د فن بنسټیز توکي دي.

### د جوړښت لـه مخې ډرامه درې ډولـونه لـري:

1 – د سټیج ډرامه　　2 – راډیوي ډرامه　　3 – تلویزیوني ډرامه

(فلمونه او ننداري پکې راځي) هره یوه یې ځانګړې ژبه او وسایل لري.
ډرامه درې برخې: (پیل، اوج اوپای) لري.
پیل یې باید داسې وي چې لوستونکي، اوریدونکي یا لیدونکي له ځانه سره یوسي. دکیسې پیل د کیسې اوج ته لار هواروي. د ډرامې په منځ کې د بیلا بیلو لوبغاړو (کر کټرونو) تر منځ ټکر یا کشمکش را منځته کیږي چې دې ته د ډرامې اوج وايي. دا غوټه بیا د ډرامې په پای کې خلاصیږي.
په پښتو کې لومړۍ ډرامه د عبدالاکبر خان اکبر (درې یتیمان) ده چې په 1927 عیسوی کال یې لیکلې ده.

7 – طنز: طنز عربي کلمه ده. فرهنګونو د طنز لغوی معنا ناز او کرشمه، پیغور او مسخره کول راوړي. په ادبي اصطلاح کې د هنري نثر یو ډول دی چې په لیکنه کې یې د لیکوال اصلي مقصد نیوکه (انتقاد) وي، خو انتقاد یې د شوخۍ په بڼه او یا په بله وینا د تمسخر په جامه کې نغښتې وي.

د وینا لمن او اندازه یې په زړه پورې او د ټوکو ټکالو په شکل وي.

زیاتره وخت پکې مسایل سرچپه (معکوس) مطرح کیږي.

طنز په واقعیت کې هغه ترخه خندا ده چې د ټولنې د خلکو په ناوړه اعمالو، عاداتو، اخلاقو او افکارو باندې کیږي.

**8 – ادبي راپورتاژ:** د هنري ادبیاتو یو ځانګړی ژانر دی. له عادي راپورتاژ سره یې اصلي توپیر دادی چې په ادبي راپورتاژ کې د پېښې تعبیر، تفسیر او تحلیل په ادبي او هنري ژبه شوی وي.

ددې ډول راپورتاژ لیکونکي پېښو ته په دقیق نظر ګوري او له هغو څخه خپل برداشت د تخیل په ملتیا په خوږه هنري ژبه وړاندې کوي.

**9 – سفرنامه:** په سفرنامه کې سفر کوونکي خپلې خاطرې دقلم په ژبه او د ادب په ادا خوندي کوي او راتلونکو نسلونو ته یې د یادګار په شکل پریږدي.

په نړیوال ادب کې سفرنامې اوږده مخینه لري.

په سفرنامه کې د علمي تحقیقاتو لپاره په زړه پورې مواد پیدا کیږي.

**10 – ادبي لیکونه:** دا هغه لیکونه دي چې په ځانګړې ادبي او هنري بڼه لیکل کیږي.

په ادبي لیکونو کې یو لړ مهم انتقادي، سیاسي، فلسفي او ادبي مسایل لیکل کیږي. او د ادبیاتو ترمنځ تبادله کیږي.

د لیکنې ژبه یې هنري او د تحلیل رنګ پرې غالب وي. له استعارو، کنایو، تشبیهاتو او نورو ادبي صنعتونو څخه پکې کار اخیستل شوی وي، ژبه یې خوږه او د لیکنې طرز یې دو مره په زړه پورې وي چې لوستونکي په لوستنه نه مړیږي.

# شعر

شعر د نورو علومو په څیر کوم ځانګړی او مشخص تعریف نه لري؛ هر څوک یې په پیږندنه، تحلیل او سپړنه کې تر ډیره حده له خپل ذوق نه کار اخلي.

ادبپوهان د شعر د پیژندنې لپاره بیلابیل نظریات او تعبیرونه لري، څو یې په لاندې ډول در پیژنو:
شعر عربي کلمه ده او هغې ادبي وینا ته ویل کیږي چې د ویونکي عواطف او تخیل بیان کړي.

سپیڅلي خوندوري وینا ته چې وزن او قافیه ولري، شعر ویل کیږي.

شعر له هغو لطیفو او نازکو احساساتو او تخیلاتو څخه عبارت دی، چې د موزونو او رنګینو الفاظو په جامه کې راوړل شي. شعر هغه وینا ده چې الفاظ یې ښکلي وي او ویونکي یکې فکر، پوهه، ذوق ، د زړه هیجان او د روح اغیزه سره ګډ کړي.

د اهنګ لرونکو عبارتونو په واسط د واقعیت تخیلي او بیاځلي (تکراري) انځورولو ته شعر ویل کیږي.
شعر هغه وزن لرونکې وینا ده چې په انساني عواطفو او احساساتو کې خوځښت پیدا کوي . د غسې دشعر په لسګونو نور تعریفونو او تحلیلونه شته.
که پورته یادو شوو تعریفونو ته په ځیر وګورو، تخیل، جذبات، احساسات، ښکلا، عواطف، خوند، مفکوره، وزن و آهنګ یکې هغه مشترک ټکي دي، چې ادبپوهان یې د یوې وینا دشعریت معیارونه ګڼي. ځینو د وزن تر څنګ قافیه هم دشعر د اساسي رکن په حیث بللې ده، خو اوس د نویو د آزادو بې قافیې شعرونو په را منځته کیدو سره ثابته شوې، چې قافیه د شعر اساسي تو کی نه، بلکې یو عارضي یا فرعي رکن دی.
په دې توګه ویلای شو:
شعر د تولنیزو واقعیتونو غبرګون دی. شاعر له خپل چاپریال څخه اغیز من کیږي، د تولنې هرې پیښې ته په حقیقي او واقعي سترګه ګوري او د هرې پیښې اصل او بنیاد را سپړي، په داسې ښکلې ژبه یې وړاندې کوي او داسې په زړه پورې یې تمثیلوي، چې د اوریدونکو او لوستونکو احساسات را وپاروي او پر احساساتو یې راولي.

## قـافـیـه

قافیه عربي کلمه ده، په لغت کې وروسته ته وایي، په اصطلاح کې هغه علم دی چې د دورونو له وروستیو هم آهنګیو (همغږیو) څخه بحث کوي.

د شعر اساسي رکن وزن دی او قافیه د شعر اساسي رکن نه ګڼل کیږي بلکې قافیه د شعر یو عارضي رکن دی، ځکه موږ په ډیرو ژبو کې داسې شعرونه ګورو چې قافیه نه لري (لکه آزاد او سپین شعرونه)

په قافیه کې مهمه خبره د همغږي ده، هغه کلمې چې دغه همغږي پکې مراعت شوې د قافیې کلمې بلل کیږي لکه: ګولو، بلبلو، سنبلو، داغلو او نو... چې (لو) د قافیې هماهنګه (همغږه) برخه ده.

د شعر دورونه: دور په لغت کې پیر، دوران، حرکت، څرخیدنه، د یوشي په خپل ځای حرکت او ګرځیدنې ته وایي، په اصطلاح د بیت یا نظم له پیل څخه د لومړي هماهنګي تر پای پورې یو دور دی.

په مصراع او غیر مصراع بیتونو کې دورونه تو پیر لري.

که د یو بیت هره مسره (نیم بیتی) قافیه ولري نو دا بیت له دوو دورو څخه جوړ شوی دی او مصراع بیت دی.

که د یوبیت هماغه وروستی مسره قافیه ولري نو دا بیت یو دور لري او غیر مصراع دی.

ردیف هم پّ دور کې راځي، خو د قافیې او ردیف فرق په دې کې دی چې قافیه تر پای له همغږو (هم آهنګو) تورو او غږو تو څخه جوړه وي مګر ردیف تر قافیې وروسته په هماغه یوه لفظي او معنایيزه بڼه بیا بیا را غبرګیږي.

**تهیه و ترتیب:** **استاد انجینیر امین الله (امین)**

په کلاسیکو شعری چوکاټونو کی قافیه لازمی او ردیف لازمی نه وی، خو د همغږی د تکرار او ښکلا لپاره راځی.

روی: د قافیی هغه توری دی چی له هغه پرته د قافیی همغږی نه راځی، دا په حقیقت کی د قافیی د همغږی د برخی (کلمی) لومړی توری وی.

د حرکت له مخی روی په دوه ډوله دی:

1 – **مطلق روی:** که چیری د روی توری حرکت ولری، مطلق روی ورته وایی.

2 – **مقید روی:** که چیری د روی توری حرکت ونه لری، مقید روی ورته وایی.

هغه قافیه چی ردیف ورپوری نه وی نښتی، مجرده قافیه یی بولی.

قافیه د کلاسیکو شعرونو د چوکاټونو لپاره ضروری ده، په دی توګه:

- ✓ په غزل کی د لومړی بیت دواړه مسری (دواړه نیم بیتی) هم قافیه وی او د نورو بیتونو وروستنی نیم بیتی یی باید له مطلع سره هم قافیه راشي، په قصیده کی هم همداسی ده.
- ✓ په څلوریزه کی هم دلومړی بیت دواړه نیم بیتی هم قافیه وی او د دویم بیت دویم نیم بیتی همدغه قافیه اخلی.
- ✓ په مثنوی کی هر بیت خپله خپله قافیه لری، یعنی داچی د یو بیت دواړه نیم بیتی باید خپله ځانګړی قافیه ولری.

په یو شمیر او سنیو غزلو کی په قافیه پسی ترلی ردیف یو څه اوږد راځی او د غزل عمومی آهنګ او موسیقی ته ښکلا وربښی.

## نظم

نظم په لغت کی د مرغلرو پیلو ته وایی او په اصطلاح کی هغه کلام دی چی وزن او قافیه ولری.

په پښتو ژبه کی دوه ډوله نظمونه شته:

1 – ملی نظمونه　　　　2 – عروضی نظمونه

**ملی نظمونه:**

ملی نظمونه د پښتون ولس خپل مال دی له کومی بلی ژبی نه نه دی راغلی، پخپله ولسی شاعرانو جوړ کړی اوتاکلی وزنونه او قافیونه یی هم ورته پیدا کړی دی.

پښتو ملی نظمونه هم په دوه ډوله دی:

1 – **عامی سندری:** چی ویونکی یی معلوم نه وی لکه: لنډی، سروکی، ناری، دبنادی بدلی او نو

2 – **خاصی سندری:** چی د ولسی شاعرانو له خوا جوړیږی اوشاعران یی معلوم وی لکه: چاربیتی، بدلی، بګتی، لوبی، داستان، مقام او نور....

د ملی نظمونو ځینی نمونی معرفی کوو:

**1 – لنډۍ:** د پښتو د شفاهي ادبیاتو یو مشهور ډول دی چې ټول پښتانه یې پیژني، لنډۍ دوې مسرې لري لومړۍ یې لنډه نهه سیلابه او دویمه یې اوږده دیارلس سیلابه ده.

لنډۍ ته د پښتنو په ځینو سیمو کې ټیکۍ، ټپه او مسرۍ هم وایي.

په لنډۍ کې یو بشپړ مفهوم بیانیږي.

د لنډۍ مثال:

تن مې د شنې نکریزې پاڼه — ظاهر تازه دننه رنګ په وینو یمه

یا:

د سترګو تور لالې مې ورک دی — په زرګر ناسته یم ځیره یې جوړومه

**2 – نیمکۍ یا سروکۍ:** سروکۍ یو ډول شعر دی چې له لنډیو سره ویل کیږي،

د سندرې د سر حیثیت لري، مختلف شکلونه لري ځینې سروکۍ یوه مسره وي، ځینې دوې مسرې، ځینې درې مسرې او کله تر پنځو هم رسیږي.

کله کله دواړه مسرې یو شي او کله یوه لنډه او بله اوږده وي، په سروکو کې د عشق، مینې او رزم موضوعات راځي لکه:

پسې ورجګ کړه سره لاسونه
لنډ کړه د ټیکې مزې دی
خال به دې وران شي

یا:

هلک نرۍ چنار دی — جلې د ګلو ونه

یا:

لونګ کرمه — که لو مې ګډ کړ یاره تا به راولمه

**3 – ناري یا غبرونه:** ناري څو ډولونه لري لکه د اتڼ ناري، تاریخي ناري او د نکلونو ناري.

د اتڼ ناري دوه مسریزې، درې مسریزې او څلور مسریزې وي، د مسرو لنډوالي او اوږدوالي یې هم ډول ډول وي، د تاریخي نارو جوړښت دوه مسریزې دی چې یوه لنډه او بله یې اوږده ده، د نکلونو ناري دوه مسریزې او درې مسریزې وي کله هم قافیه او کله نه وي.

لکه:

سر د سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
یا غې سوی هندوستان رعیت ملکونه

یا:

کرمیه چې غم نه وې ته غم راوړې
کرمیه که زما په دعا کیږې
کرمیه په لم غوټه سپرو واوړې

**4 – چاربیته :** د پښتو د ملی اشعارو یو مهم ډول دی، چې کیسې، نکلونه، داستانونه او نور اوږده مضامین پکې ویل کیږې، چار بیته یو سرلرې چې هغه ته کسر یا پیرو وایی ، کسر یوځل د چاربیتې په سر کې ویل کیږې او وروسته بیا له هر بند څخه تکراریږې،

د چاربیتو د بندونو د مسرو شمیر له څلورو څخه نیولی تر شلو مسرو پورې رسیږې، همدغه سبب دی چې د مثنوی او قصیدې په شان اوږده مضامین پکې راتلای شي.

په چاربیته کې د موضوع تسلسل او ارتباط یو مهم شرط دی.

لکه د خانمیر د یوې چاربیتې څوبیتونه راوړو:

په چپ کې ډال په ښي خنجر نیسه | د غلیم مخه برابر نیسه
یا به له صدقه خپل وطن شی زما | یا به په سرو وینو کفن شی زما
په دروغو نه دی دغه لاپې زما | په غورو واوره واړه پاکې زما
که چیرې برید می یوځل راغې په تا | یوه شه اجل دی ادا چې راغې په تا
ماته وصیت د موره پلاره شوی | یو ځلی نه په څو، څو واره شوی
د ننګ پر ځای ورکوی سر زامنو | مختورن مه شی په محشر رامنو
وصیت د پلار به ګاهې هیرنه کړمه | څو ځان د هغه پلار په خیر نه کړمه
کله به هیر د پلار سخن شی زما | یا به په سرو وینو کفن شی زما

5 – بګتی: په پښتو اشعارو کې بګتی یوه غوره او خوږه برخه ده چې ځینې خلک یې لوبه هم بولی.

بګتی د چاربیتو په څیر یو سرلرې چې په عمومې ډول یوبیت وی او د دواړه مسرو قافیه یې سره برابره وی د هربند وروستنی مسره د بګتی له سر سره په قافیه کې برابره وی.

سر د هربند په پای کې تکراریږې، د سرلومړې مسره یې اوږده او دویمه یې لنډه وی،

د بګتی هر بند معمولا درې مسرې وی. لکه:

غمونه لرې که له ما عاجز غمګینه | را تاو شه لونګینه
و دی ویښتم روغه دی نه کړم | نوره یارې درسره نه کړم
بل دی په سرو شنډو نتکی زانګی مینه | را تاو شه لونګینه
د محمد نور فقیره بخته | څنګه را پریوتی له تخته
بخت می کوټه شوا اوس می لاړ سره | له زینه راتاو شه لونګینه

**عروضی نظمونه :**

د غو نظمونو ته مشترک نظمونه هم وایی ځکه چې په عربی، فارسی او پښتو کې مشترک ویل شوی او ویل کیږې چې لاندې ډولونه لرې:

**1 – غزل :** غزل عربی لفظ دی او معنایی له ښځو سره خبرې کول دی.

د غزل لومړی بیت ته مطلع وایی، د مطلع دواړه مسرې او د نورو بیتونو دو همې مسرې یو له بله سره په قافیه کې یو شی دی او په وزن کې د غزل ټولې مسرې سره برابرې وی.

د بيتونوشمير يې له پنځو څخه نيولي بيا تر پنځلسو پورې رسيږي.

غزل که څه هم په ډيرو موضوعاتو کې ويل کيږي خو اکثره عشقي وي،

لکه:

| | |
|---|---|
| چې دې و ګورې ومخ ته وطن پريږدې | وطن څه دې چې روح والوزې تن پريږدې |
| که ښتن وې تومنو ستا په مينه | درويزه کاندې اختياره تومن پريږدې |
| بلبلان که دې له حسنه خبردارشي | ستا د مخ په ننداره به چمن پريږدې |
| څه خو مخ و بتخانې و ته جار باسه | چې د بتو پرستش بر همن پريږدې |
| ښه چې زړه مې مسافر شو ستا په لورې | عقيق لاشې قيمتي چې وطن پريږدې |
| د جفا د مرو ژوند څه وې حسينه | که دجور خوې زما ګلبدن پريږدې |

**2 – بـو لله (قـصيـده ) :** يو ډول شعر دی چې په عربي کې ورته قصيده وايي، په قصيده کې ډول ډول اوږده مضامين ويل کيږي چې د بيتونو شمير يې له شپاړسو څخه نيولې بيا تر دوو سوو پورې رسيږي،

قصيده هم د غزل په څير يوه مطلع او يوه مقطع لري، د غزلې په شان د لومړي بيت دواړه مسرې او د نورو بيتونو د دوهمې مسرې قافيه يو له بله سره يو شی وي، په وزن کې ټولې مسرې سره برابرې وي.

ځينې قصيدې درې برخې لرې لکه: تشبيب يا تغزل، ګريز يا مخلص، د عائيه يا حسن طلب.

تشبيب يا تغزل د اصلي موضوع نه د مخه يوه مقدمه ده چې د بهار او يا مناظرو ستاينه ده.

ګريز د قصيدې دويمه برخه ده چې شاعر ستاينه پريږدې او اصلي موضوع ته راځي.

دعائيه د قصيدې دريمه برخه ده، شاعر په دې برخه کې دعاکوی.

د قصيدې موضوعات، ستاينه، موعظه، ګيله، غندنه او اخلاق وی.

د قصيدې دعائيه برخه په اصلي موضوع پورې اړه لرې او د موضوع اړوند دعاکيږی.

**3 – ربـا عی :** هغه دوه بيتونه دی چې د لومړی بيت دوی مسرې د دويم بيت له دويمې مسرې سره په قافيه کې يو شی وی، د رباعی معنا ځلوريزه ده، او موضوع يې پند او نصيحت ده.

لکه:

| | |
|---|---|
| طامع هميش وی په انتظار کې | آب يې د مخ ځی په هر دربار کې |
| ګنج چې د صبر پير محمد بيامونډ | توانګر بالـه شی په دا ديار کې |

**4 – قطعه:** دوه يا تر دوو زيات بيتونه دی چې د لومړی بيت د دوو مسرو قافيه سره يو شی نه وی خو د بيتونو دويمې مسرې يو ډول قافيه لری، لکه:

| | |
|---|---|
| انديښنه که په غره کيږدی | غر به هم لکه وينته کا |
| خوار سړی ملامت نه دی | که په غم کې ځان اوبه کا |

**5 – مـثـنـوی :** په مثنوی کې ټول بيتونه يو ډول قافيه نه لری، خود هربيت د دواړو مسرو قافيه يې يو شی ويو د بيتونو شمير يې ټاکلی اندازه نلری، بلکې د موضوع په اوږدوالی او لنډوالی پورې اړه لری.

په مثنوی کې د رزم، بزم داستانونه او تصوفی موضوعات بيانيږی.

دلته د نمونې په ډول د قیام الدین خادم څو بیتونه راوړو:

ای د پاک وطن فرزنده | ای د قام خوږه دلبنده
ای د نوی ژوند پیغامه | ای ارزو وطن قامه
سبا ته مسوول د کار یې | که ته مور او ته پلار یې

**6 – مربع :** یو ډول شعر دی چې بند یې دوه، دوه بیته وی، د سرپه دوو بیتونو کې څلور مسری یو ډول قافیه لری، وروسته په هرو دوو بیتونو کې لومړی دوی مسری په قافیه کې یو ډول او څلورمه مسره یې د سر د بیتونو سره یو ډول قافیه لری، د شعر تر پایه پکې ادا جوړښت په نظر کې نیول کیږی.

لکه: د پیر محمد کاکړ د مربع څو بیتونه راوړو:

زړه می نادان و د مینې غل شو | فراق یې اور و راباندی بل شو
راحت می واړه په غم بدل شو | پاوبنی سیلاب دی صورت می شل شو

زیبا نګار چې زه راپه یاد کړم | له درده وغمه آه و فریاد کړم
قبول حیران یم د چا ارشاد کړم | بیل له ما خواره دلاری مل شو

**7 – مستزاد :** هغه شعر دی چې یوه مسره یې اوږده او بله یې لنډه وی، لکه:

نه غوږ لرم چې واورم نه په خوله د خیر ویل کړم مدام منت پربل کړم

لنډه مسره همیشه یو ډول نه وی کله تکراریږی او کله مختلف وی.

8 – ترجیع بند: د نظم هغه ډول دی چې قافیې یې مختلفی او وزن یې یو ډول وی د بندونو شمیر یې نه دی ټاکل شوی، د هریو بند د بیتونو شمیر یې پخپلو کې مساوی وی او له پنځو څخه تر لسو بیتونو پوری رسیږی، کله تر دی هم زیاتیږی.

د هر بند په اخر کې یو بیت راځی چې د بند د ټولو بیتونو سره په وزن کې یو شان وی مګر ځانګړی قافیه لری چې همدغه بیت د هربند په پای کې تکراریږی.

لکه:

ستا له لوریه که هزار جورو و جفا وی | له عاشقه به په سل رنګه وفا وی
په عاشق باندی معشوقه عنایت کا | ستا مدام په خپل عاشق باندی عنا وی
بنه ما ومنل چې ته بی حد زیبا یی | په جهان به کوم څوک تا غوندی زیبا وی
ولی خدای چې بنه جمال و چاته ورکا | نه په دا چې دی بی مهره کبریا وی

**9 – ترکیب بند :** د ترجیع بند غوندی شعر دی خو په دومره توپیر چې په ترجیع بند کې چې کوم بیت د هر بند نه وروسته راځی چې بیله قافیه او بیله معنا لری.

د حمید مومند د ترکیب بند څو بیتونه راوړو:

په منزل به یې سبا ګوره څوک مله وی | نه پوهیږم چې به ساد وی که به غله وی
په څه شان به شکسته زهیرپه زړه وی | له نغمی به یې د زړه نغمه په خوله وی

**تهیه و ترتیب: استاد انجینیر امین الله (امین)**

دم قدم به یې خولې د مخ په وله وي | رانجه کړي به یې چا خاورې د پله وي
سزاوار دهر ستم د هرپيغور يم | چې مې يار په سفر تللى زه پرکور يم
يا له ياره سره تللى په سفر واى | په هر ځاى مې غوړولى پرې وزر واى
يايي مړ د بېلتانه له غمه ژر واى | يا په دواړو سترګو ړوند په نظر واى
كه دا نه كيداى هرګزه معتزر واى | خود په خود مې ځان وهلى په خنجر واى
هسې پاتې شوم تر يار پورې مخ تورى | په جرګه د عاشقانو کې کوز ګورى

## ادبي مکتوبونه

مکتب په لغت کې لیک، زده کړه او د ښوونې او روزنې ځاى دى خو د ادبي مکتب اصطلاح په ادبیاتو کې هغه پراخ ادبي بهير (جريان) يا د نظم او نثر د وينا او ليکنې لارې (طريقې) ته کارول کيږي چې په يوه فرهنګي او جغرافيايي حوزه کې د ګن شمير شاعرانو او ليکوالو د ځانګړو شعري يا نثري سبکونو له ګډون څخه رامنځته کيږي.

د غه ځانګړنې د هم مهالو شاعرانو او ليکوالو له تخليقي آثارو څخه د بيلتون سبب ګرځي.

د پښتو ادبي تاريخ په کلاسيکه (منځنۍ) دوره کې څلور ادبي مکتبونه منځته راغلل:

### 1 – روښاني ادبي مکتب:

دغه ادبي مکتب دلسمې هجري پيرۍ په دويمه نيمايي کې رامنځته شوى دى د دې ادبي مکتب مؤسس پياوړى علمي، ادبي او فرهنګي شخصيت او ملي مبارزه بايزيد انصارى (925 – 985 هـ ق) دى چې په پير روښان شهرت لرى.

د دې مکتب د پياوړو ليکوالو او شاعرانو په ډله کې دا لاندې نومونه د بيلګې په توګه يادوو:

ارزاني خويشکي، علي محمد مخلص، دولت لوانى، ابابکر کندهارى، واصل روښاني، ميرزا خان انصارى، ورکزى، قادر داد او نور.

د دې ادبي مکتب له ډيرو سترو ځانګړتياوو څخه دادى:

1 – تصوف او عرفان پيچلو مسايلو او اصطلاحاتو په پراخه پيمانه پښتو ادب ته لاره کړې.

2 – د عربي اوفارسي شاعرى زياتره شکلي فورمونه، لکه قطعه، رباعى ، قصيده، او نور پښتو ادب ته راغلي او شاعرانو د عربي او فارسي ژبو د شاعرانو په څير مردف ديوانونه جوړ کړى دى.

3 – په نثري ليکنو کې مسجع نثر رواج شوى.

4 – اخلاقي او ديني مسايل په پښتو شعر او ادب کې زيات شوى او د عربي او فارسي ادب اغيز پرپښتو ادب زيات شوى دى.

### 2 – خوشحال (خټکو) ادبي مکتب:

دغه ادبي مکتب په يوولسمه هجريي قمرى پيرۍ کې منځته راغلى، مؤسس يې د پښتو ژبې پياوړى ليکوال، شاعر، د تورې او قلم خاوند خوشحال خان خټک (1022 – 1100 هـ ق) دى.

**تهيه و ترتيب:** **استاد انجينير امين الله (امين)**

د دې مکتب نوميالي استازي اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، سکندر خان خټک، صدر خان خټک او نور دي.

د دري ادبي مکتب ستري ځانګړ تياوې دادې :

1 – د مسجع اومتکلف نثر پر ځاى ساده ، روان او د خلکو محاورې ته نږدې نثر ليکنه پيل شوې.

2 – د خټکو ځانګړې ليکدود (رسم الخط) را منځته شوى دى.

3 – په شعر او ادب کې حماسي، رزمي اوملي روحيه پياوړې شوې.

4 – د نورو ژبو څخه په پراخه پيمانه کيسې او نور علمي ، ديني او ادبي آثار پښتو ته وژباړل شول.

## 3 – د رحمان بابا تصوفي او عرفاني ادبي مکتب:

د دې ادبي مکتب مؤسس د پښتو پياوړى شاعر رحمان بابا (1128 – 1142 هـ ق) دى.

د دې ادبي مکتب نوميالي استازي او پلويان: يونس خيبري، معزالله مومند، اخوند ګدا، حافظ الپوري، ميا نعيم متى زى، عبد العظيم رانيزى، عبدالرحيم هوتک، مطيع الله پير خيل او نور دي

د دې ادبي مکتب ستري ځانګړ تياوې دادي:

1) ويناوال د اخلاقو پند او نصيحت خواته ډيره پاملرنه کوي.

2) د عربي اوفارسي ژبو ډيرې کلمې او اصطلاحات، تشبيهات او استعارې په پراخه پيمانه پښتو ادب ته ننوتې دي.

3) ويناوال واقعيت او حقيقت ته ډيره پاملرنه کوي، د خيال او مبالغې پلويتوب پکې ډير کم دى.

4) د پښتني چاپيريال خيل رنګونه پکې ځليدو او دهندي سبک اغيز پکې ډير نه ليدل کيږي.

4 – دنازکخيالي ادبي مکتب:

د غه ادبي مکتب د دولسمې هجري پيرۍ په اوږدو کې د فارسي او هندي ادبي مکتب تر اغيز لاندې را منځته شوى دى.

د دې ادبي مکتب مؤسس د پښتو نازکخياله شاعر عبدالحميد مومند او بشپړونکى يې کاظم خان شيدا، علي خان او نو ګڼل شوي دي.

د غه ادبي مکتب د (حميد او شيدا د نازکخيالي ادبي مکتب) په نامه هم ياديږي.

د دې ادبي مکتب نوميالي استازي او پلويان: قلندر اپريدى، محمدي صاحبزاده، علي خان، کامګار خټک، بيدل هشنغرى، حنان بارکزى او نور دي.

د دې ادبي مکتب ستري ځانګړتياوې دادې:

1) لوړ تخيل، نازکخيالي، نوښت، نادرې استعارې او تشبيه ګانې.

2) د غزل فورم په کې د کمال پوړ ته رسيدلى.

3) د اشعارو موضوع زياتره د مينې او محبت مسايلو ته وقف شوې:

**تهيه و ترتيب:**		**استاد انجينير امين الله (امين)**

4) په شعرونو کې متلونه، اصطلاحات او محاورې ډيرې کارول شوي.

5) ويناوالو د فارسي ادب اغيز (تاثير) په پراخه پيمانه منلى دى.

# متلونه

متلونه او محاروې د ولسي ادب دوه ځانګړې ډولونه (ژانرونه) دي. متلونه هغه پخې، خوږې په تول پوره او کره خبرې دي، چې د يوې ژبې د ويونکو د زړګونو کلونو تولنيز ژوند له تجربو څخه زيږيدلي دي او د يو ولس د عقل او منطق ډيره ښه ښکارندويي او څرګندوي کوي. دغه متلونه په دوه ډوله دي: منظوم متلونه او منثور متلونه ، هريو يې ځانګړې جوړښت لري.

**منظوم متلونه :** دا متلونه په نظم وي، معمولا وزن او قافيه لري. دوه مسې يا نيم بيتي وي، کله لومړی مسره يانيم بيتي او کله بيا دويمه مسره تر لومړې اوږده وي.

د متلونو په دې ډول کې پر وزن او قافيې سر بيره تشبيه، استعاري مجاز او کنايي هم کارول شوي دي.

منظوم متلونه د منثورو متلونو په پرتله ښه اوژر زده کيږي.

د منظومو متلونو څو بيلګې:

خپله لاسه – کله لاسه

په ژوندون مې قدر غواړه – چې مړشم مه راپسې ژاړه

ښه خوې به دې سلطان کړي – بد خوې به دې په ځان پورې حيران کړي

پوره – ورک دې کړل دوه کوره

د ځوانۍ يوه نشه وي – داسې نه چې هميشه وي

آس لره – په لاس لره

څه ورپناه – څه غرپناه

چې تګ دې په غره دی – ناستې دې په څه دی

چې په تمه د سپروشي – هغه پاتې په ميروشي

خپله ژبه هم کلا ده – هم بلا

بد به دې په زړه لرم – سلام به دې په خوله لرم

اوړه دې په اوړه – منت دې پرڅه

**منثور متلونه :** منثور متلونه په نثر دي، د دې متلونو شمير په هره ژبه کې له منظومو متلونو زيات وي.

هر منثور متل د جوړښت له مخې يوه لنډه، خوښيږه جمله وي دا لنډه جمله به د ګرامر له مخې مبتدا او خبر دواړه لري.

**تهيه و ترتيب:** **استاد انجينير امين الله (امين)**

د منثورو متلونو څو بیلګې:

د ښو غوښو ښه ښوروا وی.

لاس چې مات شی غاړې ته لویږی.

څمکه هغه سوځی، چې اور پرې بلیږی.

دنیا نولس ده، چا هم نه ده شل کړی.

که غر لوړ دی، پر سر یې لار ده.

له خپل ځادر سره پښې غځوه.

مال ساته، ګاونډی غل مه نیسه.

یاد به دی زه کړم – ښاد به دی خدای کړي.

لا بارانه تښتیدم ، د ناوی لاندی می شپه شوه.

تیره پر خپل ځای درنه وی.

کوربار تر منزله نه رسیږی.

نیکی وکړه، په اوبو کی یی واچوه.

چی سر دی نه خوږیږی، داغ پرې مه ږده.

د ډیرو امسا، د یو سړی ګیډی.

انګورو ته یی لاس نه رسیږی، وایی تروه دی.

آزمویلی، بیا مه آزمویه.

ړوند یو ځل خپله امسا ورکوی.

پر یوه ځپیږه دوه مخونه خوږیږی.

## پښتو قاموسونه

د قاموس لیکل په پښتو سر بیره د نړی په ټولو ژوند یو ژبو کی تر سره شوی دی. قاموس د یوی ژبی د لغاتو زیرمه ده، تقریبه د هغه ژبی ټوله شتمنی یکی را ټوله شوی وی نولیکل او ترتیبول یی یو ارزښتمن او د قدر وړ کار دی. قاموس لیکنه د یوی ژبی د لغوی پانګی د خوندی کیدو او له نورو ژبو څخه راغلو کلمو د تنظیم په موخه تر سره کیږی. په پښتو ژبه کی قاموس لیکنه لومړی له هیواده بهر پیل شوی ده، وروسته په افغانستان او کوزه پښتو نخواکی ځینی قاموسونه ولیکل شول.

(رياض المحبت، پښتو سيند، پښتو مرکی قاموس، سپيځلی پښتو، لس زره لغات، پښتو اردو قاموس، افغان قاموس، پښتو دری لنډ قاموس، فرهنګ مختصر دری – پښتو – پښتو تشريحی قاموس) په پښتو کی ليکل شوی قاموسونه دی چی د پښتو ژبی او لهجو لغوی پانګه پکی خوندی ده.

# ملی ارشيف

د نړی په هر هيواد کی داسی يو ځای شته چی هلته ټول زاړه خطی کتابونه، چاپی زاړه کتابونه، د تيرو پاچاهانو فرمانونه، رسمی سندونه، انځورونه او نور ساتل کيږی. دغه ځايونو ته ارشيف وايی. د ملی ارشيف دغه ودانی د کابل ښار په سالنګ واټ کی واقع او د امير عبدالرحمن خان د واکمنی پر مهال جوړه شوی ده. نوموړی امير دا ودانی د خپل زودی شهزاده حبيب الله خان د کار لپاره جوړه کړی وه.

دا ودانی د محمد داود خان د جمهوريت په لومړيو (1352 هـ ش) کی د ملی ارشيف لپاره ځانګړی شوه او د عامه کتابتون تر اداری لاندی يی فعاليت پيل کړ.

ملی ارشيف په رسمی توګه د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت د يوی ځانګړی فرهنګی اداری په توګه په توګه په (1359 هـ ش) کال پرانيستل شو.

لومړی هغه ليکلی او چاپی تاريخی او هنری آثار چی د کابل په عامه کتابتون او نورو دولتی ادارو کی موجود وو، په ملی ارشيف کی ځای پر ځای شول او بيا د هيواد له کوټ کوټ څخه اړوند اثار ورته راوړل شول چی دا لړی تر ننه هم روانه ده او له يوی ورځی څخه بلی ته د اثارو شميره زياتيږی.

ټول هغه آثار چی اوس زموږ په ملی ارشيف کی خوندی دی، د اسلامی دوری له پيلامی څخه په را وروسته پيړيو پوری اړه لری. تر ټولو لرغونی لاس کښلی (خطی) نسخه چی په ملی ارشيف کی خوندی ده هغه د قرآنکريم پنځه پاری دی چی د هوسی (آهو) پر پوستکی ليکل شوی او ليک يی د حضرت عثمان (رض) وخت ته منسوب ګڼل شوی دی.

بل لرغونی سند د تيموری دوری د نوميالی واکمن سلطان حسين بايقرا فرمان دی چی په (901 هـ ش) کال په نستعليق ليک ليکل شوی، اوس په ملی ارشيف کی خوندی دی.

اوس زموږپه ملی ارشيف کی د کتابونو په زرګونو خطی او چاپی نسخی، تاريخی سندونه او انځوريز خطی کتابونه او پانی خوندی دی.

په دغو خطی نسخو کی يو هم د پښتو ډير ارزښتناک ادبی کتاب (پټه خزانه) نوميږی چی د هغی په تر لاسه کيدو سره پښتو ليکی ادب د دويمی هجری پيړی نيمايی ته رسيږی.

د افغانستان ملی ارشيف له ډيرو زياتو لرغونو او تاريخی چاپی او خطی سندونو او اثارو سره له ستره ملی او نړيوال ارزښت څخه برخمن دی.

د افغانستان ملی ارشيف د (سواربيکا) يا د ارشيفونو د نړيوالی مؤسسی د غړيتوب وياړ هم تر لاسه کړی دی.

د تاريخی، علمی، ادبی فرهنګی او نورو اثارو د خوندی ساتنی اداری (ملی ارشيف) د بډای کولو لپاره بايد هراړخيزی هلی ځلی وکړو او يوه ملی دنده يی وبولو.

دويم څپرکی

## پښتو ادبی تذکری

تهيه و ترتيب: استاد انجينير امين الله (امين)

تذکره عربی کلمه ده، چې څو معناوی لری: پیژند پانی ته هم ویل کیږی او د هغی وسیلی نوم هم دی چی ناروغان په کی له یو ځای څخه بل ته لیږدوی.

په ادبی او فرهنګی اصطلاح ادبی تذکره هغه اثر ته ویل کیږی چی د ادبیاتو (شاعرانو او لیکوالو) ژوند پیښی او آثار په کی معرفی شوی او د پیژند ګلوی په ترڅ کی یی د لیکوالو او شاعرانو د نظم او نثر بیلګی هم خوندی کړی وی.
د پښتو لومړنی ادبی تذکره، چی څوپانی یی د زمانی له حوادثو خوندی پاتی او تر موږ رارسیدلی هغه د سلیمان ماکو (تذکره الاولیاء) ده.

نوموړی هغه تر 612 هجری قمری کال وروسته د کندهار په ارغستان نومی ځای کی لیکلی ده.

د دغی تذکری په راپاتی څو پانو کی د پښتو څلورو تنو عارفانو، چی د پښتو ژبی شاعران هم دی، ژوند لیکونه او د منظومی وینا بیلګی راغلی دی. د پښتو ژبی دغه لرغونی شاعران: بیټ نیکه، ملکیار غرشین، شیخ اسمعیل او شیخ بختیار دی. تر تذکره الاولیاء وروسته بله ادبی تذکره ، چی بشپړه قلمی نسخه یی ترلاسه شوی، هغه (پټه خزانه) ده، چی محمد هوتک په (1141 – 1142 هـ ق) کال تالیف کړی ده.

دغه ادبی تذکره موږ ته د پښتو ډیر لرغونی او د محمد هوتک زمانی ته نږدی او هم مهالی شاعران او لیکوالان را پیژنی. په دغو شاعرانو کی شپږ تنه ښځینه شاعرانی هم پیژندل شوی دی.
د پټی خزانی قلمی نسخه، چی د افغانستان ملی آرشیف کی خوندی ده، لومړی ځل په 1333 لمریز کال د پښتو ټولنی له خوا او په پټه خزانه کی د څینو نورو لرغونو تذکرو او د هغو د لیکوالو، لکه د شیخ کټه (لرغونی پښتانه) د شیخ بستان بړیڅ (بستان اولیاء) د شیخ قاسم (اولیای افغان) او نورو نوموونه راغلی،
د پښتو ادب په معاصره ادبی دوره کی ادبی تذکره لیکنه پوهاند عبدالحی حبیبی پیل کړی، چی په 1320 لمریز کال یی د پښتانه شعراء لومړی ټوک د پښتو ټولنی له خوا چاپ او خپور شو. وروسته بیا د پښتانه شعراء دوهم ټوک په 1321 هجری شمسی کال پوهاند صدیق الله رښتین، دریم ټوک په 1342 هجری شمسی د پښتو ټولنی غړو اوبیا دهمدی لړی څلورم او پنځم ټوکونه څیړنیوه عبدالله بختانی لیکلی او پښتو ټولنی خپاره کړی دی.
د پښتو ادبی تذکرو په لړ کی بل ډیر ارزښتناک اثر د عبدالرووف بینوا دری ټوکه اوسنی لیکوال دی، چی لومړی ټوک یی په 1341، دویم په 1342 او دریم په 1346 هجری شمسی کال چاپ شوی او 250 تنه اوسنی لیکوال او شاعران په کی پیژندل شوی او د هغوی د نظم او نثربیلګی یی هم خوندی کړی دی.
د مولوی صالح محمد او سراج الدین (تذکره الشعراء) هم یوه غوره ادبی تذکره ده، چی په (1366 هجری شمسی) کال چاپ او خپره شوی ده.

د پوهاند صدیق الله رښتین (پیاوړی شاعران) او (نومیالی شاعران) د حبیب الله رفیع (ادبی ستوری) دوه ټوکه، د افضل ټکور (دا لیکوال او داخیری) د کبرا مظهری (پښتنی شاعرانی او لیکوالی) د مؤمن پتوال (اوسنی شاعران) د شهرت ننګیال (وینه په قلم کی) د محمد داؤد وفا (ستوری د ادب په آسمان کی)، د آرین یون (د وږمو بهیر) او داسی نوری د پښتو د معاصری ادبی تذکره لیکنی ډیر ښی بیلګی دی،

په پښتو نخوا کی هم ډیری غوره ادبی تذکری لیکل شوی او چاپ شوی، لکه: دهمیش خلیل (ورکه خزانه) (لومړی او دویم ټوک)، پښتانه لیکوال لومړی ټوک، د قلم خاوندان، د عبدالحلیم اثر (تیر هیرشاعران) د پروفیسور سیال کاکړ (د کسی لمنی پښتانه لیکوال) (لومړی – دویم ټوک) د افضل رضا (سل پټ ستوری) د محمد اشرف غمګین (د هشنغر ادب) د شیرشاه ترخوی (دا څوک دی؟) (لومړی – دوهم ټوک) (ادبی ستوری)، د خیبر اپریدی (د خیبر انګازی) د اخونزاده مساپر (د پښتو ادب ځلند ستوری)، د مثل خان راهی (د خوشحال د بڼ ګلونه) د تاج ملی تاج لاثانی (د مروتو ستوری) د مراد شینواری (خیبر ادب) د قمر صحرایی (ده هزاری نظم زار) او په لس ګونو نوری ادبی تذکری، چی د زرګونو پخوانیو او اوسنیو شاعرانو او لیکوالو ژوند لیکونه او د نظم او نثر بیلګی په کی خوندی دی.

**کاظم خان شیدا:**

کاظم خان شیدا د افضل خان خټک زوی، د اشرف خان هجری لسمی او د خوشحال خان خټک کړوسی دی. د زوکړی کال یی (1135 هـ ق) اټکل شوی او تر (1194 هـ ق) کال پوری یی ژوند یقینی دی. د پښتو پیاوړی نازکخیاله شاعر دی، دشعرونودیوان په افغانستان او پښتو نخوا کی څو ځله چاپ شوی دی.

### خوشحال خان خټک:

خوشحال خان خټک د شهباز خان خټک زوی، د پښتو ژبی پیاوړی شاعر، لیکوال، ملی مشر او لارښود و. په (1022 هـ ق) د پښتو نخوا په سرای اکوړی کی زیږیدلی و. په (1100 هـ ق) کال یی د 78 کلونو په عمر له دی نوی سترګی پټی کړی دی.

خوشحال خان په نظم او نثر کی زیات شمیر آثار لیکلی دی، چی بیلګی په توګه یی د اشعارو کلیات، دستارنامه، طب نامه، فراقنامه، فضل نامه او نورو نومونه اخستل شو.

د کلام نمونی:

په واک چی نه لری په کام ژبه　　که ګونګ شی ښه دی په لویه تبه

په بده ژبه ځان ځی، جهان ځی　　ایمان لاهم ځی واوره طالبه

### حلیمه خټک:

حلیمه خټک چی د خوشحال خان خټک لور وه، د پښتو ژبی پیاوړی شاعره، یوه عالمه ، عارفه او فاضله ښځه وه. نوموړی د خوشحال خان خټک په کورنی کی ښځو ته د دینی علومو زده کړه او تدیس کاوه. د شعرونو دیوان تراوسه نه دی ترلاسه شوی، یو شعریی محمد هوتک په خپل اثر (پټه خزانه) کی خوندی کړی او تر موږ رارسولی دی.

### عبد الرحمن بابا (رح):

عبدالرحمن بابا (رح) په (1042 هـ ق) کال کی د پښتو نخوا پیښور ښار د بهادر په کلی کی نړی ته سترګی پرانیستی وی. پلاریی عبدالستار نومیده او د مومندو پښتنی قبیلی ته منسوب و.
عبدالرحمن بابا لومړنی دینی علوم په خپل کلی او شاوخوا سیمو کی لوستی وو. په ځوانی کی د لوړو دینی علوموپه زده کړی پسی کوهاټ ته ولاړ. هلته یی د مروجو دینی او ادبی علومو د زده کړی تر څنګ د هغه سیمی له مشهور عارف او روحانی شخصیت حاجی بهادر کوهاتی (رح) څخه په طریقت کی لاس نیوی کړی و. کله چی عبدالرحمن بابا د دینی علومو د زده کړی له بشپړولو وروسته خپل ټاټوبی پیښور ته راغلی، نو د خپل پلرنی کلی پر ځای یی په هزار خانه کی استوګنه غوره کړه. د ژوند تر پایه په همدی کلی کی اوسیدلی دی.

وایی چی عبدالرحمن بابا له کوچنیوالی څخه د لوړ ادبی ذوق او پیاوړی استعداد خاوند و. دڅوارلسو پنځلسو کلونو په عمر یی په شعر ویلو پیل کړی او بیا په دی لړ کی داستادی پوړ ته رسیدلی دی. د ځانګړی ادبی مکتب خاوند دی.
د عبدالرحمن بابا په شعرونو کی د بیلابیلو دینی، اخلاقی او نورو تولنیزو مسایلو تر څنګ د پښتو ژبی د پخوانیو شاعرانو، لکه میرزا خان انصاری، دولت لوانی، خوشحال خان خټک، او د دری ژبو شاعرانو.
د وروستیو ادبی څیړونو له مخی عبدالرحمن بابا په (1128 هـ ق) کال کی وفات شوی او د پیښور د هزار خانی په لویه هدیره کی ښخ دی. ډیر ارادتمندان یی زیارت ته ورځی او هر کال یی د پسرلی پ لومړیو ورځوکی پر مزار ستره ادبی غونډه جوړیږی.

### عبد القادر خان خټک:

د خوشحال خان خټک زوی په (1063 هـ ق) کال کی د پښتو نخوا، پیښور په اکوړه خټک کی زیږیدلی و. تر (1125 هـ ق) کال پوری یی ژوند یقینی دی.

په نظم او نثر کې يې ډير کتابونه ليکلي او ژباړلي دي. ځينې آثاريې، چې اوس موږ په واک کې لرو، دادي: د اشعارو ديوان (حديقه ختک) گلدسته، يوسف زليخا، څلويښت حديثونه، قصيده برده.

### گلدسته :

د شيخ سعدی گلستان عبدالقادر خان ختک پښتو ته راژباړلی او پرهغه يې دگلدسته نوم ايښی دی. ددی کتاب د ژباړی کال 1124 هجری قمری دی.

د دی اثر قلمی نسخې زياتي موندل کيږی. لومړی ځل په (1961 ميلادی) کال د پيښور پښتو اکاډمی له خوا ډاکتر عظيم شاه خيال بخاری په سريزه او تعليقاتو چاپ او خپور شوی اوپه (1383 لمريز) کال د افغانستان د علومو اکاډمی هم چاپ کړی دی.

### زرغونه کاکړه (رح) :

زرغونه کاکړه د ملادين محمد لور وه. د کندهار په پنجوايي کې اوسيدله. د زوکړی کال يی (884 هـ ق) اټکل شوی دی. زرغونې کاکړی مروجه ديني علوم او د نظم او نثر کتابونه له خپل پلار څخه لوستي وو. وروسته يی له علم او ادب ره زياتي مينې له امله د ډيرو دينې او ادبی کتابونو مطالعه و کړه. د خطاطی هنر يی هم زده و. دغی عالمې او فاضلي ميرمنی له سعدالله خان نورزی سره واده کړی.
زرغونې کاکړی په (903 هـ ق) کال د شيخ مصلح الدين سعدی شيرازی مشهور کتاب (بوستان) پښتو ته ژباړلی و. ک زرغونه کاکړی ډيره ښه شاعره هم وه. ډير شعرونه يې درلودل او د خپل وخت په ادبياتو کې يې پوره نوم او شهرت درلود.د پښتو ادبياتو تاريخ دويم ټوک ليکوال د زرغونې کاکړی د ژوند د حالاتو او د شعر په هکله ليکلي دی: ((که موږ په پښتو ادب کې د اخلاقی شاعرانو له پاره يوه مخصوصه ډله ومنو، نو زرغونه کاکړه به د خپل پښتو بوستانه سره د هغوی په سر کې ولاړه وی. موږ زرغونه د شيخ سعدی (رح) د بوستان په منظومه ترجمه د اخلاقی شاعرانو له ډلی څخه بللی شو.))

### بايزيد روښان:

بايزيد روښان د قاضی عبدالله زوی و، په قوم اورمړ پښتون و. کورنی يی له وزيرستان څخه هندوستان ته تللی وه. روښان هلته په 926 هجری قمری کال سترگی نړی ته پرانيستي وی.

بايزيد د عرفان او تصوف ترڅنگ دوخت د مغولی واکمنې په وړاندی ملی مبارزه پيل کړه او د دغی مبارزی په بهير په 985 هجری قمری کال کی وفات شو.
بايزيد روښان (926 – 985 هجری قمری) زموږ د هيواد پياوړی علمی – فرهنگی او سياسی شخصيت و. نوموړی د خپلی علمی، عرفانی لاری د تبليغ او د خپلو پيروانو د لارښوونی له پاره په پشتو، دری، عربی او هندی ژبو ډير آثار ليکلی دی، چی په هغو کی يو ډير مشهور اثر (خيرالبيان) نوميږی.

له ښه مرغه چی د دغه ارزښتناک اثر يوه قلمی نسخه بهر نيو ختيځپوهانو له ځان سره اروپا ته وړی او د جرمنی د تبونگين د پوهنتون د کتابتون د خطی نسخو په مجموعه کی خوندی وه

د خيرالبيان ليکلو په هکله پخپله پير روښان داسی وايی: (گوره کړی می دی خيرالبيان په څلور ژبی موافق له قرآن، پکی دی بيان د رښتيا، دروغ، د حلال او حرام، د کړه نه کړه په هرمقام، په تادی وی اعلان.)

کله چی اخوند درويزه د بايزی روښان مخالفت ته راپورته شو د خيرالبيان په مقابل کی يی خپل کتاب (مخزن الاسلام) هم د بايزيد روښان په مسجع نثرو ليکه.

خيرالبيان ټول څلويښت بابونه لری، چی بيلابيل دينی، عرفانی او فقهی مسايل پکی تر 121 لويو وړو سرليکونو لاندی راغلی دی

د خیرالبیان زیات ارزښت او اهمیت په دې کې دی چې دا د پښتو ژبې لومړنی زوړ بشپړ تر لاسه شوی کتاب دی، چې په لسمه هجری پیړی کې لیکل شوی دی.

## عبد الـرحمن پـژواک:

عبدالرحمن پژواک د قاضی عبدالله زوی، د ننګرهار ولایت د سره رود د ولسوالی اوسیدونکی و پژواک په 1297 لمریز کال، هغه مهال چې پلاريې د غزني په ولایت کې دقضاء دنده در لوده، په دغه ښار کې سترګې نړی ته وغړولې.

کله چې رالوی شوی لومړنی مروجې زده کړې یې پخپله عالم پاله کورنی کې وکړی، بیا د ننګرهار د سره رود و مطلع دانش په ښوونځی کې شامل شو. څه موده یې د خوږیانیو په ښوونځی او د کابل د ښار د اندرابیو په ښوونیځی کې پای ته ورسوله. د لوړو زده کړو له پاره د کابل په طب پوهنځی کې شامل شو. دوه کاله یې دغلته د روغتیایی علومو زده کړه وکړه. د پلار له وفات نه وروسته دی ته اړشوچې لوړی زده کړی نیمګړی پریږدی اوماموریت ته مخه کړی.
په 1370 لمریز کال په زړ بوډی او ناروغ حالت کې پیښور ته ولاړ او په 1374 لمریز کال د جوازا په 18 هوری ومړ، جنازه یې هیواد ته راوړل شوه او پخپل پلرنی ټاټوبی، د ننګرهار په سره رود کې خاورو ته وسپارل شو.
عبدالرحمن پژواک سربیره پردې چې د هیواد نومیالی سیاسی شخصیت و، د پښتو او دری ژبو پیاوړی لیکوال او شاعر هم و. د هیواد او نړی په مطبوعاتو کی په زیات شمیر خپرو شویو مقالو سربیره یې شاوخوا شل لیکلی او ژباړلی منظوم او منثور آثار په پښتو او دری ژبوچاپ شوی او ځینی ناچاپ آثار هم لری. دلته یې د ځینو چاپ شویو آثارونو مونه اخلو:
کلمه داره روپی ، (پښتو منظومه ډرامه) افسانه های مردم کابل، (لنډی کیسی) افغانستان کهن، عروج بارکزیها، پیشوا، باغبان (د ټاګور د اثر ژباړه) زن از نګاه محمد (ص) ، حدیث خون، بانوی بلخ، میهن من او نور.
د عبدالرحمن پژواک پښتو شعرونه له دری شعرونو سره یو ځای په بیلوبیلو مجموعو کی چاپ شوی دی. همدارنګه یی کیسی او ډرامی هم لیکلی دی. کلمه داره روپی د پژواک لیکلی پښتو ډرامه ده، چې په آزاد شعریی لیکلی او په 1337 لمریز کال پښتو ټو لنی چاپ کړی ده.

## میـر من حمیـده:

میرمن حمیده د اروانباد حضرت شاه ، چې د تیر ګریو پاچا صاحب په نوم مشهور و، لور وه.

د پښتو ژبې معاصره لیکواله او شاعره وه. نوموړی په 1297 لمریز کال د کونړ ولایت د شینکوړک دسیمی کورنی کی زیږیدلی او را لویه شوی وه.

ورور یی سید شمس الدین مجروح پیاوړی علمی فرهنګی شخصیت وهغه د دی میر منی په روزنه کی پوره ونده لرله.

نوموړی د خپل ماما له زوی عبدالغفور سره، چې یو نظامی منصبدار و، واده کړی.

په 1339 لمریز کال په کابل کی وفات شوی ده. د شعرونو (مجلو او اخبارونو)، په ځانګړی توګه ننګرهار ورځپانه او کابل مجله کی یی ډیر شعرونه چاپ شوی دی، چې موږ ته د نوموړی د غوره شاعری او لیکوالی څرګندویی کوی.

## امیـر حمزه شیـنواری:

امیر حمزه خان شینواری د ملک باز میرخان زوی، په 1907 میلادی کال د پښتو نخوا د خیبر په لوارګی سیمه کی سترګی نړی ته پرانیستی وی. د پنځو کلونو په عمر یی د لوارګی په مدرسه کی د دود یزه علومو په زده کړه پیل وکړ. بیا وروسته یی د پیښور په اسلامیه کالج کی د عصری او دینی علومو زده کړه پیل کړه او تر لسم ټولګی یی هلته خپلو زده کړوته دوام ورکړ. په لسم ټولګی کی یی زده کړی نیمګړی پریښودی، رسمی ماموریت یی پیل کړ. څه

مودی یی د پیښور د پاسپورت په دفتر کی دنده در لوده. بیا له هغه ځایه دریلوی اداری ته ولاړ. ښوکاله یی هلته دنده تر سره کړه.

د ده د خپلی وینا له مخی د ښوونځی له پنځم ټولګی څخه یی د شعر په ویلو پیل کړی. نوموړی په ډیره مینه خپل دغه ذوق پاله. کله چی پر 1930 میلادی کال یی پلار مړ شو، د لوارګی له سیمی څخه پیښور ښارته ولاړ. په همدغه وختونو کی یی له عرفان او تصوف سره ډیره مینه پیدا شوه. د پښور د نومیالی روحانی شخصیت سید ستارشاه پاچا ارادتمند شو. د خپل پیرپه سپارښتنه او لارښوونه یی پښتو شاعری او لیکوالی پیل کړه

نوموړی خپل فرهنګی خدمتونه د پښتو نخوا د نوښار پښتو ادبی جرګی څخه پیل کړل. وروسته، کله چی په پیښور کی (پښتو بزم ادب) ادبی ټولنه جوړه شوه، حمزه شینواری یی مرستیال او بیا د همدی ټولنی مشرشو. په همدی وختونو کی د (رڼا) په نامه یوه ادبی مجله هم خپروله. تر څنګ یی د رحمان ادبی جرګی غړیتوب هم درلود. کله چی پر 1950 میلادی کال په پیښور کی (اولسی ادبی جرګه) جوړه شوه. (بزم ادب) ادبی ټولنه هم ورسره یو ځای شوه، حمزه شینواری ددی ادبی جرګی په مشرانو کی و.

حمزه شینواری په شعر کی د لوړ استعداد او وړتیا له مخی په ادبی ټولنو کی د (پښتو غزل بابا) په لقب ویاړل شوی دی.

ډیری نثری علمی ادبی لیکنی، لنډی کیسی، درامی، طنزونه، تکلونه، سفرنامی، ادبی راپورتاژونه او د منثور ادب نور ډیر ډولونه یی لیکلی دی.

د حمزه شینواری د منظوم ادب بیلابیل ژانرونه هم دوخت په راډیو یی او چاپی خپرونو (مجلو او اخبارونو) کی خپاره شوی دی.

د پښتو لومړنی فلم دده د لیکلی کیسی (لیلی او مجنون) له مخی پر 1941 میلادی د هندوستان په بمبی کی جوړ او ننداری ته وړاندی شو.

حمزه شینواری له سلګونو علمی او ادبی مقالو سربیره په نظم او نثر کی په لسګونو لیکلی او چاپ شوی آثار لری، چی دلته یی د ځینو کتابونو نومونه اخلو:
په منظومو کتابونو کی د بیلګی په توګه: غزونی، یون، پریونی، پسرلی په آئینه کی، بهیر، ژوند اویون د خیبروږ مې او نور.

په نثری کتابونو کی ی د تجلیات محمد یه، د حجاز کاروان (سفرنامه) نوی پښتون (سفرنامه) نوی چپی (ناول) انسانی آنا او پوهه، د خوشحال خټک یو شعر، ژورفکرونه (تکلونه) او نور یادولی شو.
دغه پیاوړی عالم، شاعر او لیکوال د 1372 لمریز کال د سلواغی د میاشتی په 29 نیټه د 87 کلونو په عمروفات او د پښتو نخوا په لواړګی کی خاوروته وسپارل شو.

**ملالتاړ :**

ملالتاړ په هندوستان کی د اوسیدولو پښتنو شاعرانو په ډله کی د دیوان خاوند شاعر تیر شوی دی. د دی شعر د ژوند په باب باوری کره او بشپړ اسناد په لاس کی نشته، خو د یو شعر له مخی یی اټکل کیدای شی چی نوموړی د (1161 هـ ق) کال په شاوخواکی زیږیدلی او په (1190 هـ ق) کال یی دیوان بشپړ کړی.
ښایی د ملالتاړ اصلی ځای سلمان یا شلمان وی او عمر یی په هندوستان کی تیر کړی دی.
دیوان یی په (1367 هـ ق) کال په کابل کی چاپ شوی، غزلی، رباعی، قصیده ډوله نظمونه او مخمس لری. د رحمان بابا د سبک له پیروانو څخه و، د دیار لسمی پیړی تر لومړیو پوری ژوندی و.

شمس الدین کاکړ:

د شمس الدین د زوکړې او مړینې سمه نیټه معلومه نه ده، یو شمیر څیړونکي یې زوکړه تر (1180 هـ ق) وروسته گڼي.
شمس الدین ښه عالم او ادیب شاعر و، په ځوانۍ کې هند ته تللی و او د خپل عمر ډیره برخه یې د هندوستان په ښارونو کې تیره کړې ده. په آخر د عمر کې خپلې خاورې او خپل هیواد ته راستون شوی.
په غالب گومان د عمر تر پایه په کندهار کې و. دیوان یې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی.
د سراج الموتی په نامه په پښتو کې یو بل اثر هم لري. په شعر کې یې فلسفي، تصوفي، اخلاقي او تربیوي افکار په ښه توگه نغښتي دي، په ادبي فنون کې یې هم ښه لاس درلود، په فقه، تفسیر، او احادیثو کې هم دلوړ مقام څښتن و.

### ارواښاد ملنګ جان:

ارواښاد ملنگ جان په 1293 لمریز کال د ننگرهار ولایت په بهسودو کې زیږیدلی دی. پلار یې ملک عبدالشکور نومیده چې په درې کلنۍ کې ترې یتیم پاتې شو. د ملنگ جان لومړنی نوم محمد امین و. وروسته امین جان او په پای کې ملنگ جان شو.
پنځلس کلن و چې د شعر ژبه یې ویانده شوه او په خوږو نغمو یې پیل و کړ. په 1336 لمریز کال دلړم په لسمه چې کله له کابله ننگرهار ته له خپلې کورنۍ سره را روان و، دلته بند په کړلیچونو کې د موټر د اوښتلو له امله خپل یوازینی درې کلن زوی، دواړه سره مړ شو.

### شاه حسین هوتک:

د میرویس نیکه په اولادونو کې شاه حسین هوتک او زینبه د پښتو ژبې شاعران وو. شاه حسین هوتک د زوکړې کال (1114 هـ ش) ښودل شوی دی. په دولس کلنۍ کې یې د وخت دودیز علوم د هغه وخت له مشهور عالم ملایار محمد خان هوتک څخه زده کړل. له هغې وروسته د خپل پلار تر روزنې لاندې راغی. څوارلس کلن و چې له پلار د مهربانۍ له سیورې څخه بې برخه شو.

شاه حسین هوتک په پښتو او فارسي شعرونه ویلي دي. د شعریو مرتب او بشپړ دیوان هم لري. د عالمانه او شاعرانه شخصیت تر څنگ له پوځي او عسکري مهارت څخه هم بې برخې نه و. پر کندهار د نادر افشار تر تاړاکونو پورې په کندهار کې پاچا و. له ښار څخه یې په میړانې دفاع کوله. کله چې د نادر افشار ځواکونو کندهار ونیو، شاه حسین هوتک یې اثیر او مازندران ته ولیږه. په (1151 هـ ش) کال کې مسموم او هلته مړ شو.

### علامه پوهاند عبد الشکور رشاد:

عبدالشکور رشاد د عبدالغفور خان زوی او پر (1300) لمریز کال په کندهار کې زیږیدلی دی. دی لاوړوکی و، چې قرآن عظیم الشان او د وخت د مروجو علومو یو شمیر کتابونه یې لوستي و،

خو رسمي زده کړې یې په (1306) لمریز کال د کنج په نامه د کندهار په یوه لومړنی ښوونځي کې پیل کړې.

د ښوونځي له فراغت وروسته په (1312) هجري کال د کندهار په مطبعه کې د پښتو مجلې د مصحح په توگه وټاکل شو او دا یې دلومړنی رسمي دندې پیل و.

څرنگه چې استاد له تدریس سره زیاته مینه درلوده او هیله یې دا وه چې ښوونکی شي، نو د (1314) لمریز کال د لړم میاشتې په دولسمه نیټه د کندهار په دویم لمبر ښوونځي کې ښوونکی شو. دا وخت یې عمر ډیر کم و، نوځکه د کوچنی معلم په نوم مشهور شو. تر (1321) هجري کال پورې په احمدشاهي ښوونځي او د احمدشاه په لیسه کې کله د ښوونکي او که د سرښوونکي په توگه دنده تر سره کوله.

په (1327) لمریز کال استاد د پوهې او لوړو زده کړو د تر لاسه کولو لپاره په خپل شخصي لگښت هند ته لاړ او تر (1334) لمریز کال پورې یې په هغه هیواد کې د ژبو، ادبي فنونو او تاریخي مسایلو په باب مطالعې او زده کړې وکړې. استاد په هند کې اووه کاله پاتې شو.

په دې اووه کلنه موده کې یې پرله پسې څېړنو او مطالعې ته زور ورکړ او د هغه هیواد د تاریخ له مخې یې په هند کې د افغاني واکنیو په حال خان خبر کړ او په سلګونو پاڼو یې په دې موضوع لیکنې وکړې چې لودي پښتانه او سوري پښتانه تاریخي کتابونه یې د همدې سفر د څېړنو پایلې دي.
ارواښاد رشاد د علمي ورتیا پربنسټ په (1341) هجري کال کې د لیننګراد په پوهنتون کې د پښتو څوکې د استاد په توګه کار کړی دی.

فاضل استاد علامه رشاد پرپښتو سربیره په دري، عربي، انګلیسي، روسي، اردو، جاپاني ژبو باندې هم پوهیده.
ارواښاد رشاد د خپل ژوند په اوږده بهیر کې په پښتو او دري ژبو یو شمیر آثار او مقالې لیکلې او خپرې کړې دي.
هغه په بیلا بیلو علمي موضوعاتو لکه: ژبپوهنه، ادبیاتو تاریخ، هنري نثر، ادبي فنون، غوره اشعار او نورو کې په لس ګونو کتابونه او په شلګونو توکه څېړنیز قلمي اثار لیکلي دي.
ځینې یې دادي:
لودي پښتانه، سوري پښتانه، د څمکو میاعمر، د پآنې پټ قهرمان، د خیرالبیان لغتونه، د پټې خزانې فرهنګ، د احمدشاه بابا د دیوان غوره چاڼ، لس مقالې او نور...
نا چاپ اثار: زیات شمیر نور آثار یې تر اوسه نه دي چاپ شوي چې مهم یې: لودي پښتانه دویم ټوک، سوري پښتانه دویم ټوک، ملي قهرمان، غازي اکبر خان، سردار محمد داود خان شهید، اعلیحضرت امان الله شاه غازي، د کارنامو میرمنې دي. ارواښاد رشاد د 70 کلنو علمي، څېړنیز او فرهنګي خدمتونو له تر سره کولو وروسته، د 1383 لمریز کال د لیندې میاشتې په یوولسمه د 83 کالو په عمر له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې.
جنازه یې په ډیر درنښت د کندهار پوهنتون په انګړ کې خاورو ته وسپارل شوه.

## سکندر خان خټک:

سکندر خان خټک د پښتو ژبې د ستر لیکوال خوشحال خان خټک زوی دی. ده هم د خپل پلار د ادبي ښوونځي قدرداني او پیروي کړې ده. د زورکړي کال یې څرګند نه دی، خو په آثارو کې یې د ځینو یادونو څخه دا معلومیږي چې دی به په (1068 هـ ق) کال کې زیږدلی وي او تر (1116 هـ ق) کال پورې یې ژوند یقیني دی، ځکه په همدې کال کې د ده دوه زمن (منګل – انور) مړه شوي دي.

د سکندر خان خټک د لاس ته راغلو اثارو له مطالعې را معلومیږي چې سکندر خان عالم او پوه سړی و. په پښتو سربیره په پارسي، عربي او نورو ژبو ښه پوهیده.

د سکندر خان آثار:

د اشعارو دیوان، د لیلی او مجنون مثنوي، شمایلنامه، پندنامه، یوسف او زلیخا.

هانري جارج راورټي لیکلي دي چې سکندر خان خټک د مهر و مشتري کیسه هم نظم کړې ده، خو د سکندر خان دغه منظومه کیسه تر اوسه نه ده لیدل شوې.

د سکندر خان خټک سبک ډیر ساده، روان او کلام یې خوږ او زړه راښکونکی دی. د پت او عزت ژوند ته تر هر څه زیات قدر او ارزښت ور کوي او عزت یولوی دولت بولي:

| | |
|---|---|
| چې چیرته مې عزت دی | هم هغه زما دولت دی |
| بې عزته روټۍ نه خورم | دا مې خوی دا مې عادت دی |
| یو کاشوک او کړه بهتره | له غه آش چې په منت دی |

## ګل پاچا الفت:

ګل پاچا الفت د میر سیدپاچا زوی، په (1288) هجري کال کې د لغمان ولایت په عزیز خان کڅ کې زیږیدلی دی.
الفت د پښتو ادبي ځلانده ستوری، پیاوړی لیکوال، شاعر او کره کتونکی و. د الفت چاپ اثار له شلو څخه زیات او په سلګونو مقالې یې په مطبوعاتو کې خپرې شوي دي. د اثارو له جملې څخه یې:

څه لیکل یا لیک پوهه، ادبی بحثونه، غوره نثرونه، غوره اشعار، د زړه وینا، لوړ خیالونه او ژور فکرونه، ډیر زیات لوستوونکی لری. اروابناد الفت په (1356) لمریز کال د لیندی په 26 مه نیټه له دی فانی نړی سترګی پټی کړی.

## پیر محمد کاکړ:

پیر محمد کاکړ د پښتو ژبی نومیالی شاعر، لیکوال او عالم دی. د زیږیدنی کال یی په دقیقه توګه نه دی معلوم، ادبی څیرونکی یی د (1120 هـ ق) او (1130 هـ ق) تر منځ کلونه اټکلوی. د سهیلی پښتو نخوا د کاکړستان د ژوب د هندوباغ د سیمی د (یعقوبی) کلی استوګن و.
لوی احمدشاه بابا چی د خپلی واکمنی پر وخت (1160 هـ ق – 1186 هـ ق) د پیر محمد کاکړ له علمی او ادبی شهرت نه خبر شوی، څوځل یی کندهار ته د ورتګ بلنه ورکړی وه، خو هغه نه وه منلی، بالاخره په هره وسیله چی و، اړیستل شوی وچی کندهار ته ورشی.
پیر محمد کاکړ ته په احمدشاهی دربار کی د دینی او ادبی علومو د تدریس چاری وسپارل شوی او د لوی احمد شاه بابا زوی شهزاده سلیمان یی له ځانګړو شاګردانو څخه و.
پیر محمد کاکړ د خپل خاص شاګرد په واکمنی ډیره خوښی څرګنده کړه او خپل یو تالیف کړی کتاب (معرفت الافغانی) چی درباریانو ته یی د پښتو ژبی د لیک لوست زده کړی لپاره لیکلی و.
په ادبی فنونو، فصاحت او بلاغت ښه پوهیده او د استادی مقام ته رسیدلی و. د یو ځانګړی ادبی سبک او لاری خاوند و.
پیر محمد کاکړ د تدریس د چارو ترڅنګ یو شمیر د نظم او نثر کتابونه هم لیکلی دی، دلته یی په لنده توګه درپیژنو.

**1 – د اشعارو دیوان:** پیر محمد کاکړ د خپلو شعرونو دیوان پر (1196 هـ ق) بشپړ کړی دی. دا دیوان لومړی ځل پر (1303 هـ ق) کال په هند او دویم ځل پر (1325 لمریزکال) په کابل کی پښتو ټولنی او په دی وروستیو کی په کویټه او پیښور کی بیا بیا چاپ شوی دی.

**2 – معرفت الافغانی:** دا کتاب د دی لپاره لیکل شوی چی د وخت واکمنو درباریانو ته پښتو لیک لوست زده کړی او په نتیجه کی د دربار او دفتر ټولی رسمی لیکنی په پښتو کړی.
داکتاب لومړی ځل په (1341 هـ ق) کال په لاهور او دویم ځل په (1356 هـ ق) کال په کابل کی چاپ او خپور شوی دی.

**3 – د پښتو تاریخ:** پیر محمد کاکړ د احمد شاه بابا په امر د پښتنو یو تاریخ هم په پښتو ژبه لیکلی و. د دی کتاب یوه قلمی نسخه د امیر عبدالرحمان په دربار کی موجوده او د دربار منشی ملامحمد خان افغانی نویس ته سپارل شوی وه، خو له (1300 هـ ق) راوروسته تر ننه ورکه ده.

**4 – هدایت المبتدی:** د اسلامی فقهی د ابتدایی مسایلو کتاب دی، چی پیر محمد کاکړ په دری ژبه نظم کړی، قلمی نسخه یی شته دی.

پر دی پورتنیو آثارو سربیره پیر محمد کاکړ د دیوان د یوی قلمی نسخی په پای کی څوپانی د قلمی نسخی د خطاط په قلم کښل شوی، چی پښتو نثر یی روان، د جنت او قیامت د ورځی په هکله بحث دی. ځینی ادبی څیرونکی دا اټکل کوی چی دا هم کیدای شی د پیر محمد کاکړ کوم اثر وی، چی نوم به یی (قیامت نامه) یا (جنت نامه) و.
د وروستیو ادبی تاریخ څیړنو له مخی د پیر محمد کاکړ ژوند تر (216 هـ ق) کال پوری یقینی دی، خو دا چی وروسته به په کوم کال مړ شوی وی، نه ده معلومه. دومره څرګنده ده چی په کندهار کی وفات شوی او دشاه ولی پرغاړه په لویه هدیره کی د حضرت جی صاحب زیارت ته نږدی ښخ او قبر یی معلوم دی.

## پوهاند عبدالحی حبیبی:

پوهاند عبدالحی حبیبی د ملا عبدالحق زوی، 1289 لمریز کال د کندهار ښار په بامیزو کی زیږیدلی و، پیاوړی عالم، لیکوال، شاعر او تاریخ لیکونکی و. د خپل ژوند شپږ لسیزی یی هیواد ته په علمی، ادبی او فرهنګی ډګر کی د ستاینی وړ خدمتونه کړی، د 120 په شاوخوا کی چاپ شوی آثار او د هیواد په مطبوعاتو کی یی تر زرو زیاتی علمی، ادبی،

تاریخی او نوری ډول ډول خیړنیزی مقالی خپری شوی دی. د 1363 لمریز کال د ثور په شلمه نیټه په کابل کی وفات او په شهدای صالحین هدیره کی خاورو ته سپارل شوی دی.

مولوی صالح محمد هوتک:

د محمد اکبر هوتک زوی په (1307 هـ ق) کال په کندهار کی زیږیدلی و.

نوموړی پیاوړی ښوونکی، لیکوال، شاعر او ژورنالست و.

کلونه کلونه یی د حبیبیی ښونځی ښوونکی، د کندهار د پوهنی مدیر، کندهار ادبی انجمن غړی، د پښتو ټولنی غړی همدارنګه په فرهنګی ډګر کی د یادونی وړ خدمتونه کړی.

زیاد شمیر درسی، علمی او ادبی کتابونه تالیف او ژباړلی شوی آثار لری، لکه:

د پښتو ژبی لومړی، دویم او دریم درسی کتابونه، پښتو صرف او نحوه، پښتو مثنوی، تذکره الشعراء او شعرونو ټولګه (پاشلی وینا).

صالح محمد هوتک په (1339 لمریز) کال مړ او د کندهار د حضرت جی بابا په هدیره کی ښخ دی.

**عبد الـرؤف بـېـنوا:**

عبدالرؤف بېنوا د عبدالله زوي، په کال (1291 یا 1292 هـ ش) پ کندهار کې زیږیدلي دي.

عبدالرؤف بېنوا د 70 کلونو په عمر په (1363 هـ ش) کې په نیویارک کې مړ او په نیو جرسي کې خاورو ته وسپارل شو. بېنوا صاحب د اوسنی دوري شاعر دي.
د بېنوا صاحب کتابونه دادي:
د زړه خواله، اوسني لیکوال (دري ټوکه)، د غنمو وږي (منظومه ده)، د رحمان بابا دیوان دوین، پریشانه افکار، د افغانستان نومیالی پښتني مېرمني او میرویس نیکه.

**پـوهـانـد صدیـق الله ریـښتـین:**

پوهاند صدیق الله ریښتین د مولوي تاج محمد زوي، په (1298 هـ ش) کال کي په ننګرهار کي زیږیدلي او په (1387 هـ ش) کال کي مړ شوي دي.

د صدیق الله ریښتین کتابونه:

پښتانه شاعران (دوهم ټوک)، د پښتو ادب تارخ، پښتو کیسي، د ژوند سندره، د دولسمو ټولګیو د پښتو کتابونه په پښتو باندي، خپلواکی هسي، ادبی څېړني، د خوشحال خان طب نامه، د مینې هنداره او د پښتو ژب ښوونه.
د ریښتین صاحب تالیفات کابو 80 یا 87 کتابونو ته رسیږي.

**قـیـام الـدین خـادم:**

قیام الدین خادم د ملاحسام الدین زوي، په (1325 هـ ش) کي د ننګرهار په کامه کي زیږیدلي او په (1358 هـ ش) کابل کي مړ شوي او په کامه کی پخپله پلرنی هدیره کی خاورو ته وسپارل شو.
د قیام الدین خادم کتابونه:
نور رڼا، نوي ژوندون، د مر غلرو امېل، د پښتو نوالی خیالي دنیا او د پښتو د قوانینو څېړني.

**مـیـرزا خـان انـصـاري:**

میرزا خان انصاري د نورالدین زوي او د پیر روښان لمسي دي. د ده اصلي نوم فتح خان دي. په (988 هـ ق) کي زیږیدلي او په (1040 هـ ق) کي د دکن په جګړه کي مړ شوي دي. په قوم اورمړ دي او یو سیاح سړي ؤ.
میرزا خان انصاري یو دیوان لري چي شعرونه یي تصوفي بڼه لري.

## افضل خان ختک:

افضل خان ختک د اشرف خان زوي د خوشحال خان ختک لمسي او د شهباز خان کړوسي دي. په (1075 هـ ) زیږیدلی او تر (1161 یا 1164 هـ) پوری ژوندی و.

افضل خان کتابونه:
(تاریخ مرصع) چي د پښتو او ختکو حالات بیانوي، (علم خانه دانش) چېد کلیلي او دمني پښتو ژباړه ده.

## حمید مومند:

حمید مومند په (1083 هـ ق) کي زیږیدلي او په (1145 یا 1148 هـ ق) کي مړ شوي دي. د ده د کلي اصلي نوم ګکر دي مګر خلک یي د ماشوخیلو بولي او په اصل کي ماشوخیل د ګکر د کلي تر څنګ بل کلي دي په قوم مومند او لقب یي موشګاف دي. د ده سبک هندي ؤ او د حمید بابا سبک دفارسي سبک ته نژدي دي نو په دي لحاظ ورته (پښتو بیدل) وايي.
حمید بابا د محمد شاه مغولي (محمد شاه ګورګاني) معاصرؤ.

د حمید بابا کتابونه:
دُر و مرجان – دیوان یي – چي 300 غزلي لري.
شاه ګدا چي د هلالي (په فارسي کي لیکي ؤ – له کتاب څخه په (1137 هـ ق) کي په پښتو ترجمه شوي دي. او بل کتاب یي شریعت الاسلام او نیرنګ عشق دی.

## اخوند درویزه:

پلار یي ګداي نومېده. اخوند درویزه په (940 هـ ق) کي د بو نیر یا ملیزو په سیمه کي زیږیدلي او په (1048 هـ ق) کي مړ شوي دي.

د اخوند درویزه کتابونه:
مخزن الاسلام په پښتو کي او مذهبي کتاب دي.

نورنامه، ایمان نامه، ارشادلاطالبین (په دري ژبه کي)، برهان الانبیا و الاولیا (په دري ژبه کي) شرح مالي (په دري ژبه کي) او تذکرة البرار والاشرار (په دري ژبه کي).
اخوند درویزه او میا روښان (پیر روښان) دواړو نیم منظوم ویلي دي.

## سلیمان ماکو:

سلیمان ماکو د بارک خان صابزی زوي او د کندهار په ارغستان کي زیږدلي دي. د ده کتاب تذکرة الاولیا نومیږي چه تارخي او دیني کتاب دي. دغه کتاب د ولیانو په هکله معلومات لري، چي په ارغستان کي په (612 هـ ق) کي لیکل شوي دي، د همدي کتاب نه یوازی اته پاني یي پاني دي.

## امیر کروړ:

امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوي او د پښتو ژبې لومړني شاعر دي، په (139 هـ ق) کې د غور په مندېش کې پاچا او په (154 هـ ق) کې د پوشنج په جګړه کې مړ شو. د ده نه وروسته د هغه زوي امیر ناصر پاچا شو.
کروړ په مانا د کلک او سخت دی. کروړ د کلاسیکي دورې تهداب ایښودونکي دي. د امیر کروړ تخلص جهان پهلوان ؤ. او د عباسیانو په پلوي له بني امیه سره و جنګېد.

### علی محمد مخلص:

علی محمد مخلص په پښتو کی د روښانی غور ځنګ له نومیالیو شاعرانو او لیکوالو څخه دی، هغه د ابابکر کندهار شینواری زوی دی، چی په غالب ګمان د (1015 او 1020 هـ ق) کلونو په شاوخوا کی زیږیدلی دی.

ځیرونکی وایی چی هغه به یا په کندهار کی او یا هم په تیرا کی زیږیدلی وی.

مشهور اثاریې: مراه العارفین او سراج العارفین، حالنامه... دی.

د علی محمد مخلص د مړینی نیټه د (1080 هـ ق) په شاوخوا اټکل شوی.

### حاجی جمعه بارکزی:

حاجی جمعه بار کزی د پښتو ژبی شاعرو چی له (1200 هـ ق) تر (1259 هـ ق) پوری یی ژوند کړی دی، دی د کندهار په زاړه ماشور کلی کی اوسیده او دسردار کندل خان معاصر ؤ. د خپل وخت عالم اوصوفی شاعرو، د نقشبندیه طریقی پیرو و.

د اشعارو دیوان لری چی د علومو اکادمی له خواپه (1360 هـ ش) کال چاپ شوی دی.

### خواجه محمد بنګښ:

خواجه محمد بنګښ د پښتو ادبیاتو د منځنی دوری شاعر دی، د مغلی پاچا اورنګزیب د پاچاهی په وخت کی یی ژوند کاوه، د خوشحال خان ختک معاصر او د پښتنو د بنګښو قبیلی ته منسوب دی،

په بنګښو کی لومړنی د دیوان خاوند شاعر دی، چی د تصوف په سلسله کی د چشتیه طریقی پیرو و او د شیخ عبدالرحیم مرید و.

د ده په اړه پوره معلومات نشته، د زیږیدنی او مړینی نیټه یی نه ده معلومه قبرهم نه دی معلوم.

شعرونه یی عشقی، عرفانی او اخلاقی مضامین لری، خواجه بنګښ د خپلو یارانو په مړینه ډیری ښی مرثیی لیکلی.

### سید بهاوالدین مجروح:

د سید شمس الدین مجروح زوی در چی په (1306 هـ ش) کال د کونړ ولایت د اسمار ولسوالی د شینکوړک په کلی کی زیږیدلی.

لومړنی زده کړی یی د کلی په جوماتی کی سرته ورسولی او دفارسی مشهور کتابونه لکه ګلستان، بوستان او سکندر نامه یی ولوستل، بیا له خپل پلار سره کابل ته راغی او داستقلال په ښونځی کی یی خپل زده کړی پیل کړی، له ښونځی څخه لوړی زده کړی یی په فرانسه او المان کی د دوکتورا تر درجی پوری سرته رسولی دی.

در مجروح خپاره شوی کتابونه په لاندی ډول دی:

1 – اژدهای خودی (په پنځه توکو کی)

2 – ځانځانی (د اژدهای خودی پښتو ژباړه د آزاد شعر په قالب کی)

3 – در جبر او اختیار دیالکتیک (یو فلسفي اثر)

4 – دښمن وپیژنئ

5 – نا اشنا سندرې (د شعرونو ټولګه)

مجروح په (1367 هـ ش) کال د پېښور په ښارګی د نا معلومو کسانو لخوا شهید شو اوپه پېښور کې خاورو ته وسپارل شو او بیا په (1381 هـ ش) کال کې د ده تابوت افغانستان ته راوړل شو او پخپله پلرنی هدیره کې ښخ شو.

### بوریس اندریېویچ ډورن:

په (1805 م) کې په جرمنی کې زیږیدلی او هلته یې لوړې زده کړې په ختیځپوهنه کې تر سره کړې دي،

په ځوانی کې د روسی د دولت په غوښتنه هغه هیواد ته لاړ او د ژوند تر پای پورې هلته پاتې شو.

پروفیسور ډورن د ختیځو ژبو له قلمي پانګو رسره زیاته مینه لرله او د لندن او اکسفورډ د کتابتونونو قلمي ذخایر یې تول لید لی وو.

پروفیسور ډورن په روسیه کې د خارکوف او پترزبورګ په پوهنتونونو کې د ختیځو ژبو استاد او د پترزبورګ د عمومي کتابتون مشر و.

د ډورن (پښتو منتخبات) د ډیر ارزښت وړ اثر دی، هغه له بیلا بیلو قلمي نسخو څخه د پښتو یو شمیر کلاسیک منظوم او منثور متونه راغونډ کړي تدوین او چاپ کړي او بیا یې خپاره کړي دي.

### هانري جارج راورټي:

د پیتر رواورټي زوی په (1825 میلادی) کال د انګلستان د فل مت په ښارګوټي کې زیږیدلی. راورټي عالي تحصیلات نه و کړي، خو د ډیر اوچت ذاتي علمي استعداد او ذکاوت خاوند و. هندي، فارسي، پښتو، ګجراتي او مرهټي ژبې زده وې.

د پښتو ژبې د مطالعې په برخه کې د راورټي ډیر لوی کار د پښتو ژبې د یوه لوی ګرامر لیکل وچې لومړی چاپ په (1855 میلادي) کې خپور شو. دوه نور مهم اثار یې چې پښتو انګریزي قاموس او بل یې د ګلشن روه په نامه د پښتو نثر او نظم یوه مجموعه وه چې په (1860 میلادي) کال کې چاپ شول.

راورټي پر (1906 میلادي) کال مړ شوی دی.

### هنري والتر بیلیو:

په (1834 میلادي) کال په هند کې زیږیدلی دی، د طب ډاکټر ؤ خو د پښتو او پښتنو په اړه یې زیات آثر لیکلي دی لکه: (پښتو ګرامر) او (پښتو ډکشنري)، افغانستان او افغانان، د افغانستان قومونه...

هنري والتر بیلیو په (1892 میلادي) کال کې مړ شوی دی.

### تور برن:

تور برن په بنو کې د برتانوي هند د حکومت د یو مامور په توګه کار کاوه، وروسته یې د پښتنو له ژوند، فولکلور، متلونه، کیسو او سندرو سره ځانګړې مینه پیدا شوه، هغه یې راټول او په (1876 میلادي) کال کې یې د (بنو – زموږ افغاني سرحد) په چاپ او خپور کړ.

### جیمز ډار مټتر:

دغه نومیالی ختیځپوه او پښتو پوه په (1849 میلادی) کال کی په فرانسه کی زیږیدلی دی په پاریس کی یی په ادبیاتو کی یی تر دکتورا پوری زده کړی وکړی، په (1886 – 1887 میلادی) کلونو کی په هند کی د ژبنیو پلټنو دنده وروسپارل شوه، په بمبئی او هزاره کی یی ځیړنی تر سره کړی.

د نوموړی مهم اثر (د پښتو نخوا د شعر هار و بهار) نومیږی.

### پروفیسر مارګن ستیرن:

په (1892 میلادی) کال کی په ناروی کی زیږیدلی او د اروپا د بیلابیلو پوهنتونونو کی د هندو اروپایی ژبو د تدریس چاری پر مخ بیولی، د پښتو ژبی د ځیړنی لپاره یی پښتو نخوا او افغانستان ته سفرونه و کړل او د دی ژبی په باب ډیری په زړه پوری ځیړنی خپری کړی. د پښتو ژبی او ګرامر په اړه یی خورا مهم آثار لری.

### دریم څپرکی

## پښتو ژب شودنه

### پښتو الفبا

د پښتو ژبی د الفبا غږونه او توری دیرش او په ډول دی:
ا، ب، پ، ت، ټ، ج، خ، چ، څ، ځ، د، ډ، ر، ړ، ز، ږ، ژ، س، ش، ښ، غ، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، و، هـ، ی.

په دغو تورو کی (22) توری د پښتو او دری تر منځ شریک دی او نور، (8) توری یوازی په پښتو کې راځی او په دري دري کي نه راځی او هغه دا دی:
ټ، ډ، ړ، ځ، څ، ږ، ښ، او ڼ.
د پښتو په (30) تورو کی (26) توری، چوپ یا ساکن توری دی او (4) توری کومکي توری یا غږيز توری دی، په لاندې ډول دی: ا، و، هـ، ی.
په پښتو کی د عربي ژبی دغه (8) توری هم په مستعار ډول په عربي کلمو کي استعماليږی: ث، ح، ص، ض، ط، ظ، ع او ق. کومکي غږونه

کمکي غږونه په پښتو کي پر دوه ډوله دی:

1 – حرکتونه

2 – توری
په پښتو کی دغه وروسته خوځندی موجود دی:

الف – زور، لکه: ور، غر او همداسی نور.
ب – زورکی، لکه: شل (بیست)، وچ.
ج – زیر: دا خوځندی اوس د پښتو کلمو په سر کي نه راځی او په دخیلو کلمو کي استعمالیږي، لکه: ګل، بل...
د – پیښ: دا خوځندی هم په دري او عربي په د خیلو کلمو کي راځی، لکه: تجاهل..
هـ - غږوندی (سکون): په پښتو کي دغه وروسته قاعدي لري:
i. په پښتو کي په ساکن توری باندی پیل کول روا دی او د نیم حرکت په ډول ویل کیږی، لکه: سپوږمی، لمر...

ii. په پښتو کې تر درې ساکنو پورې هم یو ځای راتلای شي مګرپه دې شرط چې لومړی ساکن یې یو کومکي توری وي. لک: میاشت، ځلوېښت. او داسې نور.

### کومکی توری

کومکي توری ځلور دی، مګر هغه وخت کومکی توری ګڼل کیږی چې ساکن وی او د مخه توری بل کومکي توري نه وي، دغه توری په وروسته ډول دی:

1. (الف) د کلمی په منځ او اخر کې راځي؛ لکه: کال، لار، اکا...
2. (واو) په پښتو کی په ځلور ډوله دی:

1 – نرم واو: چې پوست او نرم ویل کیږی او د مخه توری یې زور لری؛ لکه: پلو، لو...
2 – څرګند واو: چې د مخه توری یې څرګند او دروند پیښ لری؛ لکه : کچالو، چاکو...
3 – اوږد واو: چې اوږد او نرم ویل کیږيي او د مخه توری یې اوږد پیښ لری؛ لکه پښتو، زانګو...
4 – کوچنی واو: چې د مخه توری یې سپک لنډ پیښ لري؛ لکه: لومړی، تاسو...

3. (ی) په پښتو کې په پنځه ډوله ده:

1 – نرمه (ی): چې پسته ویل کیږي او دمخه توری یې زور ولري؛ لکه: سړی، منګی...
2 – څرګنده (ي): چې د مخه توری یې دروند او څرګند زیر لري؛ لکه ، دوستي، شین...
3 – زورکی واله (ې): چې د مخه توری یې زورکی لری او یوازی د کلمی په پای کی راځی؛ لکه:
هګۍ، خولۍ...
4 – اوږده (ي): چې اوږده ویل کیږی او د مخه توری یې اوږد زی لري؛ لکه مني، پخي...
5 – امریه (ئ): چې د مخه توری یې سپک لنډ زیر ولري؛ لکه: وخورئ...

4. (هـ) په پښتو کې پر دوه ډوله دی:

1 – څرګنده او لویه (هـ): چې د مخه توری یې زور ولري؛ لکه: پیاله، چوغکه...
2 – پټه او کوچنی (هـ): چې د مخه توری یې زور کی ولري؛ لکه: پسه، اوږه...

### د کلمي قسمونه یا د کلام توکي:

معنا داره لفظ ته کلمه ویل کیږی.
په پښتو کې د کلمي قسمونه یا د کلام توکي په لاندی ډول دی:

## نوم

چې د یو شی یا د یو کیفیت او حالت نوم وي؛ لکه: لمر، زوی، ویره...

### د معهوم له مخه د نوم ډولونه:

نوم د مفهوم او معنا له مخه په پنځه ډوله دی:

1. خاص نوم: چې یو خاص سړی یا یو خاص شی معرفي کوی؛ لکه: احمد شاه بابا، کابل...
2. عام نوم: هغه دی چې یو خاص سړی یا شی ترې نه مرادیږی، بلکی پرټولو افرادو یو شان دلالت کوي؛لکه
سړی، لرګی...

3. د جنس نوم: هغه دی چې په یو جنس باندی دلالت کوی، لکه: اوبه، غوړی، غنم...
4. د جمعیت نوم یا دلیز نوم: هغه دی چې په لفظ کې مفرد وی او په معنا کې د یوی ډلی او جمعیت د پاره راځي؛ لکه لښکر، اولس...
5. مجرد نوم: هغه دی چې مادي وجود نه لري یعني په سترګو نه لیدل کیږي، لکه: عقل، پوهه...

## نوم د مرکبوالی او بسیطوالی په لحاظ په دوه ډوله ده:

1. مرکب نوم: چې له دوو یا زیاتو کلمو څخه جوړ شوی وی: لکه: شیرپور، کندهار، شیر شاه مېنه...
2. بسیط نوم: هغه دی چې یوه مفرده کلمه وي او نور توکي نه لري؛ لکه: کټ، اور، لاس...

## مذکر او مؤنث نومونه:

ټول نومونه په پښتو کې د جنسیت له مخه پر دو ډوله دی:

1 – نرینه
2 – ښځینه

د نرینه نوم نښې په لاندې ډول ښودل کیږي:

1. نرمه (ی): لکه: لرګی، منګی، سړی...
2. څرګند (واو): لکه: تالو، بانو...
3. کوچنی (هـ)؛ لکه: تره، وراره...
4. نرم (واو)؛ لکه: پلو، لو...
5. ټول نومونه چې په اخر کې یې اصلي توری راغلی وی او سماعي مؤنث نه وي مذکر ګڼل کیږی؛ لکه میز، لاس...

## د مؤنث ډولونه:

مؤنث په پښتو کې پر څلور ډوله وېشل کیږي:

1. حقیقی لفظی (ساکښ، نښه وال): ذیروح نوم وي او د تانیث نښه هم پکې وي؛ لکه: غوا، چرګه...
2. حقیقی غیر لفظي (ساکښ، بې نښه): ساکښ نوم وي او د تانیث نښه نه لري؛ لکه: مور، خور،... دې قسم ته معنوي مؤنث هم وایي.
3. غیر حقیقي لفظي (بې سا، نښه وال): بې سا شیانو نوم وي او د تانیث علامه پکې وي؛ لکه: لښته، پاڼه، غرمه...
4. غیر حقیقي غیر لفظي (بي سا، بې نښه): بې سا شیانو نوم دی او دتانیث نښه هم پکې نه وي؛ لکه: لمن، ستن، میچن، څنګل،... دې قسم ته سماعی مؤنث هم وایي.

## مفرد او جمع نومونه:

نوم د شمېر له مخه پر دوه ډوله دی:

1 – مفرد
2 – جمع

1. مفرد: هغه دي چې پریوه شی یا یو کس باندي دلالت کوی؛ لکه: هلک، ونه...
2. جمع: هغه ده چې پر دوه یا زیاتو شیانو او کسانو دلالت کوي؛ لکه: هلکان، ونې، لرګي...

د اسم حالتونه
د نوم حالتونه پر دوه ډوله دی:
1 – معنوی
2 – لفظی

### د نوم معنوی حالتونه

د نوم مشهور معنوی حالتونه څلور دی:

1. فاعلی حالت: کوم نوم چې په جمله کې فاعل وی یعنې یو کار له هغه څخه صادر شی؛ لکه: ځلمی خط لیکی. په دې جمله کې (ځلمی) فاعلی حالت لری.
2. مفعولی حالت: که چیرې یو نوم په جمله کې مفعول واقع شی دغه حالت ته مفعولی حالت وایي؛ لکه: بریالی ډوډی خوري.
   په دې جمله کې (ډوډی) په مفعولی حالت کې دی.
3. ندايي حالت: که چیری یو نوم ته غږ او ندا وشی نو هغه نوم په ندايي حالت کې دی؛ لکه: ای ورورہ! تا ته وایم. په دې جمله کې (ورور) ندايي حالت لري.
4. ارتباطی حالت: که چیری یو نوم د ارتباط له اداتو سره استعمال شی او د ارتباط توري یا ورځنې د مخه او یا وروسته راشي نو هغه نوم ارتباطی حالت لري؛ لکه: له کوره راغلم.
   په دې جمله کې (کور) ارتباطی حالت لري.
   او د ارتباط توری په کی (له) دی.

### ضمیرونه

ضمیرهغه کلمه ده چې د نوم په ځای د تکرار د لرې کولو د پاره راځي.
ضمیرونه په پښتو کې مختلف ډولونه لری چې مشهور یې دا دي:
شخصی ضمیرونه، اضافی ضمیرونه (ملکی ضمیرونه)، اشاری ضمیرونه، اشتفهامی او ربطی ضمیرونه او مبهم ضمیرونه.

### شخصی ضمیرونه :

هغه دی چې پر یو معین شخص یعنې په متکلم، مخاطب، او غایب باندې دلالت کوی. شخصی ضمیرونه د استعمال له مخه په پیوست (متصل) او نا پیوست (منفصل) باندې ویشل کیږي.

#### 1 – متصل ضمیرونه :

هغه دی چې یوازې نه راځي او تل د فعل سره یوځای استعمالیږي؛ لکه:
(م) د مفرد د متکلم د پاره؛ لکه: په (ځم) کې.
(و) د جمع متکلم د پآره؛ لکه: په (ځو) کې.
دغه متصل ضمیرونه دوه حالته لري فاعلي او مفعولي، په لازمي فعلونو کې د فاعل په حیث او په متعدي فعلونو کې د مفعول په حیث راځي؛ لکه:

فاعلی حالت:
مفرد: زه کرځم
جمع: مونږ کرځو

مفعولي حالت:
مفرد: ځلمی زه وپېژندلم
جمع: مونږ وپېژندلو

## 2 – منفصل ضمیرونه:

هغه دی چې له بلې کلمې سره پیوست نه راځی بلکه ځانته او جلاليکل کیږي، منفصل ضمیرونه پر دوه ډوله دی:
1 – مستقل (خپلواک)
2 – غیر مستقل (نا خپلواک)

خپلواک منفصل ضمیرونه په لاندی ډول ښودل کیږي:
زه، ما – د مفرد متکلم د پاره
مونږ – د جمع متکلم د پاره، او داسي نور.
نا خپلواک منفصل ضمیرونه چې ځانته شکل لری خو د نورو کلیمو نه بغیر نه استعمالیږي، دغه ضمیرونه په لاندې ډول دي؛ لکه:
مي، مو – د متکلم د پاره
دي، مو – د مخاطب دپاره
يي – دغایب د پاره
مثالونه يي دا دي:
کتاب مي واخیست. ته مي چیری بیایې؟ کتاب مو واخیست. کتاب يي واخیست.

## اضافی ضمیرونه (ملکی ضمیرونه)

په پښتو کي اضافی منفصل ضمیرونه په لاندی ډول ښودل کیږی:
زما، زمونږ – د متکلم د پاره
ستا، ستاسي – د مخاطب د پاره
مثالونه يي دا دي:
زما کور په کابل کي دی. زمونږ هیواد افغانستان نومیږي. ستافکر ښه دی. ستاسي خیال څنګه دی؟ او داسي نور...

## اشاری ضمیرونه:

په پښتو کي ځیني اشاری ضمیرونه هم شته دی چي د اشارې لپاره د اشخاصو او شیانو په ځای استعمالیږي. په پښتو کي اشاري ضمیرونه په لاندی ډول دي:

دغه، دغو – د نژدې مذکر د پاره
هغه، هغو – دلرې مذکر د پاره
دغې، دغو – د نژدې مؤنث د پاره. او داسي نور.

مثالونه يي دا دي:
دغې ډوډی پخه کړه.
دغه راغلی وه. او داسي نور.

## استفهامی او ربطی ضمیرونه:

استفهامی ضمیرونه هغه دی چي د سوال او پوښتني په وخت کي استعمالیږي او په لاندی ډول ښودل کیږي؛ لکه: چا، څوک د اشخاصو د پآره راځي.

مثالونه يي دا دي:

چا خط ولیکه؟
څوک راغلی ده؟ او داسې نور...
څووم، څوومه، کوم او کومه دا ضمیرونه هغه وخت استعمالیږي چې مرجع ورسره نه وي ذکر شوی؛ لکه: څووم دی په کار دی؟ کوم دي په کار دی. او داسې نور.
مبهم ضمیرونه:

په پښتو کې ځیني مبهم ضمیرونه هم شته چې د یو نامعلوم شی یا شخص پرځای استعمالیږي او پر دوه ډوله دی:
1 – بسیط
2 – مرکب
بسیط مبهم ضمیرونه ډیر دی او یو څو یې دا دي:
څوک – څوک کار کوي او څوک ساعت تیروي.
چا – چا کار کړی دی او چا نه دی کړی. او داسې نور.
مرکب مبهم ضمیرونه ډیر دی او یو څویې دا دي:
هر څوک – هر څوک خپل کار کوي.
هر چا – هرچا خبرې و کړې. او داسې نور.

## صفت

صفت هغې کلیمې ته وایې چې د یو نوم حالت، کیفیت او څرنګوالی بیانوي. صفات پر څو ډوله دی او په لاندې ډول بنودل کیږي:

1. اصلی صفت: چې د یونوم ذاتي ښه والی او بدوای ښکاره کوي؛ لکه: ښه سړی، مشر سړی او داسې نور.
2. نسبتی صفت: چې یو بل نوم ته یې نسبت شوی وي؛ لکه: کندهاري، پکتیاوال، یوسفزی او داسې نور.
3. اشاری صفت: هغه کلیمې چې د هغو په واسط یو نوم ته اشاره وشي اشاری صفت بلل کیږي؛ لکه: دا کرتی دري په څو روپی کندلې ده. دغه باغ د انګورو دی. دا ونه ښه سیوری لري. او داسې نور.
4. عددی صفت: هغه کلیمې دي چې د هغو په واسط د یو شي شمیر او اندازه معلوم میږي؛ لکه: دوه لاسونه، دوې سترګې او داسې نور.
کې چیرې یو هدد یوازې شمیر او اندازه وښیې مطلق عدد یې بولې او که چیرې په رتبه او درجه دلالت وکړي نو رتبي عدد ورته وایې؛ لکه: دی یو کمیس په شل افغانی کندې.
5. اسفهامي صفتونه: چې د پوښتنې په وخت کې استعمالیږي او موصوف ورسره راغلی وي؛ لکه: څومره غنم دې په کار دي. او داسې نور.
6. فعلی صفتونه: هغه دي چې د فعل او کولو معنا هم په کې وي او نورو صفاتو په شان د یو نوم حال او شان هم بیانوي. فعلی صفتونه پر دوه ډوله دي:

I. فاعلی صفات؛ لکه: پالونکی، تلونکی او داسي نور.
II. مفعولی صفات؛ لکه: ساتلی، لیکلی او داسي نور.

په پښتوکي صفت تر موصوف د مخه راځي.

**مجرد (معنا) صفتونه:**

مجرد وصف هغه ته وايي چې په خارج کې کوم مادي وجود نه لري او خالی وصف او حالت تري مراديږي؛ لکه: ليونتوب، روغتيا، اوږدوالی، دوستي او داسي نور...
(توب، تيا، والی، ي) دغه علامې د اسم اوصفت په اخر کې راځي او مجرد صفتونه تري جوړيږي؛ لکه: سړی (سړيتوب)، لوی (لوی والی، روغ (روغتيا)، انډيوال (انډيوالی) او داسي نور...

مصدر (زیږنده)

مصدر هغه کلمه ده چې بې له زماني څخه يو فعل او کار ښيي او زمانه پرې نه معلوميږي.
په پښتو کې مصدر د لفظ په لحاظ په پنځه ډوله دی:
1 – لام والا؛ لکه: وهل، تلل.
2 – ول والا؛ لکه: غورځول، ماتول.
3 – يدل والا؛ لکه: کرځيدل، پاځيدل.
4 – کول والا؛ لکه: پورته کول، پخلا کول.
5 – کيدل والا؛ لکه: پرې کيدل، وهل کيدل.

## فعل

فعل هغه کلمه ده چې په يوه زمانه کې د يو کار په کولو او يا کېدلو دلالت کوي.
فعل د اشخاصوپه لحاظ په درې ډوله دي:

1 – متکلم فعل
2 – مخاطب فعل
3 – غايب فعل

فعل د معنا په لحاظ شپږ ډوله دي:

| | |
|---|---|
| 1 – لازمي | 2 – متعدي |
| 3 – معلوم | 4 – مجهول |
| 5 – مثبت | 6 – منفي |

1. لازمي: يوازې په فاعل تماميږي: لکه: کېناست.
2. متعدي: فعل سر بيره په فاعل، مفعول هم غواړي؛ لکه: ځلمی لولی، زه خط ليکم...
3. معلوم: که چيرې په حمله کې د يو فعل فاعل معلوم وي هغه ته معلوم فعل وايي؛ لکه: زه دې پيژنم.
4. مجهول: که چيرې په جمله کې د يو فعل فاعل معلوم نه وي هغه ته مجهول فعل وايي؛ لکه: ځلمی هره

ورځ
وهل کیږي.
5. مثبت: د یو کار په کولو دلالت کوي؛ لکه: زه هره ورځ لامیم.
6. منفی: د یو کار په نه کولو دلالت کوي؛ لکه: زه نن مدرسه ته نه ځم.

فعل د زماني په لحاظ په دري ډوله دي:

حال، مستقبل او ماضي.
حال فعل: حال فعل هغه کلمه ده چي په موجوده زمانه کي د یو کار په کولو دلالت کوي. لکه: اورم، واورم، اوریدلی شم.
مستقبل فعل: مستقبل هغه کلمه ده چي په راتلونکي زمانه کي د یو کار په کولو دلالت کوي. اورم به، وبه لیکم، اورو به. ماضي فعل
ماضی فعل هغي کلمي ته وایي چي په تېره زمانه کي پر یو فعل دلالت کوي.
ماضي په پښتو کي ډېر ډولونه لري او په لاندی ډول ښودل کیږي.
1. استمراری ماضي: چي په تېره زمانه کي د یو فعل دوام او استمرار ښيي.
مثالونه یي دا دي: ختلم – د مفرد متکلم د پاره ، ختلو – د جمع متکلم د پاره
2. مطلقه ماضي: هغه ده چي په مطلق ډول په تېره زمانه کي د یو فعل په کولو دلالت کوي.
مثالونه یي دا دي: زه په باغ کي وګرځیدم، مونږ‌په باغ کي وګرځیدو.
3. نژدي ماضي: په نژدي زمانه کي د یوکار په کولو دلالت کوي.
مثالونه: ختلی یم، ختلی یو.
4. لري ماضي: په لري زمانه کي د یو کار په کولو دلالت کوي.
مثالونه: ختلی وم، ختلی وو. او داسی نور
5. امکاني ماضي: امکانی ماضي هغي ته وایي چي په تیره زمانه کي د یو کار امکان ښیي.
لکه: ختلای شم، ختلای شوو. وختلای شم، و ختلای شوو.
6. احتمالي ماضي: په تېره زمانه کي په احتمالي ډول د یو کار په کولو دلالت کوي.
مثالونه یي: راغلی به یم، راغلی به یو . او داسي نور
7. تمنايي ماضي: په تېره زمانه کي د یو فعل د کولو هیله (ارزو) ښکاره کوي؛ لکه: کاشکي زه هم تلل وای، که ته ورغلی وای ښه به وو.
8. تاکیدي ماضي: له لري ماضي څخه فعلی صفت په اخرکي (به) په زیاتولو جوړیږی؛ لکه: راغلی به ؤ، تللی به وي.

## قـیـو د

قیود هغه کلیمي دي چي دفعل سره یو ځای کیږي او هغه په یو حالت او وضعیت پوري مقید کوي؛ لکه: (ځلمی راغی) هیڅ قید نشته او که ووایو چي (ځلمی په خندا راغی) نو دلته یو بل شی هم پیدا شو چي د راتلو فعل یي په هغه پوري مقید کړ او هغه دخندا حالت دی.

د قید مشهور ډولونه:

1. د زماني قیود: چي یو فعل ته د زماني او وخت قید ورکوي؛ لکه: پرون ولاړم، اوس راغلم.
2. د ځای او مکان قیود؛ لکه: دلته کښینه، پاس وخیژه.
3. د شک قیود؛ لکه: ګوندي راشی، ښایي سبابه ولاړ شم.
4. د علت او سبب قیود؛ لکه: څله ځي؟ ولی نه کښینې؟

## نـحـو ه

تهیه و ترتیب: استاد انجینیر امین الله (امین)

نحوه عربی کلمه ده، لغوی معنا يې لاره، روش او طرزدی، په اصطلاح کې د ګرامر هغه بر خه ده، چې په جمله کې د کلمو د مطابقت، اړيکو، ترتيب او ترکيب په هکله بحث کوی.
يوه بله پيژند نه يې داسې ده:
نحوه هغې پوهې ته ويل کيږی چې د يوی ژبې د جملو، عبارتونه، فقرو او تر کيبونو له جوړښت، ترتيب او تنظيم څخه بحث کوی.

## نحوی واحدونه:

په ګرامری معنا او مفهوم د يوی ژبې تر ټولو کوچنی واحد، چې د ويشلو وړ نه وی تکميم يا نحوی واحد ورته وايی.

د مثال په ډول، کله چې ووايو: دغه څوک دی؟ که د همدی سواليه جملې په ځواب کې وويل شی: نجلی، په ګرامری لحاظ بشپړ مطلب ادا، شو. دلته (نجلی) يو تکميم يا کوچنی نحوی واحد دی.
**ترکيب:** ترکيب د دوو يا زياتو خپلواکو او نا خپلواکو کلمو ټولګه ده، چې برخه يې يوه له بلې سره ګرامری اړيکی لری.
ترکيبونه لومړی په اسمی او فعلی ډلو ويشل کيږی. د اسمی ترکيبونو اساسی برخه اسم يا نوم وی او د فعلی ترکيبونو اساسی برخه فعلی وی.

اسمی ترکيبونه ډير ډير ډولونه لری، لکه: اضافی ترکيبونه، توصيفی ترکيبونه، عددی ترکيبونه، قيدی ترکيبونه، تاکيدی ترکيبونه او اداتی تر کيبونه.
فقره: فقره هم يوه نحوی واحد دی چې د جملې اساسی ارکان مبتداء او خبر دواړه لری. خو کله په نحوی جوړښت کې د معنا له مخې د جملې د بلې برخې جز ګرځی او ورپوری مقيديږی.
د مثال په ډول: پسرلی راغی، يوه خپلواکه ګرامی بڼه ده، خو که وويل شی: (پسرلی چې راغی) په دغه حالت کې په (چې) سره مقيده شوه او بايد بله ګرامری بڼه ورپوری وتړل شی، چې معنايی پوره شی. په دی ډول: پسرلی چې راغی نری ښکلی کيږی. فقری دبنی او اړيکو له مخې بيلابيل ډولونه لری: کوچنی فقری او لويی فقری. لويی فقری بيا په خپلواکو او مقيدو فقرو ويشل کيږی.
جمله: جمله عربی کلمه ده. لغوی معنايی ټولګه يا مجموعه ده او په اصطلاح کې د الفاظو او کلمو يو داسې ترکيب چې يو بشپړ مفهوم افاده کړی جمله بلل کيږی.

يا په بله وينا: جمله د يوی ژبی هغه خپلواکه ګرامری بڼه ده، چې د جوړښت او معنا له مخې پوره او بشپړه وی. په جمله کې الفاظ او کلمی يوه له بلې سره نحوی اړيکی لری او خپلواکه پوره معنا او مفهوم وړاندی کوی.

## د جملی د جوړښت توکی:

د يوی بشپړی جملې په جوړښت کې خپلواک توکی او مرستيال توکی ونده لری په خپلواکو توکو کې خپلواکی کلمی، لکه: نومونه، ځيز نومونه، صفتونه، ضمرونه او فيدونه راځی اوپه کومکی توکو کې ادات، لاحقی يا وروستاړی او مختاړی او داسی نور راځی.

## د جملی اساسی برخی:

هره جمله دوی بنسټيزی او اساسی برخی لری: مبتداء او خبر.

1. **مبتدا (مسند اليه يا فاعل) :** مبتدا په ګرامری توګه د يوی خپلواکی معنا لرونکی جملې برخه ګڼل کيږی او په جمله کې دهغه په باب خبر ورکول کيږی . لکه په دی لاندی جملو کې:
لمر راوخوت، خلک خپل کار کوی تيل توی شوی
په پورته جملو کې (لمر، خلک، تيل) د جملو مبتداوی دی

2. **خبر (مسند – فعل) :** خبر هم د جملې اساسی او مهمه برخه جوړوی دا د جملې هغه برخه ده، چې د مبتداء حال څرګندوی خبر د جوړښت له مخې په ساده او مرکب باندی بيليږی

**تهيه و ترتيب:** **استاد انجينير امين الله (امين)**

**خبر په دوه ډوله دی:** اسمی خبر او فعلی خبر.
هغه جملې چې د خبر په برخه کی یی پوره فعل یا فعلی ترکیب راغلی وی د فعلی جملی په نوم یادیږی او خبر دواړه نومونه وی اسمی جملی ورته وایی
د پښتو د جملې په جوړښت کی یوه مهمه ځانګړنه داده چی مبتدا او خبر مطابقت او سمون سره لری دا سمون د جملې د فعل او فاعل یا مبتدا او خبر ترمنځ له دریو اړخونو (د شخص، جنس او عدد) له مخی موجود وی

**د جملې ډولونه:**

جملې د بنې او جوړښت له مخی په ساده او مرکبه باندی ویشل کیږی

1. **ساده جمله:** هغه جمله ده چې یو فاعل او یو فعل یا له یوی مبتدا او یو خبر څخه جوړه وی
لکه: احمد راغی، لمرپرپوت.
2. **مرکبه جمله:** هغه ده چی له دو و یا زیاتو ساده جملوڅخه جوړه وی
لکه: لمر راخوت، نړی رڼا شوه. احمد راغی، کتاب یی راوړ.
جمله د معنا له مخی په دو وسترو ډولونو ویشل کیږی، خبری، ناخبری
3. **خبری جمله:** دی ډول جملی ته بیانی جمله هم وایی د یو څیز د حال او کیفیت بیان او څرګندوی کوی یا په بله ژبه یو فکر د خبر په بڼه بیانوی، لکه: احمدشاه بابا د افغانستان نومیالی واکمن تیر شوی دی زموږ ښونکی ډیره ورتیالری
4. **ناخبری یا انشایی جمله:** ناخبری جملې دا لاندی ډولونه لری:

**امریه جمله:** چی د وینا وال موخه یکی د یوکار غوښتنه، د امر، حکم، هیلی، بلنی مشوری او اخطار په بڼه وی
لکه: درس ولوله! کار وکړه.
**د پوښتنې جمله:** د ویونکی مطلب او موخه یکی پوښتنه او له مقابل لوری څخه د ځواب غوښتنه وی، لکه:
څه وخت راغلی؟ چیرته ځی؟ او نور

**تعجبی جمله:** د حیرانتیا په حالت ویل کیږی یا د حیرانی څرګندویی کوی
لکه: څومره ښه خلک دی! څه کارونه یی ونه کړل!

**تمنایی جمله:** د غوښتنی او هیلی مفهوم یکی نغښتی وی، لکه: کاشکی لاړشم! ارمان چی راغلی وای!

**شکی احتمالی جمله:** چی مقصد او مطلب یکی ثابت نه وی او شخص په دو و کی حیران او دوه زړی وی، لکه: ښایی زه هم ولاړشم، ګونډی مرسته را سره وکړی

**ټینګاری جمله:** د تاکید او ټینګار په موخه او مقصد راځی، لکه: خامخا به راځی، حتمی ورشه!

**قسمیه جمله:** چی په یو کار باندی د خلکو د باور کولو له پاره په یو سپیڅلی ذات باندی قسم او لوړه څرګندوی
لکه: خدایږو څه به نه وایم، په خدای چی ورځم.

**دعاییه جمله:** د خیر ښیګنی غوښتلو او څرګندولو له پاره ویل کیږی
لکه: ځه الله دی مل شه! خدای دی په خپل مقصد کی کامیاب کړه.

**د لیک نښې نښانې**

د لیک دود، دبنه والی په لړ کي ځيني اشاري، علامې او نښي نښاني هم شته چي په هره ليکنه کې د هغو خيال ساتل لازمي او ضروري دی
بي نښو نښانو ليکنه د لوستونکو لپاره ډيري مشکلات پيښوی او په ځينو ځايو کي تري سمه معنا هم نه اخيستل کيږي له دي کبله غواړو چي دغه نښاني په لنډ ډول بيان کړو تر څو د ليک دود نيمګړې پاتې نشي.

**تهیه و ترتیب:** **استاد انجینیر امین الله (امین)**

1. ټکی ( . ) : دا نښه د پوره جملو په پای کې ایښودل کیږي او د جملې تمام والی ښيي؛ لکه: له پروت زمری نه ګرځنده ګیدړ ښه دی

2. چپه پېښ (،) : دا نښه د یوې لنډې وقفې لپاره په کاریږي؛ لکه: خوشحال خان ختک د پښتو یو لوی شاعر، ستر ادیب او پوخ متفکر دی.

3. ټکی او چپه پېښ (؛) : دا نښه د زیاتې وقفې لپاره په کاریږي؛ لکه: له هغه علم څخه چې اخلاق ورسره نه وي؛ ناپوهي غوره ده.

4. دوه ټکي (:) : دا نښه د یوې کلیمې یا یوې جملې د سیرنی او ښارنی علامه ده؛ یعنې د هغې کلیمې او جملې په پای کې لیکل کیږي چې وروروسته وریسې شرح او تفصیل راځي؛ لکه: د ژوندانه د کامیابی ستنې دا دی: پوهه، روغتیا، روزنه او اخلاق.

5. ټپوسنی (؟) : دا نښه د سوال او د پوښتنې په وخت کې راوړل کیږي یعنې د هر ډول سوالیه جملوپه پای کې راځي؛ لکه: بې عمله علم څه په کار دی؟

6. ندایيه یا (!) : دا نښه د غږ، ندا ، تعجب، شاباش او افسوس په وخت کې په کاریږي؛ لکه: ای ځلمیه!، اوه څومره ښکلی مرغی ده!
کله چې پووښتنه او تنبیه دواړه مطلب وي نو د ټپوس او تنبیه نښې دواړه یو ځای راځي؛ لکه: د خدای د پاره دا څه حال دی؟!

ادات

هغه ناخپلواکه کلمې دی چې په ځانګړی توګه کومه معنا او مفهوم نه افاده کوی، خو کله چې له نورو خپلواکو کلمو سره په جملو کی یو ځای شی، نو بیا معنا ورکوی.

ادات د جملو په جوړښت او رغونه کی اساسی ونده لری او پرته له هغو جملی نه جوړیږی. ادات دا لاندی ډولونه لری:

1 – ارتباطی ادات، لکه: هسی، که څه هم او داسی نور.
2 – د عطف ادات، لکه: او ، که یا نور.
3 – د اضافت ادات (د)، لکه: د احمد قلم.
4 – تشبیهی ادات، لکه: غوندی، په څیر، په دود، په توګه او نور.

څلورم څپرکی

## د بدیع علم

د بدیع بلغوی معنا نوی، تازه او حیرانونکی شی دی او په ادبی اصطلاح هغه پوهنه ده، چې د وینا او کلام له ښکلا او هغو صنایعو څخه بحث کوی، چې نظم او نثر ته ښکلا وربښی.

د بدیع د علم وضعه کوونکی عبدالله بن معتز دی. نوموړی په (274 هـ ق) کال په دی اړه په عربی ژبه یو مفصل کتاب (البدیع) تالیف کړ او ورو ورو دغه پوهنه نورو ژبو ته خپره شوه.

د بدیع د علم موضوع فصیحه او بلیغه ادبي وینا ده او هغه څه ته چې د بلیغي وینا د ښکلا سبب کیږي ادبي صنعتونه وایي. ادبي صنفتونه په دوه ډوله دي: لفظي صنعتونه او معنوي صنعتونه.

## لفظي صنعتونه

هغه دي چې د وینا ښکلا په کلمو پورې اړه ولري. که دغو کلمو ته د معنا په خوندي ساتنه بدلون ورکړو د وینا ښکلا له منځه ځي.

د لفظي صنعتونه شمیر زیات دی، د ځینو نومونه یې دادي: تجنیس او د هغه بیلابیل ډولونه، قلب، توشیح، ذوالقوافي، اشتقاق، ترصیع، سیاق الاعداد، المربع، تکرار، تضمین، معما، منقوط، غیر منقوط، سجع او داسې نور.

**1 – تجنیس:** په لغت هم جنس کولو ته وایي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې د شعر په یو بیت یا نیم بیتي کې دوې یا زیاتي داسې کلمې راشي چې په لیک او لوست کې تولې سره یوشي او یا یو څه سره ورته او په معنا کې سره بیلې وي.
تجنیس دا لاندې ډولونه لري:

| | | |
|---|---|---|
| 1 – تام | 2 – ناقص | 3 – زاید |
| 4 – مرکب | 5 – مکرر | 6 – خطي تجنیس |

تام تجنیس: هغه تجنیس دی چې شاعر په خپل کلام کې داسې دوې کلمې راوړي چې شکل یې یو او معنایي بیله وي لکه پیر محمد کاکړ چې وایي:

په ما خوري د زړګي وینې     آشنا مې نشته الله مې وینې

په پورته بیت کې (وینې) د درې د (خون) په معنا او په دویم کې (وینې) د لیدلو به معنا دی. چې تام تجنیس بلل کیږي.

**ناقص تجنیس:** هغه تجنیس دی چې د متجانسو کلمو شکل یو او معنا بیله وي، خو په حرکاتو کې توپیر ولري، لکه:

د یار غم راسره څه وایم چې څه کړي     تل مې وینې د زړه روی لکه روی
چې پخوا تر قضا خپله رضا غواړي     بیهوده په لوټو ولې آسمان ولې

د لومړي بیت په دویم مسره کې لومړی (روی) د رودلو په معنا او دویمه (روی) د یو ډول کوچنې حیوان په معنا دی، په دویم بیت دویمه مسره کې لومړی (ولې) د پوښتنې ضمیر دی او دویم (ولې) د ویشتلو معنا ورکوي.

مرکب تجنیس: هغه تجنیس دی چې د متجانسو کلمو څخه یوه کلمه بسیطه اوبله یې مرکب وي، مرکب تجنیس په دوه ډوله دی. متشابه مرکب او مفروق مرکب.

**الف – متشابه مرکب:** هغه دی چې بسیط او مرکبه کلمه دواړه یو ډول شکل ولري، لکه: احمد شاه بابا چې وایي:

ستاپړ مخ باندې اوربل دی     ځکه اوربل مې په کوګل دی

په لومړي مسره کې (اوربل) د تندې ویښتانو یا پیکې ته وایي او یوه بسیطه کلمه ده خو په دویمه مسره کې (اوربل) له (اور) او (بل) څخه یوه مرکبه کلمه ده چې اور او بل بیلې معنا ګانې لري.

**ب – مفروق مرکب:** هغه تجنیس دی چې بسیط کلمه د بسیطي او مرکبه د مرکبې شکل ولري، لکه:

چې په سترګو څراغ ووینې پتنګ     څو ونه مري له ژوندونه وي په تنګ

**تهیه و ترتیب:** **استاد انجینیر امین الله (امین)**

په پورتنی بیت کی پتنګ بسیط کلمه او (په تنګ) مرکبه کلمه ده.

**زاید تجنیس:** چې د متجانسو کلمو څخه د یوی کلمی په سر یا منځ یا پای کی یو توری زیات راشي، لکه:

خوب له یاره سره هم د عاشق نشی　　　چې یی یار په بل دیار وی څه به خوب کا

**مکرر تجنیس:** هغه تجنیس ته وایي چې شاعر د خپل شعر په پای کی دوی داسی متجانس کلمی څنګ په څنګ راوړی چې د لومړی کلمی په سر کی یو یا څو توری زیات وی. لکه:

پر کبلیوباندی رحم د سپوږمۍ　　　د رقیب لاسونه مشه په دلبر بر

**مطرف تجنیس:** هغه تجنیس ته وایي چې د متجانسو کلمو شکل یو وی خو په یوه توري کی سره بیل وی، لکه:

د یار یاد لکه صیقل زړه پرې صفاکا　　　آینی دی د خاطر ونیوه زنګ

**خطی تجنیس:** هغه تجنیس ته وایي چې متجانس کلمی په خط کی سره یو شی یعنی پرته له ټکو څخه یو ډول شکل ولری، لکه:

چې په تورو سترګو تور رانجه شی پوری　　　له یوی توری بلا پاڅی سل نوری

**توشیح:** هغه ادبی صنعت ته ویل کیږی چې د شعر د بیتونو یا مسرو لومړی توری سره یو ځای شی، له هغه څخه نوم، مسره، بیت یا کومه جمله جوړه شی، لکه:

(ګ) ګمراهانو سره مه ګډوه ځان　　　فرمایلی دی نبی اخر زمان
(ل) له فضولو بد کارانو صحبت مه کړه　　　بل خبری ته غوږ مه ږده د نادان
(م) مدام ګرځه په مجلس کی د نیکانو　　　قایم اوسه په خپل دین کی مسلمان
(ل) له ګناه به منزه وی هغه څوک　　　چی ثنا صفت تل وایي په زبان
(و) ورکول بل ته د خدای په نامه ښه دی　　　په قران کی داسی وایي پاک سبحان
(ک) که دی ګنج لکه قارون په دنیا ډیرشی　　　بی کفنه توښه نشی وړی د ځان

پورتنی شعر کی ګل ملوک پخپل نامه ویلی دی که دتولو بیتونو لومړی توری سره یوځای شی، ګل ملوک ځنی جوړیږی.

**2 – قلب:** په لغت کی سرچپه کولوته وایي، د بدیع د علم په اصطلاح په یوه ویناکی د دوو یا زیاتو داسی کلمو راوړل دی چې توری یی په بڼه (ډول) او عدد کی یو ډول او پّ ترتیب کی اوښتی وی لکه:

د دوران له انقلابه لابقا شی　　　اعتماد به دانا څه په ادا اقبال کا

په پورته بیت کی د (لابقا) کلمه په (اقبال) اوښتی دی.

قلب په څلور ډوله دی: قلب کل، قلب بعض، قلب مستوی، قلب منجنح.

**قلب کُل:** هغه قلب ته وایي چې د کلمی ټول توری سره اوښتی وی، لکه:

زلفی په مخ کړه خم په خم　　　کینه و ما ته مخ په مخ
کینه و ما ته مخ په مخ　　　زلفی په مخ کړه خم په خم

په پورته مثال کی ګورو چې (خم) په (خم) او (مخ) په (مخ) کلمی سرچپه شوی دی او د کلمی دواړو توری سره اوښتی دی، نو ځکه یی قلب کل بولی.

**قلب بعض:** هغه قلب ته وایي چې د کلمی ځینی توری اوښتی وی، لکه:

لکه ابر د بهار هسی ده ژړل باربار

**قلب مستوی:** هغه قلب ته وایی چې مقلوبې ترکیبونه له دواړو خواوو څخه په عین شکل او معنا و لوستل شي، لکه:

سګ مګس خو سګ مګس دی نور به نشي که هر څویی اړوی کاواک کاواک دی

**قلب مجنح:** هغه قلب ته وایي چې مقلوبې کلمې یوه د بیت په سر او بله یې په پای کې وی، لکه:

مال د (م) څولګی را او (ج) دزلفو یم لویدلی په بلا کی لکه لام

**3 – المربع:** هغه نظم یا شعر ته وایي چې یو شاعر یوه رباعی داسی راوړی چې عمودی او افقی یو ډول ولوستل شي.

د یار له غمه په زړه افکار یم له غمه څه وایم درد مند یم خوار یم
په زړه دردمند یم هر ګوره بیماریم افکار یم خوار یم بیمار یم زاریم

پورتنی شعر عمودی او افقی یو شان لوستل کیږی.

**4 – تضمین:** د سند او مثال په توګه شاعر د خپل کلام د تقویې له پاره د مضمون د تام ارتباط په صورت کی د بل چا د نظم یوه توټه، نیم بیتی، بیت، یا څو بیتونه په خپل شعر یا نظم کی را وړلوته تضمین وایی. دا لاندی ډولونه لری: ابداع یا رفوتضمین، استعانه، مصرع تضمین له تصرف سره تضمین، بی تصرفه تضمین. دلته د ابداع یا دفو تضمین یو مثال راوړو:

(دا په مخ یی د خط لیکه دو تا راغله که کعبی لره مشکینه قبا راغله

پورته بیت د بیدل هشغنری دی، مګر لومړی نیم بیتی یی د حمید راخیستی دی. د حمید د شعر ټول بیت په دی ډول دی:

دا په مخ یی د خط لیکه دوتا راغله ګویا مخ لره دی توره بلا راغله

بیدل ورڅخه لومړی نیم بیتی تضمین کړی دی.

**5 – ترصیع:** ترصیع عربی کلمه ده، په لغت کی د جواهرو کینولو ته وایی، په ادبی اصطلاح کی هغه صنعت دی چې شاعر خپل یو بیت په څو برخو ویشی. هره برخه د بلی برخې په مقابل کی داسی رواړی، چې په وزن کی سره برابروی. لکه د رحمان بابا دا

لاندی بیت:

په حالت د عاشقانو نظر بویه په زیارت د شهیدانو ګذر بویه

په دی بیت کی (حالت – زیارت)، (عاشقانو – شهیدانو) او (نظر – ګذر) یو دبل په مقابل کی راغلی دی.

یا:

دلبران یی خادمان خرقه بدوش شول سروران یی غلامان حلقه بګوش شول

**6 – ذو القوافی:** هغه شعر دی چې له دوو څخه زیاتی قافیی ولری او که د قافیو ترمنځ رد یفونه هم ولری، نو بیا یی ذوالقوفی مح الحواجب بولی. لکه په دی لاندی بیت کی:

چا د شرف ورکی د لیلانه جلباب لری کړ چا د ژوند سفرکی د حیانه شباب لری کړ

تهیه و ترتیب: استاد انجینیر امین الله (امین)

په پور ته بیت کی (ور – سفر)، (لیلا – حیاء) او (جلباب – شباب) د قافیی کلمی دی او (لری کړ – لری کړ) یی د ردیف په توګه راغلی دی.

7 – **سجع :** سجع په لغت کی د کوتری (قمری) موزون آواز ته ویل کیږی، او په اصطلاح کی د جملو یا فقرو وروستی هم اهنګی ته سجع ویل کیږی، سجع په نثر کی راځی او دغه ډول نثر ته مسجع نثر ویل کیږی، لکه:

د خوار یا ژړا ده یا ښیرا

سجع په دری ډوله دی:

1 – متوازی سجع: هم وزن او هم د اخر توری یو وی.
2 – متوازن سجع: هم وزن وی
3 – مطرف سجع: شباهت په آخر توری کی وی.

## معنوی صنعتونه

معنوی صنعتونه هغه ادبی صنعتونه دی چی په هغو کی د وینا یا کلام ښکلا په معنا پوری اړه لری که کلمی ته د معنا په ساتنه بدلون ورکړو بیا هم ښکلا پر خپل ځای پاتی کیږی.
د معنوی صنعتونو شمیر زیات دی، د ځینو نومونه یی دادی:
تضاد یا طباق، ایهام، لف و نشر، عکس و تبدیل، عارفانه تجاهل، التفات، جمع، تفریق، مراعات النظیر، ارسال المثل، تعجب، اغراق، تکرار حسن، متحمل الضدین، مبالغه، حسن تعلیل، تنسیق الصفات، استدلال، مخاطبه، هجو، رجوع او داسی نور.

1 – **طباق :** په یو کلام یا شعرکی، چی متقابل الفاظ، لکه رڼا او تیاره، شپه او ورځ، ژړا او خندا، مرګ او ژوند، خوشالی او خپګان، تور او سپین او داسی نور یو ځای سره راوړل شی، د طباق صنعت ورته وایی: د مثال په ډول د عبدالقادر خان ختک دا لاندی بیت وګوری:

چی یی تلمه په خندا خندا دیدار ته | اوس یی درومم په ژړا مزار ته

یا:

زه په سرو سترګو ژړا کړم چی ته درومی | ته له ما چی رخصتیږی په خندا ځی

په پورته شعرونو کی د خندا او ژړا کلمو په ذکر سره طباق موجود دی.

یا:

مرګ له تندی په مذهب زما بهتر دی | نه ژوندون د دون همتو په اوبو

طباق په دری ډولونو: اسمی، فعلی، ایجابی او سلبی طباق باندی ویشل شوی دی.

2 – **مراعات النظیر :** دی صنعت ته تناسب او تلفیق هم وایی. هغه ادبی صنعت دی چی شاعر په خپل شعر کی داسی کلمی سره یوځای کړی چی یو له بله تناسب او نژدی یوالی ولری.
لکه د خوږدل شاعر په دی بیت کی:

د زړه شمعه می د عشق غوړو ډکه | ژر پری لګه د محبوب د دیدن اوره

یا لکه علی خان چی وایی:

د ښایست مرغه د خط په پرو والوت | د عاشق په زړه یوه نرمه هوا راغله

کله چې شاعر په لومړی نیم بیتی کی دشمعی یادونه کړی، نو د هغی مناسباتو او ملایماتو یعنی اور او غوړوته هم اشاره کوی، نو په یو بیت کی د داسی متناسبو الفاظو، چې یو له بل سره تناسب ولری، را وړلوته د مراعات النظیر ادبی صنعت وایی. همدارنګه علی خان په پورته بیت کی د مارغه کلمه راوړی ده، نو د هغی سره یی مناسبت: پر، الوت، نرمه هواچې د الوتلو سره پیدا کیږی، تول ذکر کړی دی، نو د مراعات النظیر صنعت یی بولو.

یا:

که هرڅو یی په تندی ږدی اری زلفی		شانه نه پریږدی د مستی خوري زلفی

**3 – لف او نشر:** که یو شاعر په یو بیت یا مسره کی ځینی مطالب ادا جمال په صورت راوړی او په بله مسره یا بیت کی دهغی هر یو متعلق څه بله معنا راوړی شی لف او نشر یی بولی.

یا په بله ویناک

که یو شاعر یو ځل څو شیان په کلام کی ذکر کړی او د هغه تعبیر بیا په ترتیب یا وړاندی وروسته بنه باندی وکړی لف او نشریی

بولی. لکه دا لاندی بیت:

مخ که دی ګلشن دی یا څراغ دی یا سورګل		زه باندی بورایم، یا پتنګ یم یا بلبل

دلته وینو چې شاعر پّ لومړی نیم بیت کی د (ګلشن، څراغ او سور ګل) یادونه کړی ده او په دویم نیم بیتی کی یی د هغوی مطابق (بورا، پتنګ او بلبل) یاد کړی دی، چې یو له بل سره مناسبت لری.

لف او نشر په مر تب او غیر مرتب لف او نشر باندی ویشل کیږی.

د مرتب لف و نشر بیلګه:

دا څه یار دا څه جانان دا څه اغیار دی		دا څه ګل دا څه بلبل دا څه زغن دی

په پورته بیت کی په لومړی نیم بیتی کی یی یار، جانان او اغیار یاد کړی او د هغوی تعبیر په دویم نیم بیتی کی په ترتیب سره: ګل، بلبل او زغن باندی شوی دی، چې دغی بنایست ته مرتب لف و نشر ویل کیږی.

د غیر مرتب لف او نشر بیلګه:

یا به دد یا به لرم یا به منګوریی		که داړل کړی یا چیچل یا چانیش یی

**4 – عکس او تبدیل:** کله چې شاعر دلومړی مسری یا فقری کلمی په دویمه مسری یا فقره کی راوړی او د معنا تضاد ورڅخه رامنځته شی د عکس او تبدیل ادبی صنعت ویل کیږی،

لکه په دی لاندی بیتونو کی:

ما په سل کرته یاد کړی ته رانغلی		زه به سل کرته درشم که تا یاد کړم

یا:

سخی که لک ورکا وده ته کک وی		بخیل که کک ورکا وده ته لک وی

د پورته بیتونو په لومړی بیت کی د اول نیم بیتی کلمی په دویم نیم بیتی کی سره اوښتی دی او د معنا تضادیی را منځته کړی دی. سل کرته یادول یو کرت نه ورتلل. او سل کرته تګ یو کرت یادول د صنعت په لحاظ عکس او تبدیل دی.

او همدارنګه په دویم مثال کی د سخی لک ورکول کک ګڼل او د بخیل کک ور کول لک ګڼل سره تضاد لری او له بلی خوا د بیت د لومړی نیم بیتی کلمی په دویم نیم بیتی کی سره اوښتی او د عکس تبدیل صنعت ورڅخه جوړشوی دی.

**5 – حسن تعلیل:** د یو وصف له پاره د یوه غیر حقیقی، مګر لطیف او مناسب سبب، چې شاعر د یو صنعت له پاره داسی علت پیدا کړی، چې په اصل حقیقت کی یی سبب نه وی، مګر د لطافت او حسن له کبله یی دغه صنعت

ته نسبت کیدای شی.
لکه حمید مومند چې وایې:

چې نظر یې د ګلرخ ساقی پر مخ شو　　　د نرګس له لاسه جام پریوت نسکورشو

یا:

وغږوه سترګی زلفی لری د رخسار کړه　　　ستاليدو ته ریږدی لمر په پانو کی د ګلو

که دی پ،رته بیت ته وګورو، نو د هغه محبوب لیدنهو چې د شرابو جام هم په لاس کی ولری، د نرګس پر ګل دومره اغیز کوی چې خپل جام یې له لاسه پریو ځی او نسکوریږی.
په دویم بیت کی شاعر د یار مخ لیدل د لمر دریږد یدلو او خوځیرلو علت ګنل دی، که څه هم په حقیقت دغه علت نشی کیدلی، خو ډیر ښه لطافت لری.

یا:

کعبی تور کمیس اغوستی دی له غمه　　　مظلومان قربانی کیږی بی حسابه

**6 – رجوع :** رجوع په لغت بیرته راګرځیدلوته وایی او په ادبی اصطلاح کی هغه ادبی صنعت دی، چې یو څوک یو مطلب یو ځل څرګند کړی او بیا پّ وروستی جمله یا نیم بیتی کی دیو خاص غرض له پاره خپله کړی خبره باطله کړی او له خپل مطلب څخه وګرځی.

لکه خوشحال خان ختک چې وایی:

که ښه وایم و چاته هم یی بد نیسی په زړه کی
یا بخت دی د مغلو یا زما څه عقل کم دی
نه بخت دی د مغلو یا زما څه عقل کم دی
دا ګل واړه پیری ده، چې می کار درهم برهم دی

که دا پورته دوه بیتونه و ګورو وینو چې خوشحال خان ختک یو ځل خپلی کم بختی او کم عقلی ته اشاره کوی او وروسته بیا له خپل مطلب څخه ګرځی او د هر څه اصلی لامل او علت پیری او ضعیفی بولی.

**7 – عارفانه تجاهل:** کله چې د یو نزاکت او لطافت له پاره شاعر خپل ځان په یوه شی ناخبره واچوی په داسی حال کی چې ښه پری خبر او ورمعلوم وی په شعر او ادب کی دی ته د عارفانه تجاهل ادبی صنعت ویل کیږی
لکه علی خان چې ویل وایی:

دا د دلبر مخ دی چې له شاله نیم لیده شی
یا زیروتی نمر دی چې لیده شی نیم له غره

یا لکه دا بیت:

دا یی خط دی چې پر مخ دی ګرځیدلی
که زنګیان دی په حرم کوی طواف

په پورته بیت کی معشوقی خپل ښکلی مخ په ښکلی ژیر شال کی پټ کړی دی، خو لږه ښکلی برخه ورڅخه په یوه ګوښه کی ښکاری، چې د ژیر شال عکس وربادی پریوتی دی، نو شاعر ځان ناخبره غورځوی او وایی چې زه نه پوهیږم چې دا دمازیګر لمر دی او که زما د محبوب ښکلی مخ.
یا:

دا د کوم ګلرخ له غمه په ګلشن کی　　　دی ګلان په وینو سره لکه سالو

**8 – تلمیح :** تلمیح په لغت کی په مالګه کولوته وایی او په ادبی اصطلاح کی هغه ادبی صنعت دی چې شاعر په خپل شعر کی یوی تاریخی پیښی او حکایت ته اشاره کړی وی.
لکه:

مګر وژاړه فرهاد بیا سیل د زړکو　　　چې په سرو سترګو راځی له کوهستانه

یا:

د زړه تخت دی ځکه ونیوو دیوانو　　　چې دی ګوته د سلیمان لاړه له لاسه

**تهیه و ترتیب:**　　　**استاد انجینیر امین الله (امین)**

یا:
که رقیب مې نړدی نه پرېږدی محبوب ته د یوسف د کمیس بوی بس دی یعقوب ته
په لومړی بیت کی د شیرینې عاشق فرهاد، په دویم کی د سلیمان (ع) نګین او په دریم کی د یوسف (ع) او حضرت یعقوب (ع) واقعوته اشاره ده.

**9 – سوال او ځواب:** هغه صنعت ته ویل کیږی چی شاعر په خپل شعر کی پوښتنې او جوابونه سره یوځای کړی، په یوه مسره کی پوښتنه وکړی او په بله کی ځواب ورکړی.
لکه پیر محمد کاکړ چی وایی:

وی مې زلفې پر مخ ولې تاویږی
وی نوروز دی شپه او ورځ سمیږی

وی مې وروځې دی لیندی باندی دی غشی
وی ناوک دی د عاشق په زړه څرخیږی

وی مې سترګی دی تر کومه خونخواری کا
وی دا باز د ښکار په وینو نه مړیږی

وی مې ماته ستا د غاښو تعریف وکړه
ولې ږلی ده په لاله کی چی ویلیږی

وی مې ووایه علاج د ژړا څه کړم
وی باران د رحمت ښه دی چی وریږی

وی مې خوار شو پیر محمد په عاشقی کی
وی پرما چی مینه کړی هغه حواریږی

**10 – ارسال المثل:** که شاعر په خپل کلام کی کوم مشهور متل راوړی، هغه ته ارسال المثل وایی.

لکه:
چی اوربشی کری کله غنم کیږی          دی ریښتیا چی څه کري هغه اخلی
یا:
وصل و هجر د یار دواړه ورور خور دی په دنیا کی بی زحمته راحت نه وی

**11 – مبالغه :** که شاعر خپل شعر کی د یوشی وصف تر اندازی زیات بیان کړی او یایی تصریق او تکذیب ته شدت او قوت ورکړی، مبالغه ورته وایی

مبالغه په دری ډوله ده.

**الف – تبلیغ :** چی مدعا او مقصد د عقل او عادت له مخی امکان ولری، لکه:

له خوشحال سره کی کینی یو څو کاله          دا د غره ختک به واړه شاعران شی

**ب – اغراق :** چی مدعا د عقل له مخی امکان ولری خو د عادت له مخی ناشونی (ناممکن) وی، لکه:

ز ه رحمان په زړه نری کړم هغو نجونو	چې یې ملا ده د ویښته په دود نری

ج – **غلو :** چې مدعا او مقصد هم د عقل له مخې او هم د عادت له مخې ناشونی وی، لکه:

بې له تا هسې ضعیف یم ګلرخساره	پر حباب باندې که پښه ږدم نه ماتیږی

12 – **تکرار حسن:** هغه صنعت ته وایې چې شاعر په خپل کلام کې کومه کلمه د ترجیح، تاکید، ډیروالی یا داسې نورو اغراضو له امله تکرار کړی، لکه:

ستا ملالو ستر ګو زړه له مانه یووړ	اهو چشمه ګلرخسار راشه

چې همیش دې د اغیار په لور شفر دی یو ځل یار ته له اغیاره راشه

یا:

بیا راغله دی و جهان ته بل وار نشته	بل وار نشته بل وار نشته وار دی ادا

13 – **کیسې (لغز) :** چې د یو شی خواص، صفات او نوری نښې وښودل شی او د دغو خواصو او نښو له مخې له مخاطب څخه د هغه شی د ښودلو پوښتنه وشی، لکه:

له پاسه راغی سور بلوخ	اغوستی یې پنځه پنځوس
سور دی صندوقک دی	له سرو غمیو ډک دی

له لومړی کیسې څخه مقصد پیاز او له دویمې څخه انار دی.

## پنځم څپرکی

# بیان

بیان په لغت کې سپړل، څرګندول او په ډاګه کولو ته وایې، په اصطلاح کې بیان هغه علم دی چې د یوی معنا دلالت په بیلابیلو لارو رانبیی.

د بیان علم اصلی موضوعات مجاز ا کنایه دی، خو تشبیه له مستعار مجاز سره د تړاو په صورت کې هم ملګری کیږی

د ځینو څیړونکو په نظر په اسلامی دوره کې لومړنی سړی، چې د بیان علم په اړه څیړنې کړی، هغه ابو عبیده مثنی دی، د زوکړی کال یې معلوم نه دی خو د مړینې کال یې (211 هـ ق) ښوول شوی دی.

ابو عبیده د بیان په باب د مجاز القران په نوم یو کتاب لیکلی.

ابو عبیده په مجاز القران کې هغه کلمات راټول کړی، چې د موضوع په لحاظ په معانی کې استعمال نه لری، بلکې په مجازی معناوو کې یې استعمالوی.

### تشبیه

تشبیه یو داسې ادبی ښایست دی، چې په منظوم کلام کې ښکلا، خوند، کیفیت زیاتوی او د شعری ژبې په کارولو کې ځانګړی ونډه او ارزښت لری

تشبیه ورته کولو یا یو شی یا یو څیز د بل په شان کیدو ته وایی یا: په یوه ځانګړی معنا کی د دوو شیانو ګډون ته، په دی شرط چی د دواړو تر منځ یو یا څوګډ خصوصیتونه موجود وی، ورته کول تشبیه ده.
د مثال په ډول که ووا یو چی: (ناپوهی مرګ او پوهه ژوندون دی)
نو په دی وینا کی ناپوهی او جهالت له مرګ سره، علم او پوهه له ژوندون سره تشبیه یا ورته شوی دی.
یا لکه په لاندی شعر کی:

پتنګ یم شمعی ښکلول دی غواړم
که څنګ دی ډیک د سرو لمبو دی ښه دی

شاعر په دی بیت کی خپل ځان له پتنګ سره تشبیه کړی دی او له شمعی څخه یی هدف خپل هیواد دی چی د ابادولو او سمسور لو لپاره یی هر راز سربښندنی ته تیار دی.
د شاعر او پتنګ تر منځ د تشبه وجه یا ګډ خصوصیات مینه، محبت او وفاداری ده.

## د تشبیه رکنون:

تشبیه پنځه رکنون لری: مشبه، مشبه به، د تشبیه وجه، د تشبیه ادات، د تشبیه غرض.
مشبه او مشبه به ته د تشبیه طرفین یا اصلی ارکان هم ویل شوی دی، ځکه چی د تشبیه په صورت کی یی شتون حتمی دی. د دوه نورو (وجه شبه او ادات تشبیه) ذکر او شتون حتمی او اړین نه دی.

### 1. مشبه:

هغه شی چی تشبیه کیری د مشبه په نوم یادیری.
یا: مشبه هغه څوک یا شی یا حال دی، چی له بل چا یا شی یا حال سره تشبیه کرای شوی وی.

د بیلګی په ډول: که و وایو چی (باران اوری) په دی کلام کی د تشبیه کوم طرف نشته او که و وایو چی (د غم باران اوری) دلته د تشبیه طرفین موجود دی.
غم یی له باران سره تشبیه کړی دی.
یا لکه په لاندی بیت کی چی (محبت) له اور سره تشبیه شوی دی:

هیڅ مه نه زده محبت که اور دی ادا      په اور سوځم په رضا که زور دی ادا

یا لکه په لاندی لنډی کی:

زړه مرغلره ده چی مات شی      بیا د لباس په خندا ناځلی کوشیرونه

پورته لنډی کی (زړه) مشبه دی چی له مرغلری سره تشبیه شوی دی.

### 2. مشبه به:

له کوم شی سره چی یو شی تشبیه کیری د مشبه به په نامه یادیری.
یا: مشبه به هغه څوک یا شی یا حال دی چی د بل چا یا حال ورته والی او تشبیه له ده سره شوی وی.
لکه: په دی لاندی جمله کی:
(پوهنه د رڼا په څیر ده) په دی جمله کی (رڼآ) مشبه به راغلی ده.
یا لکه د رحمان بابا په لاندی بیت کی:

که حرص دربادی زور شی مرګ درياد کره   ادا علاج دی دغه رنځ لره محکم

رحمان په دی بیت کی (حرص) له (رنځ) سره او (مرګ) یی له (علاج) سره تشبیه کړی دی، رنځ او علاج دواړه مشبه به دی، یعنی د نورو شیانو تشبیه له دوی سره شوی ده.
په همدی ډول په لاندی بیت کی چی (مارونه) د (زلفو) لپاره مشبه به دی:

چې خوړلې د یار زلفو منګرویم سرګردانه په سراغ د پاړوګریم

یا لکه په لاندې لنډۍ کې چې (مرغلرې) مشبه به او (خولي) مشبه دی.

چې مرغلرې ترې شرمیږي هغه خولي زما د یار پر مخ راځینه

### 3. د تشبیه وجه:

هغه یو یا څو مشترک صفتونه چې د مشبه او مشبه به تر منځ موجود وي، د تشبیه وجه یې بولي. د وجه شبه ذکر په بیت کې کله وي او کله نه.

لکه په لاندې بیت کې:

د بادام په څیر مې زړه سورې سورې شو چې راپور ته په غمزه سترګې بانو کړې

په پورته بیت کې (زړه) مشبه، (بادام) مشبه به، (په څیر) د تشبیه کلمه، (سورې سورې کیدل) یې د تشبیه وجه یا مشترک صفت دی.

د تشبیه وجه ښایي په مشبه به کې تر مشبه زیاته قوي او څرګنده وي.

د رحمان بابا لاندې بیت وګورئ چې د تشبیه د وجهې ذکر پکې لفظه نه دی شو:

یا به قند یا به نبات او یا به شهد وي هر کلام چې له رحمانه شنیده شي

په پورته بیت کې د رحمان (هرکلام) مشبه، (قند، نبات، شهد) درې واړه مشبه بهات دي.

(خوږوالی) یې د تشبیه وجه ده، مګر په بیت کې لفظا نه ده ذکر شوې.

یا لکه په لاندې بیت کې:

که هر څو د بنو غشي کاږه ولي بو له نبنې د زړه نه درومي خطا

### 4. د تشبیه ادات یا کلمې:

هغه ادات یا کلمې دي چې زیاتره د هغو پّ واسطه د مشبه او مشبه به تر منځ تشبیه قایمیږي.

د تشبیه ادات دادي: لکه، په څیر، په شان، غوندې، هغسې، هسې ، داسې، څنګه، په دود، که، په رنګ...

لکه:

خوند لرې زما خوږې خبرې په شکرو کې هم نشته هسې خوند (رحمان بابا)

په غوږو دې زلفې هسې معلومیږي لکه ولویږې هندو په سپینو زرو (حنان)

چې د سپرلي ګلونه ګورم ماته د ګل په شان جانان را یادوینه

په پورته لومړي مثال کې (هسې)، دویم کې (هسې – لکه)، دریم کې (په – شان) د تشبیه ادات یا کلمې دي.

### 5. د تشبیه غرض:

هغه مقصد او مطلب چې له تشبیه څخه اخیستل کیږي، د تشبیه غرض ورته وایي.

یا: د مشبه د حال بیان او ستاینه د تشبیه غرض دی. لکه: ښکلا، ښه والې، بد والي او نور...

د تشبیه غرض زیاتره مشبه ته راجع کیږي. د بیلګې په ډول:

که ووایو چې: (دا اوبه لکه د شاتو خوږې دي) په دې جمله کې: (اوبه) مشبه، (شات) مشبه به، (لکه) د تشبیه ادات، (خوږوالی) یې وجه شبه ده.

او د تشبیه غرض د اوبو خوږوالی ثابتول دي.

### د تشبیه ویش

د تشبیه ویش په لاندې ډول شوی دی:

د مشبه ا مشبه به د موقعیتونو له مخې تشبیه په مفروقه او ملفوفه تشبیه باندې ویشل کیږي.

**تهیه و ترتیب: استاد انجینیر امین الله (امین)**

مفروقه تشبیه: هغه ده چې په بیت یا مسره کې مشبه او مشبه به یوبل ته څېرمه یا نږدې واقع شوې وي.
لکه:

خط دې تور حرفونه، مخ دې پاڼې د کتاب دی
شغل د کتاب دې بل کتاب راخخه یووړ

رحمان بابا په دې بیت کې د محبوب پر مخ (تور خط) (ږیره او بریت) له تورو حرفونو سره او (مخ) یې د (کتاب) له پاڼو سره تشبیه کړی دی.
څرنګه چې مشبه او مشبه به سره نږدې واقع شوي دي، نو د طرفینو د موقعیت په لحاظ مفروقه تشبیه ده.
یا لکه په لاندې پښتو لنډۍ کې:
سترګې ډولۍ، بانه پرې چتر د جانان مینه پکې ناوې ګرځومه

په پورته لنډۍ کې (سترګې) مشبه، (ډولۍ) مشبه به، (بانه) مشبه، (چتر) مشبه به، (د جانان مینه) مشبه، (ناوې) مشبه به دی. دا چې مشبه او مشبه به یا د تشبیه طرفین یو بل ته څېرمه راغلي دي، نو مفروقه تشبیه یې بولي.

## ملفوفه تشبیه:

که چیرې په یو بیت یا مسره کې څومشبه او څومشبه به داسې راوړل شي چې له مشبه سره مشبه په یو نیم بیتي کې او له مشبه به سره مشبه به په بل نیم بیتي کې راغلي وي، یعنې له مشبه سره مشبه به نږدې یا څنګ په څنګ نه وي راغلي؛
ملفوفه تشبیه یې بولي لکه په لاندې بیت کې:

توري زلفې شنه خالونه، سره رخسار
شنه توتیان دي سره ګلونه تور ښامار

په پورته بیت کې (زلفې) مشبه، (ښامار) مشبه به، (توروالی)، (اوږدوالی) یې وجه شبه.
(خالونه) مشبه، (توتیان) مشبه به، (شینوالی او ښایست) یې وجه شبه.
( رخسار) مشبه، (ګلونه) مشبه به، (سوروالی او ښایست) یې وجه شبه ده.
څرنګه چې مشبه ګانې په یو نیم بیتي او مشبه به په بل نیم بیتي کې یعنې سره لرې راغلي دي نو ملفوفه تشبیه یې بولي.

## ب – د تشبیه ویش د ابتذال او ندرت په لحاظ:

د ابتذال او ندرت په لحاظ تشبیه په مبتذله او نادره تشبیه باندې ویشل کیږي.

**نادره تشبیه:** هغه تشبیه ده چې شاعرانو کې لږ استعمال ولري او یا کوم شاعر نوې پیدا کړې وي.
لکه په دې بیت کې:

چې یې خال په مخ کې وینم حیرانیږم
په جنت کې ولې ږدي عاصي یو ګام

په پورته بیت کې (خال) مشبه، (عاصي) مشبه به، (مخ) مشبه، (جنت) مشبه به دی.
د (خال) او (عاصي) تر منځ (توروالی) وجه شبه ده. د (مخ) او (جنت) تر منځ د تشبیه وجه ښایست او سپینوالی دی.
څرنګه چې لږ شمیر شاعرانو کارولې ده، نو نادره تشبیه یې بولي.

**مبتذله تشبیه:** هغه ده چې په شاعرانو کې خورا زیات استعمال ولري.
لکه د (زلفو) تشبیه له (سنبل) سره یا د (مخ) تشبیه له (ګل) سره چې هر شاعر دا کار کړی دی.
لکه په لاندې بیتو کې:

| | |
|---|---|
| مخ دې لکه ګل صنم | زلفې دې سنبل صنم |
| که هر څو د بنو غشي کاږه ولې | بوله نښې د زړه نه درومي خطا |

په لومړۍ بیت کی مخ له ګل سره او زلفی له سنبل سره او په دویم بیت کی (بانړه) له (غشو) سره تشبیه شوی.

### ج – د تشبیه ویش د وجه شبه په لحاظ:

د وجه شبه په لحاظ تشبیه پر مفصله او مجمله باندی ویشل کیږی

**مفصله تشبیه :** هغه ده چی د تشبیه وجه لفظا په بیت کی دکر شوی وی.
لکه په دی بیت کی:

دغفلت په خوب ویده خلک یی نه اوری     که حمید ناری وهی لکه جرس

په پورته بیت کی حمید (خپل ځان) له (جرس) سره تشبیه کړی دی، (ناری وهل) یی وجه شبه ده چی لفظا ذکر ده، نو مفصله تشبیه ده.

مجمله تشبیه: هغه تشبیه ده چی د طرفینو تر منځ یی د تشبیه وجه لفظا نه وی ذکر شوی.

لکه په لاندی بیت کی:

مخ دی لکه لمر دی ورته ځیر کتلی نه شم
ځکه یی د مدحی له عهدو وتلی نه شم

عبدالقهار ختک چی د خوشحال خان ختک زوی دی پخپل پورته بیت کی یی د (محبوب مخ) له (لمر) سره تشبیه کړی دی. د (مخ) او (لمر) تر منځ د تشبیه وجه چی (ښایست او روښنایی) ده په څرګند ډول په کلام کی ذکر شوی نه ده، نوځکه یی مجمله تشبیه بولی.

### د – د تشبیه ویش د اداتو په لحاظ:

د اداتو په لحاظ تشبیه پر مرسله یا مطلقه او مؤکده باندی ویشل کیږی.
**مرسله یا مطلقه تشبیه :** هغه تشبیه ده چی د تشبیه ادات یا کلمی په بیت کی ذکر وی، لکه په دی بیت کی:

ښامارانو غوند ګرځی په ګنجونو     نشته هیڅ په زړه کی ډار د تورو زلفو

په دی بیت کی (زلفی) له (ښامارانو) سره تشبیه دی. د زلفو او ښامارانو تر منځ د تشبیه ادات (غوندی) په بیت کی ذکر ده ، نود اداتو د ذکر په لحاظ مرسله یا مطلقه تشبیه ده.

**مؤکده تشبیه :** هغه تشبیه ده چی د مشبه او مشبه به تر منځ د تشبیه ادات یا کلمی په بیت کی نه وی ذکر شوی.
لکه په دی لاندی بیت کی:

نه به په زور په زاری خلاص شی، نه په عقل دانش
دنیا دامګاه، ژوندون دانه، اجل یی دام اینبی دی

د پورته بیت په دویم نیم بیتی کی: (دنیا) له (دامګاه) سره (ژوندون) له (دانی) سره (اجل) له (دام) سره تشبیه شوی دی، خو دتشبیه د اداتو ذکر پکی نه دی شوی، نو مؤکده تشبیه یی بولی.

### مجاز

مجاز په لغت کی اجازه ور کره شوی ته وایی، د دلاوری او تجاوز کولو په معنا هم راغلی دی.

په اصطلاح کی که یوه کلمه د خپلی اصلی او حقیقی مانا څخه تجاوز وکړی او د یوی غیر وضعی مانا لپاره راوړل شی مجاز بلل کیږی. د مثال په ډول که زلمی ته ووایو:

زمریه دلته راشه! په دی جمله کی (زمری) داسی کلمه ده چی په اصل کی د زمری لپاره چی په زړه ورتوب کی شهرت لری وضع شوی، نه د زلمی لپاره نو داچی موږ دا کلمه د زلمی لپاره راوړو مجاز بلل کیږی.

کله چی یو لفظ د مجازی معنا لپاره راوړو باید د حقیقی او مجازی معنا تر منځ کومه علاقه او نسبت موجود وی.

مجاز په دوه ډوله دی: استعاره او مرسل مجاز.

## استعاره

استعاره په لغت کی عاریت غوښتلو ته وایی او په اصطلاح کی د غیر حقیقی معنا لپاره د کوم لفظ کارولو ته وایی په دی شرط چی د حقیقی او مجازی معنا تر منځ د تشبیه علاقه موجود وی.

د تشبیه او استعاری توپیر

1 – په تشبیه کی مشبه او مشبه به دواړه باید ذکر شی او په استعاره کی یوازی مستعار منه (مشبه به) ذکر کیږی.

2 – په تشبیه کی مشبه او مشبه به په منځ کی مشترک وصف ته وجه شبه وایی او په استعاره کی یی (وجه جامع) بولی، په تشبیه کله کله وجه شبه او ادات راوړل کیږی خو په استعاره کی وجه جامع نه راوړل کیږی او ادات بیخی وجود نلری.

3 – په تشبیه کی د قرینی راوړلو ته ضرورت نشته خو پّ استعاره کی قرینه باید راوړل شی.

یادونه: په استعاره کی مشبه ته (مستعار له) او مشبه به ته (مستعار منه) وایی.

د استعاری ډولونه

1. **مصرحه استعاره:** هغی استعاری ته وایی چی مستعار له حذف شی او یوازی مستعار منه راوړل شی. لکه:

د نور چاپه ما څه کار دی زه پری خوش یم
کی می دل و دین همه واړه بتان وړی

په پورتنی بیت کی (بتان) مستعار منه دی او (ښکلی) مستعار له دی چی ذکر شوی نه دی.

2. **مکنیه استعاره:** هغی استعاری ته وایی چی شاعر مستعار له ذکر کړی او مستعار منه حذف کړی خو د مستعار منه له متعلقاتو څخه کوم شی رواړی. لکه:

هر ساعت زما د غوږ په تاوولو — د فلک لاسونه شنه شوه تر څنګلو

په پورتنی بیت کی (فلک) د ظالم سړی لپاره استعاره شوی دی یعنی مستعارله (فلک) او مستعار منه (سړی) دی، لاس د مستعار منه له متعلقاتو څخه شمیرل کیږی.

3. **اصلیه استعاره:** هغی استعاری ته وایی چی شاعر په خپل کلام کی کوم جامد اسم استعاره کړی. لکه:

جی سنبل یی غوړوی پر مخ پوهیږم — اور د عشق به می تازه د سبا باد کا

په پورتنی بیت کی (سنبل) د ویښته لپاره استعاره شوی دی او سنبل جامد اسم دی.

4. **تعبیه استعاره:** هغې استعارې ته وايي چې د مستعار لفظ فعل، حرف يا مشتق اسم په کې استعاره شوی وي، لکه:

هرپلورنې ولې بهاندې  خاندې له خوښيه سروهي له سنګړونه
په پورتني بيت کې (خاند) فعل دی چې د اوبو د شرهار لپاره استعاره شوی دی.

5. **مطلقه استعاره:** هغې استعارې ته وايي چې د مستعار منه يا مستعار له له متعلقاتو څخه کوم شی نه وي ذکر شوی. لکه:

د ديدن په ګدايي کې مې ننګ نشي  درويز کريم د بتانو په بازار ګډ

په پورتني بيت کې (بتان) د ښکلو لپاره استعاره شوی دی چې بتان مستعار منه او ښکلې مستعار له بلل کيږي.

6. **مرشحه استعاره:** هغې استعارې ته وايي چې مستعار منه له متعلقاتو څخه کوم شی ذکر شی. لکه:

ستا د غشوله پر هاره به روغ نشم  چې ويشتلی دی په زړه لکه نخچيريم

په پورتني بيت کې پرهاره (غشی) د باڼوګانو لپاره استعاره شوی دی (ويشتل او پرهار) چې د غشی يعنی د مستعار منه له متعلقاتو څخه دی هم ذکر شوی دی.

7. **مجرده استعاره:** هغې استعارې ته وايي چې د مستعار له علايم او متعلقات راوړل شی. لکه:

نه له ما د مهر خوی ولاړ د بتانو  نه د جور و دجفا رسم له دوی ولاړ

په پورتني بيت کې (بتان) مستعار منه او (ښکلې) مستعار له دی (دجور او دجفا) رسم د ښکلو (مسعارله) له متعلقاتو څخه شميرل کيږي.

## مرسل مجاز

که چيرې د حقيقي او مجازي معنا ترمنځ بې له تشبيه څخه نورې علاقې موجودې وي، مرسل مجاز بلل کيږي. لکه:

راته وکړه په دې سرو شونډو بيان لږ  دا زما په اوږو واچوه احسان لږ

په پورتني بيت کې (شونډې) ذکر شوې دي خو مطلب يې ژبه ده، ځکه چې بيان پّ شونډو باندې نه کيږي او د ژبې او شونډو ترمنځ د مجاورت او ګاونډې علاقه ده نه د تشبيه.

**د مرسل مجاز علاقې**

1 – **د سببيت علاقه:** چې سبب ذکر شي او مراد يې مسبب وي، لکه:

هسې موږ کړم د يار غم له خپله عمره چې په حلق کې مې اوبه د حيوان نښلي

په پورتني بيت کې له (موړ) څخه مراد بيزاري ده، د موړ سبب بيزاري دی.

2 – **د مسببيت علاقه:** چې مسبب ذکر شي او مراد يې سبب وي، لکه:

ښادي څه غواړې په عشق کې د ګلرخو تمامي عمر د زړونو سوليده دی

په پورتني بيت کې (غم) د زړه د سوليدو مسبب ګرځي.

3 – **د کُليت علاقه:** چې کُل ذکر شي او مراد يې جُز وي. لکه:

چا پيژندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې
اوس مې ستا له رويه نوم رسوا په درست جهان دی

**تهيه و ترتيب:** **استاد انجينير امين الله (امين)**

په پورتنی بیت کی (جهان) ذکر شوی دی خو مطلب یی یوازی د رحمان بابا د اوسیدلو ځای او شاوخوا دی.

**4 – د جزئیت علاقه :** چی جُز ذکر شی او مراد یی کُل وی. لکه:

آه و افسوس به څه رنګ زه پیر محمد نه کړم   چی نه زړه لرم په لاس کی نه دلبر

په پورتنی بیت که (لاس) ذکر شوی خو مرادیی ټول ځان دی.

**5 – د ظرفیت علاقه :** چی ظرف ذکر شی او مراد یی مظروف وی. لکه:

رقیبان دی می په آه پوری نه خاندی   د مردانو دیګ پخیری په مهال پس

په پورتنی بیت کی (دیګ) ذکر شوی خو مرادیی خواړه دی.

**6 – د مظروفیت علاقه :** چی مظروف ذکر شی او مراد یی ظرف وی. لکه:

په رویمال می اوښکی وچی کړی ډاډ راکړی   زه فریاد کړم ته زما په دلاسا یی

په پورتنی بیت کی (اوښکی) مظروف او سترګی ظرف دی یعنی د اوښکو مراد سترګی دی.

## کنایه

کنایه هغه ترکیب یا جمله ده چی د ویوونکی هدف او مراد ظاهری معنا نه وی.

کنایه دری ډولونه لری:

**1 – له صفت څخه کنایه :** چی له کنایی څخه مراد صفت وی؛ لکه:

درویزه له درویزګره ناکسی ده   د فلک کچکول ته مه نیسه کچکول

په پورتنی بیت کی (د کچکول نیولو) هدف (ګدایی) ده او ګدایی صفت دی.

**2 – له موصوف (اسم) څخه کنایه :** چی د کوم شی یو یا څو صفتونه راوړل شی او مراد یی په خپله موصوف وی؛ لکه:

اور می بل د زړه په کور کړه   له هر چا هر څه یی تور کړه

په پورتنی بیت کی د شرابو صفت ذکر شوی دی.

**3 – له نسبت څخه کنایه :** چی یو یا څو صفتونه ذکر شی او د سړی متعلق ته یی نسبت شوی وی او مراد یی په خپله سړی وی؛ لکه:

ته چی ماته وایی وایه څوک دی وژنی   ته له خپلو سترګو غواړه دا جواب

په پورتنی بیت کی د وژلو نسبت د معشوقی سترګو ته شوی چی مراد یی په خپله معشوقه دی.

**تهیه و ترتیب:**   **استاد انجینیر امین الله (امین)**

شپږم څپرکی

# د ویپانګه برخه

| شمیره | لغت | معنی |
|---|---|---|
| 1 | ابتذال | بی ارزښتي، ډېر تکراري، سوليدلی |
| 2 | اپريشن | عمليات |
| 3 | اترنګ | يو ډول نکريزي دي |
| 4 | اتل | قهرمان، زړور، تکړه، غيرتمن |
| 5 | اتلان | قهرمانان |
| 6 | اتلولي | قهرمان، زړور، تکړه، غيرتمن |
| 7 | اټکل | تخمين، ګومان |
| 8 | اثار | نبښي لکني، تاليفات |
| 9 | اختناق | خپه کول، د بيان او فکر د آزادی بندول |
| 10 | احسان | ښېګڼه، ښېګڼه کول |
| 11 | اخته | مبتلا، بوخت |
| 12 | اخوت | ورورۍ |
| 13 | اطلس | يو ډول وريښمينه ټوټه |
| 14 | ارادت | له درناوی سره يو ځای مينه او علاقه غوښتنه، قصد |
| 15 | ارزښت | ارزش |
| 16 | ارزول | ارزيابي کول |
| 17 | ارزونه | ارزيابی، ارزښت موندنه |
| 18 | ارکسترا | ډله ييزه موسيقی |
| 19 | اروابناد | شاد روان |
| 20 | التماس | هيله، ارزو |
| 21 | آز | حرص |
| 22 | اړ | محتاج، مجبور او مکلف |
| 23 | اړباسل | احتياجول، محتاج کول |

تهيه و ترتيب: استاد انجينير امين الله (امين)

| | | |
|---|---|---|
| 24 | اړباسي | مجبور وي |
| 25 | اړتیا | ضرورت |
| 26 | اړخ | پهلو |
| 27 | اړدوړ | اغتشاش، ګډو ډي |
| 28 | اړستل | مجبورول |
| **شمیره** | **لغت** | **معنی** |
| 29 | اړه | ارتباط، احتیاج |
| 30 | اړونده | مربوطه |
| 31 | اړیکی | ارتباط |
| 32 | اړین | ضروري، د اړتیاوړ، حتمی |
| 33 | استازي | نماینده |
| 34 | الم | درد |
| 35 | اوتر | وارخطا، پریشان |
| 36 | استوګن | اوسیدونکی |
| 37 | اشلوک | شعر، نظم |
| 38 | اشجار | وني |
| 39 | اشر | ګډکار |
| 40 | اشیا | شیان، څیزونه |
| 41 | اعتراض | انتقاد، ګوتنیونه |
| 42 | اعتیاد | عادت کیدل |
| 43 | اعجاز | هغه کار چه بل څوک ورځخه عاجزوی |
| 44 | اعزاز | عزت، لوړوالی |
| 45 | اوجاړ | خراب |
| 46 | آغلی | ښکلی |
| 47 | اغیز | تاثیر |
| 48 | اغیزناکه | ګټوره، تاثیر لرونکی |

تهیه و ترتیب:　　استاد انجینیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 49 | افاده | بیان، مطلب، ښودل، ویل، څرګندول |
| 50 | افراط | ډیروالی، له اندازې زیات |
| 51 | افضل | غوره |
| 52 | التهاب | یو شی د بل په شان کول، ورته |
| 53 | الهام | په زړه کې لویدل |
| 54 | امتیاز | توپیر، غوره والی |
| 55 | امن | له ضرر نه خلاص، مصؤون |
| 56 | امید | هیله، آرزو |
| 57 | امینان | امانتګران، امانت ساتونکی |
| 58 | اند | فکر |
| 59 | انتباه | عبرت، پند، آګاه شدن |

| **شمیره** | **لغت** | **معنی** |
|---|---|---|
| 60 | انجام | پای، آخر، د یو کارپای |
| 61 | انځور | رسم، تصویر، عکس، څیره په رسامی ډول |
| 62 | انګړ | حویلی |
| 63 | اوبدل | بافت، ګنډل، جوړول |
| 64 | اوډنه | تدوین او تنظیم |
| 65 | اودوم | چاره، علاج |
| 66 | اوډون | ترتیب، اوډل، ترتیبول |
| 67 | اوسمهال | اوس زمانه |
| 68 | اونیزه | جریده، هفته نامه |
| 69 | ایجاد | رامنځته کیدل |
| 70 | ایکي | پیسه، د کابلی روپی شپیتمه برخه ارزښت یی درلود |
| 71 | ایلچي | قاصد، خبر رسان |
| 72 | ایله کیدل | خلاصیدل، خوشي کیدل |
| 73 | آبدات | تاریخی ودانی |

انجنیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 74 | آزموینه | امتحان |
| 75 | اروایی | روحی |
| 76 | آغاز | پیل شروع، د یوکار پیل |
| 77 | آیین | لار، مسلک، عقیده، دین، قانون |
| 78 | باب | فصل، څپرکی (فصل و باب) |
| 79 | باور | اعتماد |
| 80 | بچ | خلاص، ساتل شوی (فصل و باب) |
| 81 | بخڅه | کڅوړه، خورجین |
| 82 | بدلون | تغیر، تحول |
| 83 | بدیع | نوی پیدا کونکی، خلق کوونکی |
| 84 | بریځر | غرمه |
| 85 | بډای | پولدار، شمتن |
| 86 | بردمه | بالکل، مالا مال |
| 87 | بډاینه | غنا، مړیدنه |
| 88 | بډایه | غني |
| 89 | برمل | ماسپښین |
| 90 | برخلیک | سرنوشت |
| **شمیره** | **لغت** | **معنی** |
| 91 | برخمنه | د برخي خاوند |
| 92 | برید | حمله، حد، اندازه |
| 93 | بریښید | معلومیده، څرګندیده |
| 94 | برېن | لوړ باغ |
| 95 | بشپړ | مکمل، پوره |
| 96 | بصیرت | بینایی، پوهه |
| 97 | بقا | پایښت |
| 98 | بل (اور) | افروخته (آتش) |

**تهیه و ترتیب:**    **استاد انجینیر امین الله (امین)**



انجینیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 99 | بلاغت | |
| 100 | بلنه | دعوت، غږکول |
| 101 | بليغ | ويناوال، د وينا کولو وړتيا لرونکی |
| 102 | بنسټ | بيخ، تهداب |
| 103 | بنسټونه | اساسونه، بنيادونه |
| 104 | بڼ | باغ |
| 105 | بدرقه | ملګرتيا، مشايعت |
| 106 | بڼه | خيره، نوع، صورت، شکل، رنګ |
| 107 | بامم | پالم، روزنه |
| 108 | بهرنی | خارجي |
| 109 | بری | فتحه، سوبه، کاميابی |
| 110 | بهير | روند، جريان |
| 111 | بمبڼ | د هندوانو روحانی مشر |
| 112 | بوره | زوی مړی، هغه ښځه چې زوی يې مړوی |
| 113 | بود تون | بتخانه، بتکده |
| 114 | بټ بيديا | توده صحرا، تو بيابان |
| 115 | بوخت | مشغول، مصروف |
| 116 | بوختيا | مصروفيت |
| 117 | بوختياوي | مصروفيتونه، مشغوليتونه |
| 118 | بورجل | اقامت ګاه، سنګر، مسکن |
| 119 | بوډا | پير |
| 120 | بوقلمون | رنګارنګ |
| 121 | بوللـه | قصيده |
| **شميره** | **لغت** | **معنی** |
| 122 | بياځلی | تکراری، دويم ځلي |
| 123 | بيره | تلواړ |

تهيه و ترتيب: استاد انجينير امين الله (امين)

| | | |
|---|---|---|
| 124 | بیری | زولنی |
| 125 | بیلګه | مثال، نمونه |
| 126 | پاخون | انقلاب، قیام |
| 127 | پالنه (پالل) | روزل، پرورانیدل، عبادتکول |
| 128 | پام | توجه، هوش |
| 129 | پانګه | شمتنی، مال |
| 130 | پاړوګر | دو ګر، مار، دموونکی او نیونکی |
| 131 | پایښت | پایدونیکی، بقا |
| 132 | پایله | نتیجه |
| 133 | پایمال | تر پښو لاندي کول، لګدمال |
| 134 | پت | ناموس |
| 135 | پته | آدرس |
| 136 | پرانستل | افتتاح کول، کشودن، خلاصول |
| 137 | پرتله | مقایسه |
| 138 | پرته | بیله، بدون |
| 139 | پرښتي | ملایکی |
| 140 | پرمختګ | ترقی، پیشرفت |
| 141 | پریکړه | فیصله |
| 142 | پری | جسد |
| 143 | پړاو | مرحله |
| 144 | پړاوونه | مرحلی |
| 145 | پړی | رسی، ریسمان |
| 146 | پسخه | د خټو د دیوال رده |
| 147 | پسوللی | سینګار شوی |
| 148 | پل | قدم، نقش پا، ګام |
| 149 | پلا | ځل، وار |

تهیه و ترتیب:　　استاد انجینیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 150 | پلاټ | |
| 151 | بلازمینه | پایتخت |
| 152 | پلن | همواره، عرض دار |
| **شمیره** | **لغت** | **معنی** |
| 153 | پلورل | خرڅول |
| 154 | پلوی | طرفدار |
| 155 | پلویان | طرفداران |
| 156 | پلي | تطبیق، په لار اچونه |
| 157 | پنځ | طبیعت |
| 158 | پنځول | تخلیقول، نوی رامنځ ته کول |
| 159 | پنځیدل | زیږیدل |
| 160 | پندونه | نصیحتونه |
| 161 | پنډ | بار |
| 162 | په څیر | په شان، په مثل (د تشبه ادات دی) |
| 163 | په ګوته کول | نشان دادن |
| 164 | پور | قرض، دین |
| 165 | پوړ | مقام، مرتبه |
| 166 | پوړکی | قشر |
| 167 | پوړی | درجه، پته پایه زینه |
| 168 | پیاوړتیا | غښتلتیا، قوت، ځواک |
| 169 | پیاوړی | قوي |
| 170 | پیر | پلا، وار، دوران |
| 171 | پیرزوینه | لورینه |
| 172 | پیروپلور | اخیستل، خرڅول |
| 173 | پیژند پاڼه | کارت هویت، تذکره |
| 174 | پیشه | کسب کار |

تهیه و ترتیب: استاد انجینیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 175 | پیل | شروع، آغاز |
| 176 | پیلامه | شروع، پیل، لومړی برخه |
| 177 | پیوستون | یو ځای کیدل، یو موټی کیدل |
| 178 | پییل | جیل کول، امیل کول |
| 179 | تاراک | چوروچپاول، برید |
| 180 | تبرک | برکت، درناوی، احترام |
| 181 | تحقیق | تتبع، څیړنه، ریسرچ |
| 182 | تحقیقی | څیړنیز |
| 183 | تخلیق | خلق کول، ایجاد کول، ایجاد، منځته راوړل |
| **شمیره** | **لغت** | **معنی** |
| 184 | تخیل | خیال او تصور، په ذهن کي د یو څیز انځور |
| 185 | تدبیر | چاره، سنجش |
| 186 | تراږ | پریشان |
| 187 | ترځ | ضمن |
| 188 | تریو | ترش |
| 189 | تړاو | اړیکی (ترښت)، رابطه |
| 190 | تشبه | یو شی د بل په شان کول، ورته |
| 191 | تصدیعه | زحمت، تکلیف |
| 192 | تقوا | دار، له ګناه ځان ساتل، پرهیزګاري |
| 193 | تقویه | پیاوړی، قوی |
| 194 | تګلاره | طرزالعمل، پالیسي |
| 195 | تل | بیخ، ژور |
| 196 | تلپاتي | تل ژوندی، همیشنی، مدام |
| 197 | تم | ځنډ، دریدل |
| 198 | تمثیل | په عمل او کړونه ښودل |
| 199 | تملق | چاپلوسی، خوشامندی |

تهیه و ترتیب: استاد انجینیر امین الله (امین)



انجینیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 200 | تمه (طمع) | هيله، اميد، آرزو |
| 201 | تندی | تنده، پيشاني |
| 202 | تنوع | رقم، قسم، نوع، مختلف |
| 203 | تهديد | ګواښ، ترفشار لاندي راوستل |
| 204 | تواضيح | حلم، کميني |
| 205 | توحيد | يو والی، وحدانيت |
| 206 | توکم | اصل، نسل، قوم |
| 207 | توکی | ماده، شی، جزء برخه، عنصر |
| 208 | توکی | برخی، مواد |
| 209 | تولګه | مجموعه |
| 210 | تولګي | مجموعي |
| 211 | تيرمهال | تيره زمانه |
| 212 | تيکی | پوښ، غلاف |
| 213 | تاتوبی | هيواد، د اوسيدو سيمه |
| 214 | تاکلی | غوزه شوی، تعين شوی، معلوم شوی |
| **شميره** | **لغت** | **معنی** |
| 215 | تبر | قوم، ولس |
| 216 | تپ | زخم |
| 217 | تپی | زخمی |
| 218 | تکنده | پوره، غرمه |
| 219 | تکنی | ترسيده |
| 220 | تکنی | ځنډنی |
| 221 | توانمند | قوی، ځواکمند، توانا |
| 222 | توکيدل | زرغونيدل |
| 223 | تولګی | مجموعی |
| 224 | توکه | مزاق |

انجنیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 225 | تولگیوال | هم صنفیان |
| 226 | تولنیز | اجتماعی |
| 227 | ټیټ | لاندی، پایین |
| 228 | ټینګار | تاکید، ټیګیدل، اصرار |
| 229 | جاویدان | همیشنی، تلپاتي |
| 230 | جرګه مار | جرګه کوونکي |
| 231 | جرم | ګناه |
| 232 | جګړه | جنګ |
| 233 | جلا | بیل، جدا |
| 234 | جلا و طن | له هیواد څخه لری کیدل |
| 235 | جلاد | مامور کشتن، سنګدل |
| 236 | جلباب | کمزوري، څادر، پرونی |
| 237 | جمال | ښایست، ښکلا |
| 238 | جهت | لوری، طرف، خوا |
| 239 | جوت | څرګند، ښکاره، معلوم |
| 240 | جوتیری | معلومیری |
| 241 | جود | سخا |
| 242 | جور | ظلم، زیاتي |
| 243 | جوړښت | ساختمان، ترکیب |
| 244 | جوسه | شکل قواره |
| 245 | جونګی | چوچه شتر |
| **شمیره** | **لغت** | **معنی** |
| 246 | جوهر | |
| 247 | چاپیریال | محیط، ماحول |
| 248 | چار | کار |
| 249 | چارواکی | |

انجینیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 250 | چاري | کارونه |
| 251 | چپاور | یرغل، حمله |
| 252 | چټل | کثیف، ناپاک |
| 253 | چټلی | کثافات، مرداري |
| 254 | چلند | چلن، خوی، سلوک، کړه وړه، تګ راتګ |
| 255 | چمتو | آماده، تیار |
| 256 | چمتوالی | آماده ګی |
| 257 | حاجت | ضرورت، اړتیا |
| 258 | حال | باطن |
| 259 | حاوي | چاپیر، مجموعه |
| 260 | حجاب | پرده |
| 261 | حد | اندازه |
| 262 | حرکات | حرکتونه |
| 263 | حریت | آزادی |
| 264 | حساس | |
| 265 | حسرت | افسوس، آرمان |
| 266 | حسن | ښکلا |
| 267 | حصار | قلعه، دیوال |
| 268 | حمد | د الله تعالی ستاینه |
| 269 | حوض | ډنډ |
| 270 | حیثیت | |
| 271 | ځانګړنه | ځانګړتیا، خصوصیت |
| 272 | ځانګرنه/ځانګرتیا | خصوصیت، خاص والی، یو شی چې له بل شی څخه بیل وي |
| 273 | ځانګړني | خصوصیات، مواصفات |
| 274 | ځپل | اذیت کول |
| 275 | ځغرده | جرآت، زورتیا، واضیح خبره |

تهیه و ترتیب: استاد انجینیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 276 | ځلاند | روښانه |
| **شمیره** | **لغت** | **معنی** |
| 277 | ځواک | قوت، طاقت |
| 278 | ځواکمن | قوی، د زور او قوت خاوند |
| 279 | ځوړ | مخ ښکته |
| 280 | ځوړوالی | ښکته والی، تیټوالی |
| 281 | ځیرک | هوښیار |
| 282 | ځیرکتل | په غوره کتل، دقت کول، عمیق نظر |
| 283 | ځیل | نوع، قسم |
| 284 | ځیلونه | انواع، قسمونه |
| 285 | څاڅکی | قطره |
| 286 | څاڅکی څاڅکی | قطره، قطره |
| 287 | څارنه | تر سترګو لاندی ساتل، مراقبت |
| 288 | څابښت | ټکنی غرمه، کچه غرمه |
| 289 | څانګی | ښاخونه، برخی |
| 290 | څرګندونی | توضیحات |
| 291 | څرکونه | نښي نښاني، پلوشي |
| 292 | څرنګوالی | کیفیت |
| 293 | څښتن | خاوند، صاحب |
| 294 | څنګ | اړخ، پهلو، لوری |
| 295 | څومره والی | کمیت، اندازه |
| 296 | څیر | ورته، غوندی، ډول |
| 297 | څیرمه | څنګ ته، خواته، اړخ ته، نږدی |
| 298 | څیرنیز | تحقیقی |
| 299 | څیرونکی | محققین |
| 300 | خاپوړي | چارغاړک |

تهیه و ترتیب: استاد انجینیر امین الله (امین)

| | | |
|---|---|---|
| 301 | خاتمت | ختمیدل، پای ته رسیدل |
| 302 | خار | اغزی |
| 303 | خام | اوم، اومه، هغه ښیزچي پوخ نه وي، نارسیده |
| 304 | خامخا | هرومرو |
| 305 | خاورین | له خاورو جوړ شوی |
| 306 | خاوند | صاحب |
| 307 | خبری اتري | محاوره، گفتگو |
| **شمیره** | **لغت** | **معنی** |
| 308 | خبریال | د تازه خبرونو تلوونکی او لیکونکی |
| 309 | خرقه | د درووېشانو چینه |
| 310 | خړوب، خړوبول | موړ، سیراب، پنول، اوبونه، اوبه کول |
| 311 | خړوبول | اوبه کول |
| 312 | خشمیدل | قهریدل، غوسه کیدل |
| 313 | خصلت | خوی، عادت |
| 314 | خصوصیت | ځانگړنه، خاص والی |
| 315 | خط | لیک |
| 316 | خطاء | گناه، وبال |
| 317 | خلیفه | ځای ناستی |
| 318 | خمیر صندل | د قندهار په لهجه یو قسم شیرینی ده |
| 319 | خواجه | خاوند، بادار |
| 320 | خواخوږی | همدردي، دلسوزی، غمشریکی |
| 321 | خوار | عاجز، کم بخت |
| 322 | خوځښت | حرکت، نهضت، غورځنگ |
